# سپین

ناول

Ketabton.com

نور محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناول

# سپین

نور محمد تره کی

خپروونکی:

پښتو ادبي غورځنګ، کوټه پښتونخوا

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | :: سپین |
| لیکوال | :: نور محمد تره کی |
| کمپوز، ډیزاین او خپرونکی | پښتو ادبي غورځنګ، کوټه |
| د چاپ لړ | :: (۱۸) |
| کمپوزر | :: حبیب الرحمٰن تاثیر |
| د چاپ شمېر | :: (۱۱۰۰) توکه |
| د ړومبي چاپ | :: ۲۰۰۹م کال |
| د چاپ ځای | :: |


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غوره خنک یادښت

نور محمد تره کی د پښتو ادب هغه ځلانده ستوری دی چې په خپل وار سره یې پښتو ادب ته هغه رڼا وربخښلې ده. چې هر کله د پښتو کیسیز ادب ذکر راځي نو د نور محمد تره کي پنځوني به پاله پدره "هرومرو" ذکر کېږي. هغه په دې چې نور محمد تره کي پښتو ادب ته دومره په لوړه کچه ناولونه وړاندې کړي دي چې تر اوسه پوري پر دې ناولونو باندي څو لسیزي تېرې شوې دي خو دوی خپل ارزښت له لاسه نه دی ورکړی او تر څو پوري چي زموږ په ټولنه کښي نا انصافي او د بل پر حقونو تېری روان وي نو د خپلو انسانانو په لاره کښي به دغه ناولونه د مشالونو په څېر خپلې رڼاوې خپروي او د انسانانو په ویښتابه کښي به له ژوندیو انسانانو سره سم خپل رول لوبوي. ډېر د افسوس ځای دی. لکه څنګه چي نور د پښتو په زړه پوري آثار د بېلا بېلو ټولنو له خوا څخه خپاره سول او لا خپرېږي. خو تر اوسه پوري چا د نور محمد تره کي د ناولونو و چاپولو ته زړه ښه نه کړ. په دې اړه ډېر څه لیکل کېدلای شي. دلته څني ډډه کوو. د طالب چي اصل نوم یې اختر محمد دی. د مور دې شیدې سې چې په کوټه کښي یې یو وخت د کابل کتاب پلورنځي په نامه باندي دکان کاوه. هغه وخت د نیوي په لسیزه کښي یې د تره کي د څلورو واړو ناولونو کاپي د افغانستان د علومو اکاډمی له چاپ څخه په هم هغه بڼه چاپ کړل.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طالب دغه ګام به د پښتو په تاریخ کښې ژوندی ځکه پاته وي چې دا یوه داسي دوره وه چې دلته د افغانستان چاپ کتابونه د ځينو کړیو له خوا په شعوري ډول له منځه وړل کېدل. خو بيا را وروسته چا دا جرأت ونه کړ چې دغه کار يې په نوي بڼه کړی وای. پښتو ادبي غورځنګ په داسي وخت کښې دي کار ته اوړه ور کړه چې په اصطلاح اوبه لا تر ورخ نه دي تېرې سوې.

سپين په دوهم ځل په کال ۱۳۵۷ کښې د افغانستان د علومو اکاډمي لخوا د شل زره په تيراژ کښې چاپ سوی. چې زموږ پا ...ړاندي پروت دی. د سپين په لومړی چاپي نسخه پسې مو ډېره هڅه وکړه خو و مو نه موندله. سپين د نور محمد تره کي له ناولونو څخه يو داسي ناول دی چې زموږ د ټولني ډېري هغه ناخوالي چې له بده مرغه تر اوسه پوري زموږ په ټولنه کښې موجودي دي او زموږ خوار او ځپلي اولس لا تر اوسه پوري ورسره لاس و ګرېوان دي. يکښي څېړل سوي دي او تر څو پوري چې زموږ ټولنه د ويښتابه پړاو ته نه وي رسېدلې سپين به د پښتنو او نورو داسي ټولنو چې له دغه ډول ستونځو سره مخ دي ستر رول لوبوي.

پښتو ادبي غورځنګ وياړي چې د ستر ليکوال ارواښاد نور محمد تره کي سپين ناول په نوي او ښکلې بڼه پښتني ټولني ته وړاندي کوي.

په درنښت

پښتو ادبي غورځنګ. کوټه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپين

په کلي کي خورالوی شخول دی. هري خوا ته ځوږ دی. ځوک يوې خواته په بيړه درومي او ځوک بلي خواته ځغلي. ځوک د چا په خبره ښه نه پوهېږي او هر يو سر گردانه ښکاري.

د يوه ښکلي چمبر له مخه چي له کلي ځخه لږ وتلی دی يوه لويه ډله خلک ناست دي. چا سر کښته اچولی دی، ځوک بيا د خپل اړخ له سړي سره ورو-ورو پسپېږي او يو ځه ورته وايي. په دې ډله خلکو کي زياتره سپين پګړي دي چي له نورو شاوخوا کليو ځخه راغلي دي. د چا ږيري شناوي دي، د چا تکي سپيني او اوږدې دي، د چا ږيري بيا توري دي. دا يواځي د تورو ږيرو څښتنان دي، چي سرونه يې ډېر نه دي ځړولي، او يو ځه په هسکه غاړه ګوري. په دې ډله خلکو کي چوپه چوپايي ده چي يواځي کله کله ښهاري اورېدل کېږي او هم د خينو تسپو د ټکهاري په اثر آرامه فضا لږ ځه سره ووهله سي، او هم کله کله له ناستو کسانو ځخه کوم يو ارمېږي وکاږي او لږ ځه په زوره ووايي: "توبه خدايه! توبه".

دا چي سړی د کلي شخول او ځوږې ته ګوري او د دغه ځای سکوت او آرامي ته نظر وکړي حيرانېږي چي هلته ولي داسي حال دی او دلته ولي دومره په ادب سره خلک ناست دي او د يو شي لپاره انتظار باسي.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم وخت چې څوک د چمبر لويه دروازه پرانېزي نو د ښځو او ورو د ژړا وو او کوکارو خورا لويه څپه راووځي او د حاضرينو سکوت او آرامي مختله کړي.

په کلي کې څوبره له دې جهته ده چې د شاوخوا ديارو څخه يو ګڼ شمېر رانده. خواران. وږي. تږي راټول سوي دي او د دې انتظار باسي چې د حاجي... مړی به څه وخت ښخېږي. چې دوی يې اسقاط واخلي او خيرات يې وخوري. د غه خواران "نه په آسمان ستوري لري او نه په مځکه سيوری." دوی په رسم او رواج پروانه هم کوي. او لکه سپين پګړي او سپين کالي دومره مقيد نه دي.

په کوڅه کې خای په خای د دغو خورانو کوچني ډلې ناستې دي او يو بل ته کيسې او نکلونه کوي. د دوی زياتره نکلونه په دې برخه کې وي چې پلانکی سړی چې مړ سو نو خورا ښه خيرات او اسقاط يې پسې کړی و او يا دا چې پلانکی کنجوس و په خپل مړي پسې يې هيڅ ونه شندل.

په دغه وخت کې له چمبره د مرحوم يو سپين ږيری ورور چې په کلو کلو ورسره مرور و راووت او سترګې يې مبلې. داسې څرګندېده لکه چې خورا ډېر يې ژړلي دي او اوس لا هم ډېر غريب ورته درېږي او خپله ژړا نه سي کنټرولولای. او پر خپله مرورتيا يې افسوس کاوه.

له حاضرينو څخه يو معمر سړي مخاطب کړ او پوښتنه يې ورځنې وکړه چې:

"مړی خو لا پخوا پر ېمنځل سو. نو ولي جنازه نه راباسئ؟".

اخندزاده صاحب د دغه معمر سړي خبره پرې کړه او د مرحوم ژړغونکي ورور ته يې وويل:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



"کتاب وایي هر څومره چي مړی ژر ښخ سي ثوابونه يې ډېر دي، څومره چي ښخ ورسره ځنډ وکړي روح يې بې آرامه وي"، هغومره ډېر ويي نو که تلوار پرې وکړي دابه د مرحوم د روح د آرامی لپاره خورا ښه کار وي".

"موږ خو د صاحبزاده صاحب راتګ ته انتظار باسو چي د جنازې لمونځ ورکړي. سړی مو لا پخوا پسې استولی دی ګوندي اوس را ورسېږي".

ډېره موده لا نه سوه تېره چي له لیري يوه ډله راڅرګند سول. يوه له حاضرينو څخه وويل:

دا ډله چي راځي د صاحبزاده صاحب ډله را ته ايسي. راځئ چي موږ ورته تياری وکړو څوک که اودس نه لري هغه دي ژر اودسونه تازه کړي ځکه چي لمونځ به سمدلاسه کېږي.

وروسته له هغه چي د ټولو حاضرينو مخونه د هغې ډلې وخوا ته ورواوښتل نو دغه کسان تقريباً په يوه پلا ولاړ سول. څوک د کارېز د اوبو وخواته د اودس د تازه کولو لپاره لاړل او څوک د صاحبزاده صاحب مخې ته ورو-ورو وررهي سول چي د هغه هر کلی وکړي.

صاحبزاده صاحب پر يوه خورا ښه چاغ سره آس باندي سپور دی ده خورا لويه پنډه تکه سپينه پګړی داسي تړلې ده چي يو ول يې پر بل وله باندي دومره ښه نه دی راغلی خو د پګړی اخيري ولونو يې بيا انتظام مونډلی دی. د صاحبزاده صاحب کوچنی تک سور مخ په سور بخونه لويه ږيره او بيا په سپينه پګړی کي خورا کوچنی بريښي او سړی بايد د ده مخ دليدو لپاره ښه ځير سي. ده پر خپله پګړی باندي سپين څادر هم غوړلی دی چي د ده سر يې ښه ګرد او مسطح غوندي کړی دی. دی په عمر ديرش يا دوه ديرش کلن بريښي. د صاحبزاده تر شا څو نور کسان چي څوک په پښو ځي او څوک پر خرو سپاره دي. څو څو



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنه چې د هغوی پګړۍ هم سپیني دي د صاحبزاده صاحب د آس پر یوه او په بل اړخ روان دي او خپل قدمونه په خورا اوچت ډول د آس له قدمونو سره برابر اخلي. هغه خلک چې مخې ته یې ورغلي وو د صاحبزاده صاحب خورا تود هرکلی وکړ، او هر یوه د ده لاس ښکلاوه.

صاحبزاده صاحب بې له دې چې له آسه ځوړ سي خپل دواړه لاسونه یې یوې خواته او بلې خواته خلکو ته د مچېدو لپاره څړولي وو او د آس ملونه یوه مرید نیولي وه.

صاجنراده صاحب پر آس سپور په ګڼو خلکو کې د چمبر مخې ته را وررسېده، او لومړی تر دې چې له آسه ځخه کښته سي یوه مرید ته یې وویل:

"ورته ووایاست چې جنازه را وباسي".

وروسته له هغه چې خپله یوه پښه یې د آس له رکابه راوکښله او د مرید پر اوږه یې کښېښودله او بیا په وقار سره له آس ځخه راکښته سو.

د مرحوم ورور د ده لاس ونیو او هغه یې مچ کړ او وروسته له هغه څو قدمه پر شا ولاړ. بیانو د چمبر د دروازې خواته رهي سو، څو نور کسان هم ورپسې لاړل چې له هغه سره د جنازې په راایستلو کې مرسته وکړي.

صاحبزاده صاحب د ګڼو خلکو په منځ کې ولاړ وو او څو تنو ملا ډولو او معمرو کسانو چې د ده په خواکې په تعظیم سره ولاړ وو، د ده د ښه صحت او د ده د کاله او د تېر د ښه والي پوښتنه اوګرویږنه په خورا منیه سره کوله چې ده به ورته وویل: "د الله فضل دی په هر حال شکر دی بې له کفره".



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه حال کي جنازه را وايستله سوه. څرنګه چي د چمبر دروازه پرانستل سوه د ژړا او کوکو څپه په خورا شدت سره راووتله.

اديره له کلي څخه ډېره ليري نه ده. جنازه د مخه سوه او صاحبزاده صاحب او نور مشايعين په پسي روان دي.

د اديرې پر څنګ پر يوه پلن ځای باندي چي شګي يې پرې اواري کړې وې. جنازه په معمولي تشريفاتو سره کښېښودله سوه. سپين پګړي او سپين کالي ټول د جنازې سره نږدې شاوخوا ولاړ دي او سمدلاسه يې د لمانځه لپاره صفونه سم کړل. خواران او پښې لڅي لږ څه ارت ولاړ وو.

وروسته تر هغه چي د جنازې لمونځ د صاحبزاده صاحب په امامت ادا کړی سو نو ټول حاضرين د يوې حلقې په توګه د قبض لپاره کښېناستل او د قرآن کريم دوره شروع سوه.

د مرحوم ورور او خوزامن يې چي عمر يې ۱۰-۱۱ کلو ته رسېده صاحبزاده صاحب ته نږدې ناست دي. د مرحوم تر ټولو مشر زوی کوز ملک ته تللی دی او دلته حضور نه لري. د خدای بخښلي يو زوی لومړی د دورې د مراسمو تر ختمېدو ولاړ سو او د خپل اکا د هدايت سره سم کور ته په دغه مقصد ولاړ چي له کوره د اسقاط لپاره روپۍ راوړي. تقريباً نيم ساعت وروسته د مړي يو بل زوی ولاړ سو او د کور په لوري رهي سو.

يو څه وخت لا نه و تېر سوی چي يو بل زوی يې هم له دورې څخه جګ سو او د کور خواته روان سو.

د دورې مراسم له معمول وخت څخه زيات اوږده سول. دا ځکه چي د وېشلو لپاره پيسې تر وي رارسېدلې. صاحبزاده صاحب د مړي ورور ته سر ورنږدې کړ او ورته ويې ويل چي:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



"کوم شی د اسقاط لپاره حاضر دی او که یه؟ که وي نو ولي يې نه وپشئ چي مړی له خېره سره ښخ سي"

هغه ورته وویل:

"هلکان تللي دي چي پیسې راوړي. ګوندي اوس راورسېږي".

له پنځلسو دقیقو وروسته صاحبزاده صاحب بیا په یوه معنی داره کتنه ورته وکتل او دی سمدستي له حلقې څخه ولاړ سو چي په هلکانو پسې ولاړ سي او پیسې ژر راوړي.

کوم وخت چي د خلګو له نظره د کوڅو په دېوالو کي نهام سو نو يې خپل تګ شدید کړ او تقریباً په منډه د خپل ورور د چمبر خواته روان و. په سوې ساه په انګړ ورننووت او په وچ بږغ يې ناري کړې:

"کاني! سمته څه سواست؟ خدای مو خوار کړه، ژر سی چي د صاحبزاده صاحب طبیعت خته سو او نور خلک هم ستړي سول راوځئ چي خو".

خو د ده بږغ د ښځو په ژړا او د کوچنيانو په نارو او انګولاوو کي هیڅ اغېزه نه کوي. په یوه خونه کي چي هغه تشه وه ورننووت. څوک يې مونده نه کړل او بلي خوني ته وراغی چي یوه وربنداره يې د برج له زینو څخه په منډه او په نیولې او سوې ساه راکښته سوه او چي په خپل لېوره يې سترګي ولګېدلې نو لویه چیغه يې وکړه او ويې ویل چي:

"کور خو مي سپېره سو هلکانو سره مړه کړل. هله ژر سه دوی ټول په برج کي دي تر سرو يې سره نیولي دي او سره څکوي".

میر امد (د مړي ورور) په بیړه او تعجب او خواشیني د برج په زینو کي وروخوت او په ډېر تعجب يې ولیدل چي ښځي او



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلکان پرله کښنېي توی دي او يو بل سره کښېوي. (ميرامد) په زوره چيغه کړه او دوی يې له دغه ناوړه عمل څخه منع کړل او لاسونه يې يو د بل له څنو څخه وکښل. بيا ميرامد په قهر پوښتنه وکړه چي:

"دا د کور د ورانولو حرکات او جګړه د څه لپاره ده؟ ولي مو پيسې رانه وړې. چي خلکو ته سو وښلې وای؟ ټول خلک زموږ په انتظار کې دي.

سمټ (۱۱) کلن په داسې حال کې چې خوله يې له وينو ډکه وه او د سر ښکېدلي وېښتان يې په مخ او پزه پراته وو. ورته وويل چي:

دا حرموني ګوره (کاني ته اشاره) د خپلې شريري مور په مرسته غواړي چي نغدي روپۍ وتروښوي او هم ځيني غمي او د سرو زرو شيان پټ وساتي. او وروسته له وېش څخه هغه د خپل ځان په ګټه استعمال کړي.

خو د کاني مور سمدلاسه خو ګامه پر مخ راغله او پر سمټ باندي يې تو کړل او ورته يې وويل چي:

"د دروغجن مخ تور دی. ستا خپلې مرداري مور دا کار کړی دی اوس غواړي چي د نورو سپين کالي ور مردار کړي. نازک (لېوره ته خطاب) چي د هلکانو د پلار سالانه وه ختلې چي دغه پليته (خپلې بنې ته اشاره) راولاړه سوه او د خپل مېړه په جېبونو کې په کيلي پسې ګرځېدله چي د کوچني خوني ور خلاص کړي او هلته نغدي او جنس د زوی په واسطه د خپلې پلار ګنې کره وباسې. خو زه په دي پوهه سوم او دا مې له دغه ناوړه کار څخه راو ګرځوله. خو اوس چي (کاني) په پيسو پسې راغی او ما غوښتل چي ده ته پيسې ورکړم تا ته يې در وړي نو



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمدلاسه مور او زوی رابانـدي حمله وکړه او وې ويل چې مور غواړو د دوی حق پټ کړو.

ميرامد د دغه خبرو په اورېدو نور خواشيني او غمجن سو او ترک-ترک يې وژړل او په ژړا کې يې وويل:

"لالاجان پر دېره پروت دی او تر اوسه لا ښخ سوی نه دی چې زامنو او ماينو يې دغه حال اچولی دی. ټول سيالان او نا سياله پر اديره ناست دي او ټولي ښځي په خونو او انګړ کې د وير کولو لپاره ناستي دي او هري يوې په ژړا ستوني څيري کړي خو دخدای بخښلي ماينې او زامن پر پيسو سره خوري. او خدايه دا څه حال دی؟ اوس که دوست او دښمن راخبر سي خو پزه به مي شل خايه پرې سي. د ټول عمر او ټول کاله نوم به مي برباد سي".

د مرحوم ټولي څلور ماينې وې. د دوو ماينو يې دلته دغه حال دی او دوې نوري ماينې يې له پاتاخوانو سره ناستي دي خو دوی جسماً هلته ناستي دي او روحاً خورا په عذاب دي ځکه چې هره يوه دا تصور کوي چې هغو نورو دوو ښو يې خانونه ماړه کړل. او ډېر مال او جنس به يې ايستلي وي او دوی دواړه تش لاسونه پاته سوې.

ميرامد په بيړه يو موټی پيسې راواخيستلې او په تاخت د اديرې خواته راروان سو. په سوې ساه يې خان ور رساوه او سمدلاسه يې د پيسو په وېشلو پيل وکړ.

هر کله چې د ده ټول معنويات خراب سوي وو نو ده د پيسو په وېشلو کې دومره دقت ونه کړای سو او د دې متل په مطابق يې رفتار ونه کړ چې وايي: (برخي وېشه مړونه ګوره).

د اسقاط په وروستی مرحله کې د ملايانو او طالبانو ځوږ پورته سو او دغه کلمات اورېدل کېدل چې:



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په سپېدو کې راغلي يو تولـه ورځ مو ورتـه تېره کړه خـو اخـر يـې دومره شي راکړ چي هيڅ مناسبت راسره نه لـري. ارمـان مـي هغـه سـرګرداني وه چـي د مړي په پرېمنځلـو او کـښته پورتـه کولو کي مو تېره کړه".

يو بل ملا ورباندي ږغ کړ چي:

"څـه وکـړو وروره داسـي بـده زمانـه ده چـي هـيڅ تـصور يـې نـه کېږي. د سپين پګـړي او سپين کـاليو قـدر لـه منځـه ولاړ اوس يـې څـوک د پيـاز لـه نرخـه نـه پوښـتي. عالمـانو تـه اوس چـي د انبيـاوو وارثـان دي څـوک دوه توتـه اهميـت نـه ورکـوي. خـداي دی خبـر کړي بېربېږم چي پر دغو خلګو د خداى قهر نازل نه سي".

داسـي خرګنـدېږي کومـه برخـه چـي صـاحبزاده صـاحب تـه رسـېدلې وه هغـه د ده پـه طبيعـت سـمه نـه وه لګېـدلي او دغـه پيـسې يې چي ده تـه ورکـړې سوې وې د خـان تـر حيثيـت او مقام او د مړي تر بداېي توب ډېري کښته ګڼلې.

د خپـل نارضـايت د خرګنـدولو لپـاره يـې فرصـت مونـده کـاوه.

بيا ده خپل يو نږدې مريد ته وويل چي:

"ډېري رابانـدي وهـي، دومـره يـې سـرګردانه او لالهانـده کـړو اخـر ګـوره څـه يـې پـه لاس کـي راکـړې، دومـره انـدازه پيـسې خـو څـوک د حجـرې چـړي تـه ورکـوي او يـا يـوه بـل خېـر غوښـتونکي تـه يـې ورکـوي، داخـو د لنګـر د يـوې ورځـي خـرڅ هـم نـه کېـږي دغـو خـداى خـوار کـړو تـه دغـه حقيقت پـه يـو چـل سره ورسـوه او ښـه يـې پوه کړه چي څه بايد وکړي؟".

پـه دغـه حـال کـي د پيـسو وېشلو کـار چـي پـه خـواره ډلـه کـي توزيـع کېـده هـم پـاى تـه ورسـېده او خلګـو دې تـه هڅـه وکـړه چـي مړى قبـر تـه يوسـي. وروسـته تـر دې چـي مـړى ښـخ سـو د کلـي مـلا، صـاحبزاده صـاحب دې تـه راوبالـه چـي د مرحـوم د ژونـد پـه بـاره کـي



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ووايي او د ده ښه سړي توب ثابت کړي. ده لږ څه تندی تریو کړ او ورو یې له ځانه سره وویل چې "څه خبر مې ځني ولید چې دغه خدمت هم ورته وکړم؟".

بیا یو څو ګامه وروسته ولاړ غاړې یې تازه کړې او په وینا یې پیل کړ:

مرحوم خورا ښه سړی و، خپل پنځه وخته لمونځ یې کاوه بدای سړی و دا خو څرګنده ده چې د خدای رضا او بیا جنت په بدایي ګټل کېږي ځکه چې بدایان کولای سي چې ښه خېراتونه ورکړي او په دې توګه د خلکو او د خدای تعالی رضا حاصله کړي....

مرحوم دغه د خېر کار تر یوه حده پوري کړی و خو اوس د ده د وروسته پاته کسانو وظیفه ده چې دغه د خېر کارونو ته دوام ورکړي، او د هغه روح آرام وساتي".

بیا یې لاس پورته کړ او دعایې وکړه ټول حاضرین په خورا بېړه او شوق سره بېرته د کلي خواته رهي سول او د معمول سره سم دوی ته ښوروا، غوښې او ډوډۍ ورکول کېدله. د غوړې ډوډۍ او غوښو د خوړلو په امید د هغو خوارانو زړونه چې په هفتو-هفتو یې څه نه وو لیدلي او تود او غوړ نګولی یې خوړلی نه و خوشحاله او تاوده وو.

عامو خلکو ته په کوڅه کې ډوډۍ ورکول کېدله، او خواصو ته داسي ترتیب نیول سوی و چې د مرحوم په کور کې ډوډۍ وخوري.

کوم وخت چې خلک له ادیرې څخه بېرته د کلي خواته راګرځېدل نو د مړي ورور میرامد د هغه مرید له خوا چې د صاحب زاده صاحب له پلوه ورته هدایت ورکړی سوی و پوه کړی سو چې د ده عطیه (اسقاط) لږ و او باید د دې تلافي خورا په بېړه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسي. له دې جهته کوم وخت چې ډوډۍ وخوړله سوه نو میر امد یو موټي نوري پیسي هم ورکړې احمدا ډول يې نور معتبر او مشهور ملایانو ته هم یو څه پیسې بیا ورکړې. دا چې صاحبزاده صاحب ته دوهمه پلا بیا لاس ونیول سو او هم نورو ملایانو ته تکرار یو څه ورکړی سول نو سمدلاسه يې د مرحوم نور ډېر صفتونه او خصایل رابرسېره کړل او هر يوه د ده د سخاوت او مېړانې په یادولو پیل وکړ او په دغه باب کي يې يو زيات شمېر مثالونه راوړل او یوه ښاغلي وویل:

"صاحبزاده صاحب زما له زبانه يې کوه چي يوه ورځ د جمعه خان د کلا لمر خريکي ته ښه ډېر خلک سره ناست وو. چي مشکوندۍ توږۍ (يوه کونډه وه) راغله او ټول حاضرين يې مخاطب کړل چي ورته (۳۲) افغانۍ په پور ورکړي چي د يوه پوروړي غاړه په وباسي ځکه چي هغه عرض وربانده کړی دی او ماسلان يې په پسي کړي دي. د دې خوارکۍ اوبه په هیچا نه پوري وتلې تر څو چي دغه مرحوم جېب ته لاس کړ او هغه روپۍ یې ورته ورکړې.

په دې کي شک نه شته چي دغي توږۍ بیا درې چرګان او (۵۰) دانې هګۍ ده ته ورکړې او هم يې يو پاو کوچ وروړل. خو دلته خبره د ده په دې مېړانه ده چي ده بې له کوم ځنډ څخه دا خواره د ماسلانو له غمچيني څخه وژغورله او د ده مرسته د هغې د زړه ډاډ سو.

يو بل سړي را درسته کړه چي:

"خدای بخښلي خو د دغه ټول کلي او ديار پزه و. موږ او تاسي ته خو داسي و د يو غره په شان او درمانده يې هيڅ وخت نا اميده نه دی پرې ایښی. ده به هر چاته په پسرلي کي په سلم غنم ورکول. او په رشه به يې ورځني بېرته اخيستل. د ده سلم تر



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو تولو بداپانو کتور و. سوی سري هم نه و که به چاپه خپله تاکلې نېټه پوره ور ونه رساوه نو په پوره زړه او ورين تندي به يې تر کاله پوري پرېښود او يواځي د سلم تفاوت به يې يوه په دوه وشمېره چي البته دغه کار يې طبيعي او د معمول او رواج سره سم و".

له دغه ډول وينا ګانو څخه وروسته حاضرين ولاړ سول د ټولو ناستو کسانو موچني په وره کي ورسمې کړی سوې.

صاحبزاده صاحب دمخه او نور ټول خلک ور پسي سول په داسي حال کي چي ټول حاضرين پرې راټول وو دی په ډېر وقار د مريدانو په مرسته پر آس باندي سپور او ورو-ورو له خپلو مريدانو سره له ډلي څخه ليري کېده.

نور خبرات خواره هم سره تيت او پرک سول او سباته د پاتا تغرونه وغوړول سول چي له خلوېښتو شپو وير او پاتا څخه وروسته تغرونه بېرته ټول سول.

د پاتا اخيستلو په موده کي د مړي زامن. ماينې او لوڼي خو په آرامه نه وې ناستي. دوی به هره ورځ د يوشي او يا بل شي په پلمه په خپلو کي سره وهل او تل به خوار او سپين ږيری (ميرامد) له دوی سره په عذاب و.

کوم وخت چي د وير تغرونه ټول سول نو ميرامد خپل ورېرونه ورېرې او ورېندار ګاني سره راوغوښتلې و دوی ته يې په نصيحتونو او وينا کولو شروع وکړه.

ميرامد د دوی دغه ناوړه حرکتونه او په خپلو کي پرله پسې جګړې خورا وغندلې او دوی ته يې وويل چي:

"پلار مو دومره مال او نغدي پيسې درته راټولي کړې دي چي هغه نه يواځي تاسي نسيّ تماملای. زه پوره يقين لرم چي ستاسي لمسيان يې هم نه سي خلاصولای نو ستاسي څه بې بختي



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وار ده چي په خپلو منخو کي سره خوري او ټول ديار پر خان باندي خندوي. تاسي خو زما او زما د ټول کاله او ټبر پزه هغه وخت راغوخه کړه چي مړي لا پر دېره پروت و او تاسو د ميراث اخيستلو او د لويي بر خي لاس ته د راوړلو لپاره جګړې کولي.

ښځو يوې د بلي کوخي وشکولي او هلکانو د يو او بل څمي غونچه - غونچه وکښلې. خان دي وخوري دغه مرداره دنيا چي تاسي يې په سرګرداني او خګرخوني اخته کړي ياست. په دې بايد ټول پوه شئ چي زه اوس د خپل مرحوم مشر ورور پر خاى ناست يم بايد تاسي ټول اوس زما د وينا او توصيو احترام وکړئ. او وروسته له دې داسي کار ونه کړئ چي هغه ستاسي د ټول کاله په زيان تماميږي".

د مړي مشري ښځي يعني لومړنى ماينې پروني سره راټول کړ او په داسي حال کي چي د خپل تکري يو غوږ يې په خوله کي نيولي و په يوه لوړ خو ژړغونکي غوندي ږغ ورته وويل:

"د روپيو د صندوق کلي د ګلالي (د مړي د کشري يا وروستي ماينې) سره ده او هم د قبالو او نورو سند کلي د ښايستوګۍ (د مړي دريمه ماينه) سره ده موږ په ټبرو څو شپو کي وليدل چي دوى دواړو خپله چاره وکړه او هر څه چي يې زړه وو هغومره اندازه مال يې تر ګوندې لاندي کړ. هر څومره چي موږ لاس وپښي وهلي خو چا راته غوږ ونه نيو او زموږ دغه اظهارات يې سپين ستر ګي وبلله. خو اخر موږ هم د خداى بخښلي په نامه يو او زوزاد لرو او په دغه کور کي مو پوره حق شته. په دې زموږ ښه يقين دى چي که وضعيت هم دغسي پسې دوام وکړي نو موږ او کمکيان به مو سره لمر ته ووځي نو هغه وخت خو به بيا سيال او نا سيال په تاسي خاندي خداى مي دي خپل زوى (سپين) ژر راولي".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهمي ورپنداري يې ورته وويل چي:

"ته بايد موږ ټولو ته په يوه ستر ګه وګورې. د خداى بخښلي اولاد ستا زامن او لوڼي بلل کېږي. داسي نه وي چي څوک دي د زړه ټوټه وي او څوک دي د پرين. تر ټولو ښه خبره دا ده چي زموږ لاسونه سره وکاږې ځکه چي هلکان ټول کمکيان دي او وينه يې توده ده زما هلکي خو تر ټولو کمکي هم دى موږ بني هم يوه د بلي خبره دومره نه سو سره زغملاى. خداى دي نه کړي چي يو ورځ ته راخي نو پر سرو کوپړيو به راشې".

په دغه مجلس او ياد کور او کاله په خبرو کي د مړي له (۱۴) زامنو چي يو يې هم له ۱۰-۱۱ کلونو څخه ډېر عمر نه درلود او د څلورو لوڼو څخه شپږ زامن او درې لوڼي حاضري وې. دوى به کله-کله په خبرو کي ورولوېدل او د خپلو ميندو په تاييد او د ميروګانو په ترديد به يې په عصبانيت سره خبري کولې. دا لس دوولسو کلو هلکانو خو به لاسونه سوک کړل او پورته به يې ونيول او ناره به يې کړه چي:

"موږ به خپل حق چاته نه پرېږدو او که څوک د دې کار د کولو هڅه وکړي نو ماغزه به يې ورباندي توى کړو".

مير امد وويل چي:

"اوس يو پر بل مه سره غور ځئ زه به ستاسي چيټه (پرېکړه) ژر در وکړم. کوم وخت چي نور هلکان هم راسي نو زه به تاسو ټول يو ځاى سره کښېنوم او ستاسي حقيقي وضعيت به تثبيت کړم".

په دې وخت کي د بداى کاله وضعيت ورځ په ورځ خرابېده او د دغه د اعضاوو تر منځ بې اعتمادي ډېرېده. د ښځو دعوې او د هلکانو د کور او صحرا جګړو د ټول کلي په تېره بيا د خان او د کلي د ملا توجه خان ته راواګرځوله. هغوى غوښتل چي د دوى له



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جگړو ځخه ناوړه ګټي وکړي. او په دغه ډول نس او جېب ډک کړي.

د ميرامد مشره ورېندار څلور زامن لري چي مشر يې (۲۳) کلن او کشر يې لس کلن دی. د مشر زوی نوم يې (سپين) دی چي د پلار د مړيني په وخت کي دلته نه و. دی خورا زړور، په زړه کلک او بې ميني غوندي سړی بريښي. او په خپل ټول کاله کي هم په دغو خويونو مشهور دی. دغه زلمی که څه هم بايد د زلميتوب ټول صفتونه ولري خو خورا حريص او په دنيا مين دی. خورا ټينګ هم دی او دغه يې عادت دی چي په هر څه او په هره توګه چي وي بايد پيسه لاسته راوړي. د ده مور هم د ده په شان ده او د خپلو بنو او بنزيانو وجود يې خورا بد ايسي او دوی ټول د خپلي هوسايي لپاره يو لوی مانع ګڼي.

کوم وخت چي د (سپين) پلار لا ژوندی و ده او مور به تل داسي لاري چاري لټولې چي د هغوی په واسطه وکړای سي چي خپل دښمنان (بنزيان) او (بني) له منځه ليري کړې او يا يې څه نا څه تر خپل کامل نفوذ لاندي راولي. د مور او مشر زوی دغه فکر په تېره بيا په هغه وخت کي خورا شديد سوی دی چي د سپين پلار مړ سوی دی. دوی خپل د زړه خواله د بل هيچا سره نه کوي او نه کوم بل زوی او لور په خپلو دغو خواهشاتو خبروي. دوی دواړه بې له دې چي يو تاکلي پلان جوړ کړي. دې ته اميدواره دي چي يوه ورځ به خپل مقصد ته ورسېږي او يو خورا مسعود ژوند به يې په نصيب سي.

ځکه چي سپين تر ټولو سکه او نا سکه ورونو ځخه مشر دی. نو ځکه تر ميرامد وروسته ټول ده ته يو څه په د ِنه ستر ګه ګوري. خو په دې هم مشهور دی چي که يې لاس ورسېږي خپلي



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا سکه خوبندي. میندي او وروته به الووی کړي او خولې ته به یې واچوي.

د دوی چمبر دوه انګړه لري. چې یو یې د ننه انګړ دی او بل یې د باندې او ښئ خواته یې د میلمنو کوټه ده. د (مرحوم) دوې مایني دننه په انګړ کې دي او دوې نوري یې په دباندې انګړ کې اوسي. هره ښځه جلا - جلا کوټه لري خو د دوی پخلی ټول په یو ځای کې کیږي او وار په وار یې پخوي د کور او کاله شیان په دوی کې وېشلي سوي دي. مثلاً د اوړو د کوټې کیلي د یوې ښځې سره او د لاندې او نګوټي د شیانو کیلي د بلې ښځې سره همدا ډول چای او بوره له بلې سره او د شیدو او مستو واک او اختیار د بلې سره دی.

د دوی د پخلي په وار د ځای د جارو کېدلو په وار او د پسونو او غواوو د زېرمې کولو په وار باندې هره ورځ داسې جنجال. دعوې او حتی جنګونه وي چې یو قیامت جوړ کړي دا دعوې او جګړې اوس تر پخوا بېخي ډېرې سوې دي. او کوم وخت چې دوې ښې دعوې سره شروع کړي نو د هغوی لوښي او زامن هم راټول سي او په خورا نفرت او کینه د خپلې مېرې په مقابل کې درېږي او هغه ډول سپکې خولې ورته پرې کوي چې په هیڅ کتاب یې روانه وي کله - کله خو داسې وي چې د ښځو کوڅې وخېژي او د هلکانو سرونه سات سي او وینې پرې وبهېږي. څکه چې د (مړي) دوهمه ښځه یواځې یو زوی او یوه لور لري چې هغه هم (۶) کلن او لور یې (۸) کلنه ده نو څکه دا تل د خپلو بنزیانو او بنو له لاسه وهلې رټلې وي. دا ښځه که یوه ورځ دعوې وکړي نو دوې درې شپې په خپله بېکسي ژاړي. او د انګړ په منځ کې ناسته وي او سوتونه کوي. او د دې په سوتو کې چې زوی او لور هم برخه واخلي نو یوه عجبه منظره جوړه سي.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



( سپين ) د خپلې مور . او ورونو او خويندو سره په دغه انګړ کې استوګنه کوي. يوه ورځ يې مور ورته وويل چې:

"تر څو به دغه خوار او د شنه زړه ژوند تېروو. زما ډېري بدي طالع دي خواني مې دي د پلار سره خاوري کړه. کوم وخت چې يې زه راودولم پلار دي هيڅ شي نه درلو. يو زوړ يابو يې و چې د منجاريتوب سودا به يې په شاوخوا کليو کې وربانـدي ګرخوله او خرڅوله به يې. يو څه لږ مځکه يې چې درلوده هغه يې زما د ولور دا د کولو لپاره حرڅه کړه. ډېر تريخ ژوند او تنګيساوي رابانـدي تېري سوي. خداى پاک زما پلو او کوخې ستا په پلار پوري نېکمرغه کړ و او يو وار يې بېړى وچلېدله او په څو کلو کې د ډوډۍ خاوند سو چې بيا البته خورا غټ بډاى وګرځېده. د ده بډايي زما د بدبختي موجب سوه. هر څومره چې يې دنيا ډېرېدله هغومره د ده د ښځو کولو هوس زياتېده تر څو چې خبره دې اندازې ته ورسېدله چې زه يې اوس د داسې مشکل سره مخامخ کړې يمه. هر څه چې دي د لاسه کېږي ژر يې وکړه چې لږ څه مو غوږونه په آرام سي او پاته شپې ورځې مې په هوسايي تېري سي".

سپين په مينه خپلې مور ته وکتل او په يو خوږ او له مينې ډک برغ يې ورته وويل:

"زه په دغه خصوص کې له خپلو خينو نېتيانو سره په صلاح او مشوره اختــه يم. زمادغه دوستان او اشنايان ماتـه سمې لارې لټوي او غواړو چې دغسې يو چل جوړ کړو چې د شتمنى ډېره برخه موږ واخلو. دا ځکه چې ته په خپله وايې چې له پلار سره مې دي سختي او نا آرامه شپې تېري کړي دي او د اوسنى شتمنى بنسټ تا ايښى دى. نو تر ټولو موږ زيات استحقاق لرو چې د ميراث لويه برخه موږ واخلو".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپين دغه خبره پر مور باندې ډېره ښه ولګېدله او په دې چې زوی يې هم له مور سره همفکره دی ډېره خوشحاله سوه. مور يې په داسې حال کې چې خپلې لور (تورپېکی) ته يې د چايو لپاره بږغ کاوه داسې وويل چې:

"رښتيا خبره خو دا ده زويه چې اوس نو له خدای پاک څخه دا غواړم چې خپل ځان ته کور ولرم او خپلواکي ژوند تېر کړم او له دا دومره کړپ او کړوپ څخه مې غوږونه په آرام سي خپلې نږندې راته ګرځي او زه د هغوی زېرمه کوم. دا مې په ټينګه پتېيلې ده زويه چې ځرنګه له دغه مردار ږنډ څخه خلاصه سمه دستي به کوزده در کوم چې خدای مې په لمسيانو پته کړي".

په دغه وخت کې تورپېکی رانوتله او دوې پيالې او يوه شنه پيتلې چاينکه يې د مور او مشر ورور په مخ کې کېښودلې او سمدلاسه يې په سوک-سوک پيل وکړ او په ژړغونکي بږغ يې مور ته وويل:

"(خړ) په ځاپېړه ووهلم او په خپله يې منډه کړه دباندې ووت. ماته په لاس رانه غی که نه نو ما به يې حق په لاس ورکړی وای. که لالاجان (مقصد يې سپين و) د ده غوږونه تاو نه کړي نو والله خو به يې کلک ووهم".

مور يې پر باړخو ښکل کړه او د هغې سر يې په خپل تهمر پوري ونيو او په مينه يې ور ته وويل:

"د زړه سره مه ژاړه. هغه شيطان تو زه پېژنم. کور ته چې راسي ستا کسات به ورځني واخلم ته چې زما غوندي مورکی لرې څه غم يې ژاړې".

دوی په دغو خبرو کې وې چې د سپين يو کوچنی ورور په منډه راغی او سپين ته يې وويل:



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خان صاحب په وره کې ولاړ دی او نا غواړي".

ده سمدلاسه د چایو پیاله کښېښودله او ژر ژر یې موچنې په پښو کې او په زغرده وره ته وراغی. له روغبړ او هر کلي څخه وروسته یې ورته وویل:

"راځه د ننه کور ته لاړ سو. د مېلمنو خونه لېږ څه ښه نه ښکاري خکه چې هره ګړۍ لوی او واړه په وخې او ننوخې. ادې ښه چای پوخ کړی دی او ځای هم بې غمه دی".

په داسې حال کې چې خان صاحب یې تر څنګ را روان دی دوی دواړه د خوني وره ته راغلل او (سپین) مور ته یې غږ وکړ چې خان صاحب ورسره دی باید ژر نیالی او څنګوانې برابر کړي.

بیا یې خان صاحب ته وویل چې "بسم الله در ننوځئ" هغه هم چې ور ټیټ و سر کښته کړ او په خونه ورننووت. لومړی تر دې چې پر تازه اچول سوې نیالی باندې کښېني. خان صاحب نوک ونیو او د سپین مور ته یې وویل چې:

"سپین سرې ستړې مشې! له رنګه خو اوس ښه راته ایسې. ګوندې د مړي له غمونو او خواشینیو څخه اوس خلاصه سوې یې. خدای دې زامن لره. ته باید د دوی په وجود ژوندی پاته سې. او هم خوشحاله اوسې چې زامن دې خیني زلمیان دي او خیني د غویو له پښو څخه وتلي دي".

له دغه وینا وروسته یې لومړی د اوږې ځادر پر څنګوانې واچاوه او بیا پر نیالی باندې کښېنوست. خپله مشهدي لونګۍ یې چې پر یوه کلکه چکنې خولۍ باندې یې تړلې وه له سره راکښته کړه پر خپله ګونډه باندې یې کښېښودله. لومړی تر هغه چې خان صاحب بیا په وینا خوله پرانیزي د سپین مور ورته وویل چې:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خدای دي دا ستا غوندي ننګيالي خانان د دغو خلکو له سره نه کموي. په تاسو مو آب خوندي دی. د قوم د عزت لمن تاسي پاکه ساتئ. ستا هغه نېکی او ښې مرستي چي د سپين له پلار سره دي کړې دي زموږ نه هېرېږي. د سپين پلار (خدای تعالی دې وبخښي) په محکمو کي دومره لاس او پښې نه سوای کولای او تل به يې له تاسي څخه مرسته غوښتله. اوسنی زمانه خو خورا خرابه زمانه ده. که دي چاته پور ور کړ نو داسي يې وګڼه لکه په خره سپره بدي چي رانيسې".

بيا يې زوی ته مخ راواړاوه او په يو ډېر غوندي اواز يې ور ته ووېيل

"دغه لڅ ليږ. پښې لڅي چي ګدلي يې په شلو لارو سره تللې او د ګدلې په هر کوټ کي يې په زرهاوو سپرې دي داسي ساده او سازي شيان مه ګڼه. دوی هيڅ وخت زموږ په شان له خلکو سره چي يو څه ګوله ډوډۍ خدای ور کړې ده دوستان نه دي که زموږ مال په لاس ورسي هغه بيا په اساني بېر ته نه ور کوي. ګومه ورخ چي اړسي او کوچنيان يې له لوږي ناري ور ته وهي او په خپله هم په نس نو کاري لګوي نو د شپې ننواتي راسي او يو څه په سود وسلم غواړي خو هغه وخت چي د سلم د ادا کولو او يا د سود ور کولو نېټه يې راسي نو خان يوې خوا او بلې خواته کوي. او په زور پلمې جوړې کړي. هيڅ ورباندي نه شته. نو په دغسي حال کي هم دغه خانان صاحبان دي چي زموږ سره مرسته کوي او دغه ډول خدای خوار کړي خلک محکمې ته سپاري او هلته يې په يوه ګړی ور څخه واخلي. څکه چي په شريعت او اصولو دواړو موږ ته پېره وي. او هم د خپل حاکم په خوله کي يو څه ورواچوو.



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د دغه خان صاحب هغه ښځګنې او مرستي چې په سوو پلا يې ستاله پلار سره کړې دي موږ نه سو هېرولای. که دوی نه وای او حکومت (چې د خدای د عدالت سیوری دی) نه وای نو دا لوچکانو او مزدورانو به زموږ بدایه طبقه ېخي ور که کړې وای. او نن ورځ به موږ دغه مخکې باغونه. نغدې پیسې او جنس نه درلودی".

دې ستاینې او نرمو او پستو خبرو خان صاحب ډېر خوشحاله کړ او ده ته يې زړه ورټول کړ او په خورا خوشحالی يې وویل:

"خو ستا پلار دي خدای وبخښي په دې ښه پوهېده چې خپل غنم څه وخت باید خرڅ کړي او په چا یې باید وپلوري. ده خدای بخښلي هیڅ وخت په مني چې ریشې به واخیستلی سوې غنم به چا که څه هم په سرو زرو به يې غوښتل نه خرڅول. څرنګه چې به د (بچه ګرو) وخت سو د کندوانو خولې به يې ایله کړې هره ورځ به د ده د کور مخ ته خورا لويه ډله ښځې او نر ناست وو. او دا ټول به ده تر له تېر کړو. که څه هم په دغو معاملو کې موږ هم تر ده وروسته نه پاته کېدو خو ده ته خدای عجبه ستاره ور کړې وه. خو چې د دنیا له کاره دې را ایستلی وای نو داسې يې وبوله چې د علاقداری د لیکونکې په مخ نه سو ورتلای او خپله خبره يې نه سوای ادا کولی. نو په دغه وخت کې به يې له ما څخه مرسته وغوښتله او ما به په دغه نسبت چې یو آبداره سړی او د دونه دنیا څښتن و. ملا ورسره وتړله او هر چا چې به لږ څه مزغی کړاوه او یا به يې د خپل سلم په اداکولو کې خان دوري – دوري کاوه نو سمدستي به مې د ماسلانو په لاس ور کړ او تر هغه به يې ډباوه چې د ده سره به يې سمه لاره ونیوله او دا به يې ومنله چې په هره توګه چې وي د ده پور ور کړي. نو دلته چې کوم شی ستا مور وواېه هغه



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مازي وينانه وه بلكي دغه تولي رښتيا دي. كه موږ يو پر بل ځنگ سره ونه لګوونو دغه خداى خوار كړي بزګران به مو ژوند تريخ كړي. ځكه چي دوى ډېر دي او موږ لږ. د يوه او د سلو خونه سره كېږي، خو د دوى په خوله كي خورا ښه ملونه زما او د ماسل غمچينه ده او بس..."

بيا وروسته له هغه چي د نسوارو يوه لويه كپه يې خولې ته اچول غوښتل، و يې ويل چي:

"هو زما خو د چايو پياله سړه سوه په خبرو كي مي هر څه هېر سول". نسوار يې بېرته په ډبلي كي واچول او بيا يې وروسته له هغه چي د چايو غړپ يې وكړ او پياله يې بېرته پر مځكه كښېښودله و يې ويل:

"دا چاى خو سوړ سوى دى، ښه ما و تا څو پلا د مخه يو څو خبري سره كړې دي او په دې برخه كي مو خبري كړې وې چي اوس ستاسي د كورنۍ جنجالونه چي تر پخوا ډېر سوي دي څه ډول ورك كړو. او ستا د ميندو او ميرېزو ورونو چيتې څه ډول وكړو. بيا زه ولاړم محلي حكومت ته ځكه چي د هغو خلكو په فقره خو به خبر يې چي هغوى څه وخت لوږې يو څو مړي كړي وو. فرصت مي ونه موند چي بيا له تا سره په دغه خصوص كي مفصل و ږغېږم".

سپين چي د مړو د فقرې خبر واورېده نو په مينه يې پوښتنه ور څخه وكړه چي:

"رښتيا هغه مو څرنګه كړه؟ خلكو ويل چي خورا لويه فقره وه او بېخي درنه سوې وه، خورا ډېر خلګ په كي نيول سوي وو".

خان صاحب په يوه داسي ږغ ورته وويل چي له هغه څخه د ده او د ده په شان د نورو خانانو فتح او برى څرګندېده:


(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



"سپینه! دا خبره ښخي رښتیا ده چي رمه تل شپه په کار لري. که شپانه په منځ کي نه وي نو ومنه چي د پسه ساه به د نړي له مخ څخه واخیستله سي. همدا ډول که موږ خانان او خانزاده ګان په منځ کي نه یو نو د دغو خلګو حال او احوال به خورا راته پرېشان ښکاره سي او ماسلان به یې داسي سره څیري لکه لېوان، چي مېږي سره څیري. تر ټولو لا عجبه دا ده چي موږ دغه خلګ له دومره لویو بارو او له دومره لویو مسولیتونو څخه خلاص کړو. بیا هم د مصرفو جلاوې نه پرې کوي. او هر څوک لا وایي هله خانه کور دي خراب سه. هغه خانه چي (ستاارتینه...) نو د دغو مړو فقره خورا لویه او درنه فقره وه. ډېر غټ غټ مامورین د یو پیاوړي هیت په توګه راغلي وو، خو د خدای په فضل او د مېړو په برکت دا لویه قضیه مو داسي فیصله کړه. چي والله که هیچاته چا داویلي وای چي له دغه ځای څخه ولاړ سه هلته کښېنه، هو! دا ټول د مړو برکت دی که نه موږ څه شي یو. خو البته په دې کي شک نه شته چي لګښت او مصرف نو هم ښه بې دریغه وسو، ته پوهېږې چي داسي فقرې خو بې له لوی او درانه مصرف څخه د ډېرو خلکو په ښو کي زولنې وراچوي. موږ د خدای په فضل داسي سوک تر ویوست چي والله که یې بیا څوک نوم واخلي".

سپین په داسي حال کي چي مور ته یې ویل چي لږ څه تود چای راوړې خان صاحب په مینه مخاطب کړ او ویې ویل:

"فتح او بری. دا خو جوته خبره ده چي خوله او ژبه خورا لوی کارونه کوي، تور سپین او سپین تور ښودلای سي. خو دا باید ومنله سي چي پیسه هر څه کولای سي. کله - کله به زما پلار ویل چي پیسه د سړي هر عیب پټولای سي".

دا په ښه ډول څرګنده سوه چي د خان صاحب په دغه بري باندي د سپین اعتماد نور هم ډېر او ټینګ سو او دغه یې د خپل



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار او مقصد د لاس ته راوړلو لپاره یوه ښه نمونه وبلله او په ډېر ښه زړه یې مور ته وویل:

"ادي جانې! زه د خان صاحب سره لږ څه د زړه خواله کوم. دا به ډېره ښه سي چې نجوني او هلکان دې خوني ته رانه سي او زموږ په مجلس کې راونه لوېږي. نو که تاته زحمت نه وي نو د باندي انګړ ته ورووزه که څوک دلته زموږ کوټې ته راتلله مه یې را پرېږده".

د مور ښه یې سره سوه او په داسي حال کې چي لږ څه پرله و اېشېده ورته وېې ویل چي:

"هماغه د پلار خوېونه درسره خي. د هغه دا قاعده وه چي تل به یې اوبه تر پروړو لاندي بېولې او هېڅکله یې په موږ باندي باور نه درلود. هر څه کار یې په نهامه کاوه. که د خان صاحب مخ ته مي نه کتلای نو وپوهېږه چي خورا ستره جګړه به مي درسره کړې وای".

دا خبري چي یې خلاصولې نو د خان صاحب پیاله یې بیا ورډکه کړه. او ولاړېدو هڅه یې وکړه. زوی یې په مینه ورته وکتل او وېې ویل:

"سږه سینه ښه ده. موږ ټول ستا یو. خو ته فکر کوې چي موږ له تا څخه کوم پټ پټاني لرو. یه. داسي نه ده. زه به د خپلو ټولو خبرو لنډیز او مقصد تاسي ته سمدلاسه ووایم".

"خان صاحب خو زموږ دوست او خواخوږی دی. هر څه چي ده په لاس راکړل هغسي به کوو. ځکه چي دی په هره سوړه بلد دی".

مور یې په دغه ډول دلاسا سوه او په ښه زړه دباندي ووتله او خپلو دوو لوښو ته یې د چرګانو د زېرمي دا وویل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپين د خان صاحب څنګوانښي ته ښه نږدې سو. او په داسي حال کي چي د خپلې خولې ناړې يې غړچ تېرې کړې ورته وويل:

"ښه خان صاحب! دا متل به دي اورېدلي وي چي "څراغ يواځي خپله شاوخوا رڼا کوي". خو تر خان لاندي خايونه يې هماغسي تياره پاته وي. په دې کي موږ شک نه لرو چي ستا خبر خو ټولو ته رسېږي خو موږ لږ څه در څخه هېر سوي غونډي يو. که ستا په ياد وي څه موده پخوا دي راته ويلي وو چي زموږ د کور کاله جنجالونه به ژر رافيصله کړې. خو بيا ته په نورو خبرو کښېوتې او موږ ته دي هيڅ پام نه سو. اوس دغه درته وايم چي د پلار دنيا مي هر چېري ويره غوړېدلي پرته ده. او د رسد وخت هم راغلی دی. داسي ګومان کېږي چي څلورمه برخه حاصل به يې په لاس رانه سي. ځکه چي زما مېرې ګاني او د دوی زامن او لوڼي خورا په زړه تور دي. سپي ته يې اچوي خو پر ما او زما پر ورونو يې نه ده پيرزو، زه يې وينم او په غوږو يې اورم چي هره يوه خان ته ګوډانه ډکوي. د خپلو پلرو کره تغدي او جنس لېږي چي بيا يې په درد وخوري. سږ کال به د پالېزو عايدات څلورمه برخه په لاس رانه سي. او نه مو د باغونو حاصلات په پوره اندازه وليدل. نو داسي يو چل به جوړوې چي زموږ برخه درنه او غونډه سي ځکه چي ته دغه کارونه په اسانۍ کولای سې.".

خان د سپين خبره پرې کړه او په يوه صميمانه ږغ يې ورته وويل:

"په دې کي خو څه شک نه لرې چي زه هر څه کولای سم. د خدای په فضل هرې خواته چي مخه کړم يوه لاره په کي وباسم. دلته خبره په تا او ستا په خوانۍ پوري اړه لري. زه يقين لرم چي پلار به درته ويلي وي چي ماله ده سره څومره نېکي کړې وې. ده



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي دا دومره شتمني سره راټوله کړه دا يې زما په اوږه راټوله کړه. اوس تاسي د کلي د کارېز له څلورو برخو څخه دري برخي خورئ دا زما په همت. په دغه کارېز باندي پخوا شپاړس شلو کسو ژوند کاوه. خو کوم وخت چي خداى پاک ستا پلار ته وکتل نو له هر يوه څخه يې ټوټه - ټوټه مځکه ورو - ورو راونيوله تر څو چي اوس د زمري برخه ستاسي ده.

دا کارېز لا څه کوي د خداى په فضل مانور کارېزونه هم ستا پلار ته رانيولي دي. که به چا خوله سره خلاصوله او يا به يې ستا د پلار سره کومه لاندي باندي کوله نو سمدلاسه به مي داسي بېزوګان داوړو لېوان ورته جوړ کړل چي دستي به يې لکي مړه سوه. دا ځکه چي زه خو ستا د دعاله برکته په محکمو کي مخ لرم او مامورين مي هيڅ خبره په مځکه نه اچوي".

خان صاحب ساه واچوله او غوښت يې چي بيا خپلي خبري ته پسي دوام ورکړي خو سپين د ده په خبره کي ولوېدى:

"تا دلته زما خواني ته اشاره وکړه نو خان صاحب تا ته دي دا معلومه وي چي زه خو خان ستا ډېر مخلص ګنم. ستا مقصد له (لاس سره) څخه دى. هغه خو مالا تاسي ته پخوا ويلي وو چي په دې باره کي تاسو فکر مه کوئ، هر څه لنګى او (لاس سره) چي ته غواړې زه حاضر يم. چي در ته دريې کړم. خو دومره ډاډ راته راکړه چي که زمونږ خبره محکمې ته لاړه او له نور کاله سره مي خبره جګه کړه نو ته به مي په څنګ درېږې. لومړى خو زه فکر کوم چي دلته به ستا د صاحبزاده صاحب او ملا صاحب په مرسته مقصد لاس ته راسي او که چېري ونه سو او دوى د نورو په لمسون زمونږ د مقصد په لاره کي خنډونه اچول نو هلته به البته... ".

په دغه وخت کي د انګرېزد دوره تېکهارى د دوى تر غوږو سو او دواړه يې له دې چي څه ووايي يوه ګړى پټه خوله پاته سول، او



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر يوه دا فكر كاوه چې دا به څوك وي چې ورتكوي. خو خان سمدلاسه وويل چې:

"ها! هاها! ومې پېژانده چې دا ور څوك ټكوي دا به ملاصاحب وي. زه خو وايم چې زه تل ستا خبر غواړم او ستا د كتې لپاره هر ډول فكر كوم. نن غرمه ما ملاصاحب ته ويلي وو چې ماپښين به دلته دواړه راخو. ملاصاحب راسره وعده كړې وه چې د ماپښين له لمانځه وروسته به راسي... خان لا دا وينا اخر ته نه وه رسولې چې د سپين مور رانوتله او لږ څه په اضطراب يې وويل:

"په وره كې ملاصاحب ولاړ دی. نجونو ور خلاص كړ او هغه رانووت چې دغه دی اوس دستي به راورسېږي. كه ستاسې خوښه وي زه به هغه بلې خونې ته بوځم".

خان سر وښوراوه او هغه يې په دې پوهه كړه چې دی د خان په غوښتنه راغلی دی، په دغه حال كې ملاصاحب په وره رانووت. د رانوتلو په وخت كې يې په لوړ ږغ وويل: "بسم الله...".

ملاصاحب سپين كالي اغوستي دي او سپينه پګړی يې تړلې ده او هم يې د سپين ماغوت يوه سدری اغوستې ده، چې په هغې كې ژېړي تنۍ له ورايه برېښي. يو سپين څادر يې هم پر اوږو پروت دی په دې كې شك نه شته چې دغه سيان ټول سپين دي خو خورا خيرن دي په تېره د پګړی ولونه يې خيني ځايونه خيرن او ځيني ځای بيا سپين كوتان لري.

ملاصاحب ته سمدلاسه بلنه نيالي او څنګوابنې كښېښنودل سول او لومړی تر هغه چې كښېني جيب ته يې لاس كړ او يو خيرن نسواري دسمال د تورو نسوارو يوه كوچنۍ بښيښبه يې راو ايستله او هغه يې د نيالې پر ژی باندې واچول او بيا يې د خپل



كتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادر يوه خنده كش كړه او كښېناست او هغه يې پر خپلو پښو او څنګنو باندي خپور كړ.

په داسي حال كي چي د كوچنى ښېښې څخه يې په خپل ورغوي كي تور نسوار راتوېول دغه كار يې په خورا خوند او پوره زړه كاوه. خان ته يې وويل:

"و بخښه لږ څه ناوخته سو. خلك خورا سپين ستر ګي سوي دي، رښتيا چي زمانه اخره ده. خداى مو دي ايمان ته خير پېښ كړي. قضيه دا وه چي د لمانځه څخه وروسته يوه ښيلي (لاتړون) دماجت د يوې برخي د جوړېدو مسله راپورته كړه. هغه ويل چي دغه مصرف بايد د كارېز په شواروزو (شبانه روز) جلا كړل سي او هغه دي د مځكو خښتنان ور كړي. ما ورته وويل چي "يه! دا جلا بايد پر سړو سي. خو ده فرياد كاوه چي والله كه د مانبام اتام په كور كي لري، له كومه به يې پرې كړي. نو ما ورته وويل چي تر دې دي لا خوله په خاورو سه، نيت دي ښه نه دى. په دين كي دومره چرت نه وهې. نو هر څومره چي منډي وهې هغومره دي خداى پسې خواروي تا نه دي اورېدلي چي وايي:

"پر ېږده شر و شور د دنيا
ولي يې په دې غمګين
ټينګه كړه رسي د دين"

خو د هغه خداى خوار كړي خوله په واك نه ده او نه يې خان په واك دى هيڅ نه قانع كېده. د غونورو د ده په شان خداى وهلو پښې لڅو هم دده لوري ونيو او بغاري يې وهلې چي شي ورپوري نه شته، اخر مو خبره تاته پرېښودله كه د دغو خداى خوار كړيو غوړونه يو ځل تاو نه كړې نو يقين وكړه چي سبا به پر



كتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږو راسپاره سي او د سپین پګړیو او سپین کالیو قدر به نور هم کم سي. دالا څه کوې چې یو سپین سترګي خو لا داسي خبري کولې چې د سړي وېښتان ورته جګ درېدل او هغه زموږ پر خوله نه راځي".

توبه خدایه توبه! ستا له بدو کو څخه مو و ژغوري.

مثلاً ده وویل چې "موږ بزګران به له دغو سپین پګړیو او سپین کالیو مفت خورو څخه ځانونه خلاص کړو".

خېر عفوه غواړم خبره را څخه اوږده شانتې سوه...

په دغه آن کې سپین ولاړ سو او دوی ته یې وویل:

"زه پوهېږم چې زموږ او ستاسي خبري به اوږدې سي نو زه به ادې ته ووایم چې یو دوه چرګان وغځوي او لږ څه وریژې هم پخې کړي. ماښام دوډۍ به هم دلې وخورو. ملاصاحب که د مازیګر او ماښام د لمانځه ورکولو لپاره تګ غوښت البته ولاړ به سي خو بېرته به ډوډۍ خوړلو ته ځان راورسوي....

خان صاحب په ناز سترګي ورواوړلې او لومړی تر هغه چې دی څه ووایي، ملاصاحب ورته وویل:

"خدای دي برکتونه درکړي. دغسي د ښه سړي کارونه وکړئ چې اجر به یې خدای هم په دې جهان درکړي او هم به یې په هغه جهان..."

خان د ملا صاحب خبره غوڅه کړه او ویې ویل:

"دی خو قدردانه سړی دی. د هر چا اندازه پېژني که څه هم موږ په دغه کور کې څه لږه ډوډۍ نه ده خوړلې او تل یې پر کوندري (دسترخوان) باندې ښه خورولي یو خو نن به ځکه ډېر خوند وکړي چې کار هم د ده کوو او د ده د ګټې او نفعې لپاره به دلته صلاح مشوره کوو. نن خو مو تر یوې اندازې پوري ډوډۍ هم وریاندې پور ده".



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین په منډه د باندي ووت او مور ته یې وویل چي:

"خان صاحب او ملا صاحب به ما بسام دلته زموږ کره ډوډۍ وخوري ته یوه سرشته وکړه. ورته ووایه چي یو دوه چرګان حلال کړي او ښه پلاو (اصطلاحاً مرغ پلاو) ورته پوخ کړي خو دومره دي فکر اوسه چي دا نوري بلاوي در خبر نه سي. (مقصد یې میرې او د دوی اولادونه وو).

کوم وخت چي سپین بېر ته په خپل ځای باندي کښېناست نو خان صاحب ملا ته وویل:

"د سپین مقصد دا دی چي د ده د پلار دنیا سو په سو پر ته ده او د ده میرې ګاني او د هغوی خپلوان یې په چار ښاخو بادوي د ده هیله دا ده چي په هره توګه چي کېږي موږ ورسره مرسته وکړو او د هغو لاسونه ورځني وکاږو".

ملا صاحب لږ څه په چرت کي سو او بیا یې سپین ته مخ راواړاوه او ورته یې وویل چي:

"داسي مي واورېدل چي د خدای بخښلي آس دي صاحبزاده صاحب ته وروبخښه. په دې کي هیڅ شک نه شته چي صاحبزاده خو ښه سړی دی او هر څوک ورته اخلاص او عقیده لري. خو موږ د انبیاوو وارثان بلل کېږو. د دین په مسله ناست یو. نو که ستاسي مقتدیانو یوه سترګه د خدای په دغه ډول دوستانو وي نو په دې وپوهېږه چي بله سترګه مو باید پر موږ هم وي. بیا په تېره د ماجت امام خو حقداره وي او دلته په جومات کي د خدای په هیله او ستاسي په هیله شپې او ورځي تېروي. زه دا نه وایم چي ګواکي تاسو له موږ سره مرسته نه ده کړې. حقیقت خو دا دی چي موږ ستاسو په زکاتو باندي پایو. دلته مي مقصد د مرحوم هغه کالي دي چي هغه به په خپله استعمالول..."

لومړی تر هغه چي سپین یو څه ووایي خان وویل چي:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هغه کالي يې لا نه دي درکړي؟ ما دا خيال کاوه چې د وخته به يې در بخښلي وي خو خبر دی اوس هم وخت نه دی تېر شوی، دوی خو سر ګردانه دي. يووار د مړي غم او بيا د کور کالـه جنجالونه ور په غاړه سول. دی هم نوی له سفر څخه راغلی، تر تاسي سپين پکړيو چي د دين ستني ياست څوک مستحق دي؟..".

سپين په داسي حال کي چي سر يې کښته اچولی و وويل:

"له هغې ورځي څخه چي پلار مي وفات سوی دی ما والله که د مخکي سر ليدلی وي. تل په ولاړو ګرځم. هيڅ شي ته مي پام ته دی، که نه وي اصلي خو حقيقت دا دی چي هغه شيان خو په تاسو پوري اړه لري. بې غمه اوسه زه به دي په دغه برخه کي ناز واخلم".

"د دغو خبرو په اورېدلو ملا صاحب نور هم په پسي وغوړېده او داسي څرګندېدله چي تا به ويل په کاليو کي نه ځايېږي. بيا يې په ورغوي کي يو څه تور نسوار په خورا نزاکت سره واچول او هغه يې خان ته ونيول. خان په ډېره فاتحانه وضعيت ملا ته وکتل او د لاس په دوو ګوتو کي يې نسوار راواخيستل او مستقيماً يې پزي ته يو وړل. يوه. يوه نيمه دقيقه بېخي چوپه چوپايي وه، بيا دغه سکوت خان صاحب مات کړ او ويې ويل:

"زما په خپل فکر کي د مرحوم په کاله کي بل داسي په مالګه سړی نه شته لکه سپين، که د مړي آب او مېنه خوندي کېدله نو همدغه به يې خوندي کوي. نو زموږ هم کوښښ دغه دی چي د ده ملا وتړو او په هره توګه چي وي له دغو اوسنيو جنجالونو څخه به يې خلاص کړو".



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا صاحب خپل څنګوانبسي رابېرته کړ او خان يې د خان په دې خبره ناګومانه واچاوه او ورته ويې وويل چې:

"سپين خو شکر دی هر څه لري سره او سپين يې تر سر تېر دي. پلار ورته هر څه ډېر کړي دي څه پروا يې لري. په لمنو-لمنو که يې باد کړي بيا هم نه تماميږي. دی يې څه غم لري".

خان لږ څه تند سو او ويې ويل:

"مطلب بل شی دی. ملا صاحبه! د سپين داسي زړه دی چې له خپلو ميرو ګانو سره ويش وکړي او له هغوی څخه خان جلا کړي، يو آرام او مستقل ژوند ولري. ته خو پوهيږې چې دغه کور نه دی بلکي د بنزو کور دی هر څوک يې کالخواي دي. دوهم تکی دا دی سپين وايي چې د مخکو ډېره برخه بايد په ده پوري تکيه وکړي ځکه چې د ده مېريزي وروڼه خو ټول کمکيان دي او داسي خطر موجود دی چې د دوی د ميندو دلاسه به دا مځکي وړيا او يا په نه څه ووځي".

"ښه - ښه! اوس په مطلب ورسېدلم د ده د دريمي ميرې زوی خو هم اوس ښه لوی غوندي معلوميږي. زما په خيال پر خان به ګرځېدلی وي او يا به ژر وګرځي".

خان لږ څه په جدي لهجه بيا ورته وويل:

"ته هغه څه کوې ملا صاحب! زموږ مقصد خو دا دی چې سپين ته يو څه ګټه راوړو ځکه چې سپين لوی ځوان دی او په ښه او بد پوهيږي نو دی هم داسي سړی نه دی چې د چا ښه ور ونه ګرځوي".

ملا صاحب لږ څه شهيد غوندي سو او په داسي بڼغ يې په وينا خوله پرانيستله چې په هغه کي د ده پښېماني او عذر غوښتل ښکاره معلومېدل.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



"صاحبه! حافظه مې نوکې خرابه سوې غونډي ده که کومه ناپېيته او داسې خبره وکړم چې نه سره لګېږي نو تاسې ما وبخښئ".

د دوی دغه مرکه هغه وخت لږ څه غځنده غونډي سوه چې د سپين خور پتنوس په لاس راننوتله. دغه چای د ملاصاحب لپاره دی. ملاصاحب غوښتل چې موضوع وځنډوي خو خان ورته وويل چي:

"دغه کوچنۍ نجلۍ د سپين خور ده. موږ بايد خپلو خبرو ته پسې دوام ورکړو".

ملاصاحب بيا سر کښته واچاوه او ورويې د خان سره وويل چي:

"موږ خو د دې جانداري په کارونو کې دومره لاس نه لرو، خان صاحب ستا خو ښه ده هر ډول چې تا او سپين سره غوټه کړه زما خو ښه ده".

ملاصاحب چې دا خبره خلاصوله نوې پيالې ور پورته کړه ځکه چې چای ډېر تود و د ده سونډان ژبه او تالو پرې وسوځېدل او هم په دغه سبب يې (سور) ټولو واورېده. په سترګو کې يې اوښکې وګرځېدلې. خان د دې لپاره چې ملاصاحب په خان پوه نه کړي چې د ده په سوځېدلو پوه سوی دی او هم د دې لپاره چې سپين ته د ده په کار کې د ملاصاحب د مرستې او رول اهميت وښيي په يو آرام بږغ يې پوښتنه وکړه:

"هغه ورځ د کوز کلي څخه څو کسه راغلي وو او ستا پوښتنه يې کوله چا راته وويل چې د هغوی پر کومه کونډه باندې دعوه ده نو نه يم خبر چې هغه دې څرنګه کړه؟".



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاصاحب په داسي حال کي چي له جيبه يې ژېړي غټي تسبې چي د سدرې په غوټه پوري تړلي هم وې راوايستلي او هغه يې يو دوه درې پلا کښته او پورته کړې او ويې ويل:

"هغه خو د (لالي) اکاچې په ژمي کي مړ سو ښځه وه. ميراث خور و يې پسې اخيستې وه. ورته ويل به يې چي په خپل قوم کي ميړه وکړه. خو دا خورا سپين سترګي ښځه وه او دې خبري ته تن نه ږدي. ددې خيال دی چي په يو بل ځاي کي دخپلي خوښي ميړه وکړي. نو د (لالي) اکا تربرونه او د کونډي ورونه راغلي وو او يو ښتنه يې راځخه وکړه چي په دغه خصوص کي څه وکړي؟. شريعت څه وايي؟ ماهم په ډانګ پيلي ورته وويل چي شريعت خو وايي چې کونډه دخپل واک او خپل اختيار خاونده ده. هرچيري چې ميړه کوي کولای يې سي. خو دلته يوه خبره بله هم شته هغه داچي د قوم رسم ورواج هم يو شی دی. زموږ پلرونو او نيکونو داسي راتېره کړې ده چي بايد کونډه په خپل کاله کي خوندي سي او آب و پرده يې وساتله سي. خو خلک اوس ډير سپين سترګي سوي دي. دعالمانو خبره نه مني. دښځې ورونه پر له غور خارسول او په دې خبره خورا پر له واوښتل.

بيامو فيصله پر دې بانديي وکړه چي زه او (خان صاحب ته اشاره) به يوه ورځ سره کښېنو او ددوی تېره به وکړو".

خان صاحب بياور ځني پوښتنه وکړه:

"څه پوري شته او که لځ لغړ دي؟. ماچي اورېدلي دي دښځې پلار ګنی په غوښه ده او شپې يې نه تېرېږي. ته وايې څه به په جوړ سي؟. په خبره ارزي او که به خوسي موچنې په کي وشلوو او څه به لاسته رانه سي".

ملاصاحب يو څه و مسل او په يوه او بل کناتې سو او په يوه پاسته غوندي ږغ يې وويل:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



"دوی خو په خپله سپین هډوکي دي د ماښام تبې یې نه باندي کېږي او تر کورونو یې سپي په منډه او په غپ تېرېږي. زه حیران یم چي تا ولي دلته د دوی د شتمنی او یا نېستي پوښتنه وکړه. کونده په خپله هر شی دی او هر څه په جوړېدای سي. خو موږ دي خدای وساتي چي په چابه په جبر او زور یو شي جوړووو. خو دا هم وایم که چا څه راکړل ایسته یې نه غورځوم او که یې رانه کړل پسي غورځم نه. خالق رازق دی. چي خولې یې راکړې دي رزق به هم راکوي. تر اوسه خو یې ښه رارسولې ده له دي څخه وروسته به هم الله یادوو".

بیا خان سپین ته خیر سو او ورته ویې ویل:

"ته ورسه ستا د مرحوم پلار کالي هر څونه جوړې چي یې وي د هغه کوټونه، اوږده کوټونه، پوستین، پګړی، خولی او نور هر څه چي ده استعمالول هغه راوړه چي ملا صاحب ته یې ورکړو ځکه چي د علماوو خوښي او رضایت د دین په لاره کي یوه غټه کامیابي ده. دا دي ښه کړي دي چي آس دې صاحبزاده صاحب ته ورکړی دی هغه هم دعاګوی دی او تل پر موږ وتاسي نظر ساتي. زما مشوره هم دغه ډول وه".

ملا صاحب په دې وینا باندي د ګل غوندي وغوړېده او په داسي حال کي چي له خوشحالی او ښه زړه یې غاړي بوږېدې وویل:

"خدای تعالی ځکه تاسي ته په رحمت کتلي دي. او تاسي یې په ټولنه کي درانه کړي یاست چي تاسو علماوو ته په درنه او د قدر په سترګه ګورئ. که دغه تاسي خانزاده ګان او د لوی زړه خاوندان نه وای نو د علماوو د شپې تېر خو به خورا سخت و. عام خلک خو عام دي. په هیڅ نه پوهېږي او نه څه کوي. دوی په خپل خان پوري پکو دي، نو د عالمانو سره به څه وکړي.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ښه په ياد دي چې په دغه کلي کې نژدې لس دوولس کاله پخوا شپاړس شلي کسه اوسېدل.او هر چا به يوه کوچنۍ - کوچنۍ ټوټه مځکه درلوده کله چې به د ريشو وخت راغی نو ته باور وکړه (سپينه زويه!) چې د خپل زکات په راټولولو به مي نوکان ووتل او هر چا به خورا سپين سترګي راسره کوله خو ځکه چې د دوی نېټونه ښه نه وو. او پر علماوو باندي يې دومره نظر نه و، نو د هغوی مځکې خدای پاک ستا پلار ته ور کړې او هم خان صاحب په کې بې برخي نه سو. اوس خو په پوره زړه او آرامی سره خپل زکات په لاس راځي او له ډېرو خلکو سره لاس په ګرېوان نه يم".

کوم وخت چې يې د خپلې دغې وينا تاثير په دوی دواړو کې په زړه پوري وليد نو ملاصاحب بيا خبره شروع کړه:

"پر وانه لري، اوس به د ښځو لاس اړ وي کالي به بيا ماښام چې ډوډۍ وخوړله سوه راوړي. ما داسې بلل لکه په خپل کور کې او اوس يې هم دغه ډول بولم".

په دغه وخت کي خان په يو ژور فکر کي ډوب و.

ملاصاحب چې کوم هوکې وانه ورېده نو يې بيا خبره غبرګه کړه او ويې ويل:

"وپوهېدې خان صاحب! کالي به وروسته له هغه چې د ماخستن ډوډۍ وخوړله سي رابه يې وړي. اوس به د ښځو لاس بند او اړ وي. څرنګه سپينه زويه! دغسي دي نه ده خوښه؟".

هو ملاصاحب! هر ډول چې ستا او د خان صاحب خوښه وي هغسي زما خوښه ده.

بيا ملاصاحب ناڅاپه له خپله ځايه تر وره دباندي نظر واچاوه او په مقصر غوندي برغ يې وويل:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د دنيا په کارونو کي ورک يم، لمونځ او اودس خو مي هېر دي.

خان صاحب ته او سپين دلته کښېنئ، زه به لمانځه ته ولاړ شم، او مقتديان به راته ګوري، ماچي د مازيګر او ماښام جمعه ورکړه نو به راسم او که ستا زړه غواړي او ماجت ته راځي نو ډېره به ښه وي بيا به دواړه ډوډۍ ته راسو".

"ملاصاحب ته ولاړ سه زه به همدلته لمونځ وکړم او يوه ګړی به له سپين سره نور هم وږغېږم تر څو چي ته راځي موږ به ښې لاري چاري درته څارلي وي".

ملاصاحب سمدلاسه ولاړ سو او خپل څادر يې پر خان راتاو کړ او له بسم الله ويلو څخه وروسته له وره څخه ووت.

سپين له ده سره د انګړ تر وره پوري ملګري وکړه او بيا بېرته راوګرځېده. خان پر نيالي باندي ستوني ستغ پروت او د خوني چت ته يې په خير - خير کتل. کوم وخت چي يې د سپين د راننوتلو کړپار واورېده نو سمدلاسه يې پښې راټولې کړې او لږ څه يې د خان وضعيت سم کړ.

"سپينه ته خو ډېر طالېمن يې، ستا لپاره مي خورا ښه او په زړه پوري لاره وسنجوله چي د هغې په اثر هيله کېږي چي فايده به وکړې او د کور او کاله له جنجالونو څخه به دي اوږې سپکي سي، که څه هم دا لاره لږ څه کړه وړه ده خو دومره درته وايم چي څرنګه چي ستا زړه وي هغسي به دي چيټه وسي، اوس خداى پاک ښه موقع په لاس درکړې ده. نور ورونه دي کوچني دي. ته کولای سې چي اوس خپل موټ کول (ښکل) کړې او هغه مځکي چي ته يې غواړې خان ته کړې او بيا په بې غمه زړه واده وکړې او د يو خوږ ژوند څښتن سې".



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپين په خورا مينه ورته رانږدې سو او په داسي حال کي چي د ده پر څنګوانې يې څنګلې ولګولې ورته وويل:

"ته خو زموږ مور او پلار يې، بابا به تل ستا صفتونه راته کول اخر چي په خپلو سترګو مو وليدل او هغه مرستي به يې تل يادولې تا به په محکمو کي له هغه سره کولې. نو زه پوره يقين لرم چي ته زما په خبر فکر کوې او زه به هم ستا لارښودنه هېره نه کړم او هر څه چي مي له وسه وسي هغه به در څخه ونه سپموم. نو زه خو هم اخر پښتون يم او پښتنې زېږولې يم".

خان ورته وويل:

"په دې کي به د ملاصاحب صلاح او مشوره هم واخلو. فکر کوم چي هغه به هيڅ په کي ونه وايي.

سپينه! تا يو ښه کار په نظر کي نيولې دی چي هغه دا و چي ملاصاحب ته دي د خپل مرحوم پلار کالي ورکړل. زه لږ څه زړه اونا زړه وم. ما ويل تا به بل چاته ورکړي وي او يا به پر ناګاره سپي چي نه شته او هغه دي دلاسه ايستلې وي. اوس موږ کولای سو چي په دغه کاليو د ملاصاحب زړه راونيسو. ملاصاحب خو حقداره دی. بل دا چي ډېر عمر يې دلته تېر کړی دی تل په مړي او ژوندي، په غم او ښادي کي راسره شريک او حاضر دی. بل دا چي يو عالم سړی او د خدای د لاري څخه خبر او د نبي په مسند او مسله باندي ناست دی او زموږ او ستاسو دعاګاني بلل کېږي، که د ده لارښودنه، نه وي او د ده وعظونه او نصيحتونه، نه وي نو والله چي دغو خلګو خو به چي تول له لوږي کبدي کوي په خپلو منځو کي خوړلي وای. زه چي خان يم په ياران يم ته چي بدای او شتمن يې او دا دومره ملکونه جايدادونه لري خپل عبادت، لمونځ او اودس کوي چي په هغه جهان خدای ښه جنتونه در کړي نو ته دا ماته وايه چي ګواکي زه ستاسي په قدر نه پوهېږم؟ په هغه ورخ



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي مي ستا خبري هم پر زړه د کاڼي کرښې دي چي تا دوی ته وويل"د خدای امر خو دا دی چي ملا صاحب در ته واوراوه ټول خان ته مسلمانان وایاست باید هغه د زړه په سترګو ووینئ او د زړه په غوږ و يې واورئ. که نه وي نو والله خو به د خپلو کوټو تنبې در پسې ټينګي کړم او ټول خو به په بنديخانو کي وراسته کړم. تاسو څه خيال کړی دی، شکر دی پاچايي شته، عدالت شته". ټول د دې خبرو په اوريدلو غلي غوندي سول او په هغه ورځ مو د خلکو له ځيږې څخه خلاص سو....

سپينه! خبره بلې خواته ولاړه خو په دې خوښ يم چي پر بده خوانه ده تللې په دې ډېر خوښ سوم چي ستا داشيان ټول ياد دي. دا به دي هم په ياد وي چي په هغه ورځ يوه کوچنی شانته نښته هم وسوه چي زما ناظر (ګنډ) هم په کي ژوبل غوندي سو او د هغه په عوض مو څومره کسان کش کړل او څومره مو بنديان کړل خو دا زښته سپين سترګي خلک دي، هر څومره چي يې په سر ټکوي هغومره دوی نور هم خپل شدت زياتوي. ته څه فکر کوې چي ګوندي خلک اوس په کراره دي؟ زه در ته وايم چي دوی هماغه خلک دي کله ساړه سي خو مري نه او لړه موده وروسته بيا تاوده سي. خبر دي وي زموږ وستاسي ژوند دي وي په نړۍ کي خو هر څه پيښيږي. دغه ټول د همدغو يارانو په زور خوري. ته خو لا اوس هلک يې تجربه دي کمه ده، ستا پلار دي خدای وبخښي په دغو خبرو يې ښه سر خلاصيده".

صاحبه! ماته مي پلار ډېر څه رابښودلي دي. هغه لا څه کوې زما په خپله ډېري خبري په ياد دي اوس خو زياته کوچنی نه يم زما والله که هغه ورځ هېره سي چي څو کاله پخوا زموږ بزګرانو زموږ لنګي غواوي حلالې کړې او زموږ په چمبر يې يمان



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



را اخیستي او غوښتل یې چې زموږ کور ته اور واچوي. د دوی ناري تر اوسه پوري زموږ په غوږو کې دي چې ویل به یې:

"زموږ مځکې دغه سوایي خور په نه څه را څخه تر لاسه کړي دي، موږ بېرته خپلې مځکې غواړو او داسې نور..." .

او دا مې هم نه هېرېږي چې کوم وخت چې ته او ملاصاحب په دغو خلکو راښکاره سوئ او یو څو خبري مو ورته وکړې دوی داسې ساړه سول لکه چې په اور باندي یخې اوبه توی سي. او په هر یوه لکی وځړېده. په تېره بیا د ملاصاحب دا کلمات خو مې تر اوسه په غوږو کې ازانګه کوي چې او خلکو بر خې ازلي دي، ور کړه د خدای ده. تاسې ولې ناروا کوئ او پر دې سړي باندي راغورځئ! نه مو دي اورېدلي چې : "باخداداد ګان ستیزه مکن". یعني چاته چې خدای پاک ور کړې وي د هغه سره سیالي مه کوئ. تاسو ته به خدای په هغه جهان کې عوضونه درکړي. تاسې ولې په دې مرداري دنیا پسې دومره ګرځئ ځرنګه یې ښه ویلي دي چې : "له پیښني تېښته نه شته". اوس هم دا درته وایم چې داسې بې خېره خلګ شته چې تل په دې فکر کې دي چې څه وخت زموږ او ستاسې بېړۍ واړوي".

له یو څه ځنډ او مکث څخه وروسته خان خپله خبره پسې اوږده کړه او وې ویل:

"ما چې کومه لاره چاره ستا د ښېګڼي لپاره لټولې وه هغه دا ده چې تاسې سره وېش وکړئ.

دوې بني دي یوې خواته سي او دوې بني دي بلې خواته. ته په خپله هغه میره له ځان سره کړه چې د هغې یو زوی او یوه لور ده. په وېش کې به زه او ملاصاحب دواړه ناست یو، هغه مځکې چې ته یې خوښوې هغه لا اوس وټاکه چې موږ یې د دربمانو په توګه تاته در په برخه کړو. وروسته له څو مودې به دې میره یو



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېري خرڅه کړي. لور به يې هم يو چاته ورکړي. پاته سو يو زوی يې هغه به هم بيا په يوه بلا وخوړو او په دغه ډول به د هغوی د ټولو برخه هم تاته درپاته سي. دا بايد درته ووايم چي دا خو د دې لوبي يوه برخه وه. بله برخه به يې داوي چي داسي چلونه بايد وسنجول سي چي د هغو نورو هلکانو مخکي هم تاته په لاس درسي. دا دوهمه برخه يې په تا پوري اړه لري. زموږ په مرسته ته اوس لومړنۍ برخه عملي کړه. دغه کار بيا اسانه دی. هيڅوک هم نه درپوهېږي. ميره دي ناوې ده، هغه بې له مېړه ژوند نه سي کولای. مېړه به هم په داسي ځای کي ورپيدا کړو چي بيا د دغه ځای مخ ونه ويني. پلار ګنی يې هم عاجزه او خواره ده څه نه سي کولای او نه ستا مخي ته درتلای سي. ته په دې خبره باندي ښه غور وکړه. که دي دا خبره خوښه سوه نو موږ به د دې د عملي کولو لپاره په تفصيل سره نقشه درجوړه کړو".

سپين يوه ګړی د ژور فکر په سيند کي لاهو سو. چي راپر سد کېده نو د خان د خولې څخه يې دا خبري بيا واورېدلې:

"هو يو شی به کوې هغه دا چي څوک ستا په دې خبره پوه نه سي، خکه چي په دغه وختو کي خلګ دومره راته په ښه نظر نه ګوري لکه چي پخوا به يې کتل. په تېره بيا په دغو وختو کي خو يو څه بې لاري او بې سره پيدا سوي دي چي خورا ښويېدلي دي او د هيچا حق نه پېژني، نه سپين کالي پرېږدي او نه د علم خاوند. دوی ټل وايي چي همدغه بډايان، خانان او ملايان د خلګو دښمنان دي. که دي له مور سره صلاح کوله هم يې وکړه خو له دې کبله چي ښځي لږ څه ناقص العقله غوندي دي، نو زما په فکر ته په خپله چرت ووهه او بل څوک په ځان مه پوهوه په دغه خصوص کي ما د ملاصاحب سره هم تر يو حده پوري خواله کړي دي نور به يې هم سر په خلاص کړم".



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپین سترګي وبرېښېدلې او په خان نه پوهېده چي دغه تجویز د خوشحالۍ دی او که د غم. خو دې تکي یې له زړه څخه ښه ځکه وکړه چي میره او خور خو به واده کړي او د دوی د مځکو حق به هم ده ته ورپاته سي.

هو! د دوی برخه به هم ده ته ورپاته سي، هغه څه لږ او کوچنی جایداد نه دی. دا چي د دانورو برخه به هم په یوه نه یوه چل سره تر لاسه کړي. د ده په مغزو کي یې خورا خوږې هیلي ورپیدا کولې، د دغو هیلو تر سر رسولو مسله خورا اسانه او تر لاس لاندي ورته ښکارېدله. ځکه چي خان صاحب او ملاصاحب او هم غالب ګومان دی چي صاحبزاده صاحب به هم د ده هر ډول مرسته او ملاتړ وکړي. خو اوس به بیا په دغه چرت کي وي چي په خپله دوی به څومره او په څه ډول ځني وغواړي. کله به یې په زړه کي ویل چي په ښکاره او ډکه خوله پوښتنه ځني وکړي او هر څه چي لازم وي هغه به ورسره وټاکي چي بیا وروسته دومره غوښتنه ځني ونه کړي چي تر (مز یې شکرانه) ډېره سي. خو بیا به یې د خان سره ویل چي اوس یې پرېږده کوم وخت چي کار وسي او ټول خطرات تېر سي نو البته هغه وخت به یې خوشحاله کړي. یوه لوېشت مځکه که راوګتي نو هم تر هر څه ښه ده او هیڅ قیمت نه لري.

سپین بیا په یو احترام لرونکي ږغ ورځني پوښتنه وکړه:

"زما د دغه میرې پلار ګنی که څه هم خواره ده او څه نه لري خو کلک خلک معلومېږي. که یوه پلا په لاره کي راته ودرېدل او پښې یې ټینګي کړې نو بیا به څه کوو؟.

دوهمه خبره دا ده چي ته وایې هلک به په یوه بلا وخورو. که چېري خلک او ماماګان یې راخبر سي نو څه خواب به وایو. دا



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوالونه مې څکه دلته وکړل چې ښه ده د هر سي ترې اوس لا وتړلی سي".

خان ورته وویل:

"زویه' ستادا پوښتني او لاربښودني داسي دي (لکه لمسی چې انا ته...وربښيي) ما دغه ټول اړخونه څېړلي دي او د هر مشکل لپاره مې په زړه پوري لاره موندلې ده. هغه کورني څه کولای سي؟ که په دغو ټولو کارو سر تر پایه خبر سي نو بیا یې هم څه د لاسه نه کېږي څکه چې موږ په سړو کي پر ښېښ یو. که لاړ سي عرض وکړي نو دا خو زما نسوار هم نه دی څکه چې شکر دی غرانونه شته چې ویې شیندو. یوه خبره به زه درته وکړم چې نن ورځ غران هر څه کولای سي، او هر ډول درنه ډېره او چټولای سي، زموږ پاړسي ویونکي وروڼه خو اوس پیسه (مشکل کشا) بولي که چېري (خدای دي نه کړي) ډېره سخته راغله نو صاحبزاده صاحب او... صاحب خو شته، دوی چې مازي سترګي وښوروي هغه کار د خدای په فضل سره بیا سوی وي.

په زویه! په دغو خبرو پسي به نه ګرځې، که دي زړه غواړي چې ښې حاصل لرونکې مځکې او شنه باغونه ولرې او له دغه اړخه دي هم زړه نور ډاډه سي نو دغه کار وکړه، او بیا سو که ورته کښېنه او خدای یادوه".

له لږ څه څنډ څخه وروسته خان بیا پر بړغ کړل:

"ته په خپله ملاصاحب ته څه مه وایه هغه به زه په خپله ژبه پوه کړم، څکه ته به په داسي ژبه ورته ووایې چې وبه ترهیږي".

په دغه وخت کي سپین ته خپل اکا میرامد ور په زړه سو او لکه نابېره چې یې د خپل مقصد په لاره کي یو لوی مانع لیدلی وي. بړغ یې کړه چې "د میرامد کاکا څه تری تړې؟".



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان د سترګو په کونج کي ورته وکتل او وې ویل:

"هغه زما په زړه کي دومره اهمیت نه لري، په خپله دی خورا سپین ږیری دی. دا ګومان نه کېږي چي تر ډېره دي ژوندی وي، د داسي کارونو اجرا کول خو وخت غواړي، داسي نه ده چي نن موږ وویل او سبا یې سمدستي اجرا کړو. هر کار خپل یو ترتیب لري.

دوهم ټکی دا دی چي ته خبر یې چي میرامد او ستا پلار له شلو پنځه ویشتو کلو را ایسته هیڅ خبري نه سره کولې. دا لا څه کوې چي یو د بل په مرګ خورا خوشحاله وه.

ګومان کوم چي کیسه به یې ستا ټوله په یاد وي، اوس هم میرامد وایي چي زما ټول حق ده وخوړ او زه یې لڅ لغړ وشړلم. له ما سره هم څه خبري نه کوي او کوږ مغزی را سره ګرځي. ځکه چي دی دغه فکر کوي او هر چېري وایي چي ما د ده له وروره سره د ده په خلاف مرسته کوله. نو د میرامد زړه له تاسي ټولو څخه تور دی، ډېر ځلي یې ویلي دي چي که ټول اور واخلي زه به سترګي ور کېږي نه کړم.

په دې څو وروستیو ورځو کي چي ځي او راځي او یا دي د پلار پر مړي باندي دومره هغې خوا او دې خواته غوځېده مقصد یې دا و چي دی هم کوم شواروز (شبانه روز) مځکه په لاس راوړي، او په دغه اړ دوړ کي دی هم یو شی تر زامه کړي".

خو دوی په دغو خبرو اترو بوخت وو چي ملاصاحب بېرته له ماجت څخه راغی. ځکه چي د انګړ ور ټړلی نه و بې له کوم ټک او ټوک څخه سیخ هغې خوني ته روان دی چي هلته لومړی خان او سپین سره ناست وو.

کوم وخت چي ملا تر لومړي انګړ تېرېده نو لږ شان ته ځوړ یې تر غوږو سو او پرېکړي پرېکړي ټکي یې تر غوږو ورځي چي



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیني یې اوري او ځیني نه. مثلاً یو ځل یې د یوې ښځې ږغ داسې واورېده چې ویل یې "سپین سرې (مقصد یې د سپین مور وه) خو لکه چې کوم چل یې جوړ کړی دی چې ځان ته یې لوګی راخېژي او څه پخوي، ځوک یې مېلمانه دي؟".

یو بل ږغ: "د چرګانو کفهاري و، خان ... مېلمه یا صاحب...".

ملا صاحب چې په خونه ورننووت او په خپل ځای کښېناست نو په داسې حال کې چې له جېب څخه یې تسبې را ایستلې سپین ته یې وویل:

"ته خو د کور او کاله مشر یې اوس د خپل پلار په ځای ناست یې. د ټولو خلګو سترګې تا ته دراوړې، ما څو ورځې پخوا اورېدلې وه او اوس مې هم تقریباً په خپله یقین راغی چې ستاسې په کور کې څه لږه بې انتظامي ښکاره کېږي. هلک. ښځه او کوچني ټول په خپل سر غونډي راته معلوم سول، که دغه وضعیت (خدای دي نه کړي) پسې اوږد سي نو ستاسې د کورنۍ نوم به بدسي او تاسې ته به دنیا یې تاوانونه واوړي. دا خبرې دلته ستا د خبر لپاره در ته کوم.

خان صاحب هم حاضر دی. که بد وایم دی دې راته ووایي".

خان صاحب په ښه مینه او توده لهجه ورغبرګه کړه:

"صاحبه! اوس زمانه تر خان تېره ده. ځوک د چا خبرې ته غوږ نه نیسي. هر څه سړی دباندې کولای سي. خو کور او کاله ته چې راسې هر څه ورځنې هېر سي او دلته د کاله د غړو په لاس لوبېږي. د احمدشاه بابا دا خبره دې نه ده اورېدلې چې ویلې یې دي:

"ټوله دنیا مې ایله کړه بې د نغري له غاړي نه".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته زما مقصد دانه دی چې ګواکې زه ستا د وینا طرفداري نه کوم او یا داوایم چې خپل کهول په واک کې درلودل ښه کار نه دی، بلکې مقصد مې دا دی چې دغه کار که څه هم ډېر ګران دی خو بیا هم باید تر یوه حده پورې خوسې او زه هم ستا د وینا ملاتړ کوم".

ملا د خپلوی او همدردی په لهجه خپله وینا پسې اوږده کړه او ویې ویل:

"ستا خبره خو په سلو کې سل رښتیا ده. خو څکه چې دا یو لوی کور یادېږي او هر چاسترګې ورته نیولې دي نو دوی ته ښځې ضروري ده چې خپله لمن تل تر خپلو پښو لاندې وساتي او پرې نږدې چې خلک دوی په ناوړه خوله یاد کړي. شکر دی غنم یې په کندوانو کې نه ځایېږي. په باغونو کې یې اسان سترې کېږي. لویه ډله مزدوران او بزګران لري. په دینداری کې هم ښه دي خو که تر دې لا ښه وای نو ښه به وه.

"غوړي چې هر څومره غوړ وي هغومره ښه وي".

زه چې ده ته څه وایم له لورېنې یې وایم. که دوی یعنې دغسې شتمن خلک په آب وعزت کې وي او ډوډۍ یې پنډه وي نو څرګنده ده چې زموږ هم عزت دی او ډوډۍ به مو پنډه وي. خو که دوی خدای دې نه کوي داسې نه وي او یا خوار وي نو توبه له دې لوچکانو یعنې اوپره خلکو، اوپره خلک خو په هیڅ بند نه وي".

سپین لږ څه سور او شین سو او بیا یې په یوه لاپوکه غوندې بږغ ورته وویل:

"زه پوهېږم چې ستا نصیحتونه تل زموږ د فایدې لپاره وي. له دې کبله چې ستا پر موږ زړه خوږېږي او زموږ د هوسایي او نېکمرغۍ سره مینه لرې. نو څکه دا راته وایاست. خو زه داله زړه درته وایم چې ما تل په دغه برخه کې ډېر کوښښ کړی دی او دا



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي هيله ده چي برغ مو دباندي ونه وخي خو څه وکړم هيڅ خواته مي مخ نه اوړي، دا ښځي يعني ميرې ګاني مي وهلې او ترټلې هم دي خو سره له هغه بيا هم دوی يوه پر بلي باندي دا ډول سره غورځي لکه پيشياني. زه خوله همدې جهته دا غواړم چي ژر خان له دغه ډول ناوړو جنجالونو څخه خلاص کړم او هره يوه پر ځای کښېنوم، او په خپله خپلې غريبي ته د خپل پلار په شان دوام ورکړم، دغه کارونه به هم انشاءالله تعالیٰ ستا او د خان صاحب په برکت اجرا کړم".

دا خبره چي يې خلاصوله سمدلاسه يې د خپل پلار کالي چي بايد له ډوډۍ خوړلو څخه وروسته يې ملا ته ورکړي ور په ياد سول، او له خپل ځای څخه اوچت جګ سو. دواړو (ملاصاحب او خان صاحب) ته يې مخ راستون کړ چي د يو څو دقيقو لپاره اجازه ورکړي، د اجازې اخيستلو څخه وروسته چټک مورته چي په څاله (اشپزخانه) کي يې د مېلمنو لپاره ډوډۍ تياروله راغی او ورته ويې ويل:

"ادې جانې! زما خو بېخي هېر سوي وو، د بابا کالي بايد خوندي يو ځای سره ايښي وي هغه تيار کښېږده چي د ډوډۍ خوړلو څخه وروسته سمدلاسه يې ملا ته ورکړو او هم درباندي زېري کوم چي خان صاحب او ملاصاحب دواړه زموږ د ګټې او فايدې لپاره فکر او کار کوي. وايي چي د نورو ميرو ګانو او ميرېزو زامنو او لوڼو لاس به داسي وکاږي چي د پای لوی باغ او د کڅ ښې پستې خاوري مځکي به موږ ته په وېش کي راولي".

په دغه آن کي مور يې په خوله لاس کښېښود او په اشاره يې پوه کړ چي د څالي په هغه بله برخه کي چي هلته لوی تنور هم ايښی دی د دې دوهمه بن ناسته ده او ګټو اېشوي. يوه اووه کلنه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لور يې هم ورسره ده. ده بېرته په عادي ږغ خولې. څه سوکه ورته وويل چي:

"پروانه لري هغه خو په غوږو درنه ده څه به اوري. نجلي يې په دې خبرو نه پوهېږي".

د دې وينا وروستي ټکي يې تماماوه چي د ځالي هغې بلې برخي ته ورننووت او ميرې ته يې وويل:

"دلته څه غواړې؟ څه ورکه شه په هر ځای کي ستاناپاکه ارواح ګرځي. يو چېري به درځخه خلاص نه سم بلادي په دا پلن مخ سه".

لومړی تر هغه چي دا څه ووايي د هغې کوچنی لور وبېرېدله او په ژړا سوه او د مور په څنګ ورننوتله دا ځکه چي دوې ورځي پخوا يې په څپېړه دا ړول وهلې وه چي خوله يې په خاورو تللې وه بيا يې مېرې په قهر ورته وويل:

"زړه دي وچ سه بابايي هم ته راباندي کوې؟ نن خو د کتوي د پخولو وار زما و. چوډۍ مې هم د (جانان) په مايني پخه کړه (جانان د دوی بزګر و). په خپله خو تاسي د ځان لپاره چرګان غځولي دي او وريجي پخوئ. بربزی او غوړومبی لا پر مالرې؟ دابد وکر دي خاوري شه".

د سپين مور سمدلاسه ورته وراغله او بې له دې چي لږ څه د ادب مراعات وکړي په بشکنځلو يې خوله پوري کړه. نژدې وه چي خورا لويه ماره خيني جوړه سي. خو سپين دوی سره پوري وهلې او خپله مور يې بېرته د ځالي دابلې برخي ته راو ايستله. بيا يې مور ورته وويل:

"کالي له ماسره نه شته هغه خو دي د کشري مېرې سره دي. زه په خبره يم چي کالي يې ټول يو ځای کړي دي او په (ګوګو) کي يې ايښي دي.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ یې ماته هم وویل چې کالي یې نغښتي دي او که سپین هغه چاته ورکول نو له ما څخه دې یوسي خو په دې شو وروستیو ورځو کې دا له ما سره یو څه برسکه ده. او که یې نه درکول نو نیغ د (ګوګو) خواته ور تېر سه او په خپله یې را واخله".

سپین په دې و وېرېده چې د آب مېلمانه یې یو اخي په کوټه کې پرې ایښي دي او په خپله د ښځو د دعوو او جګړو په جال کښېوتلې دی نو هغه په بیړه د هغې مېرې د خونې خواته ور تېر سو. او دا یې د ځان سره غوټه کړې وه چې که یې په سمه درنه کړل نو سمدلاسه به په کې لوېږي، او داسې به یې وهي لکه....

خو د سپین ستوری لوړ و. کوم وخت چې دی ورته د هغې مېرې په خونه کې یې یوه کوچنی اته کلنه مېرېزي خور ناسته وه او سپین ته یې وویل:

"ادې اوس دستې د دلو ادې کره ورغله راځي".

سپین لږ څه په تریو تندي ورته وویل:

"د بابا کالي یې چېرې ایښي دي؟".

نجلۍ له واره د (ګوګو) خواته ورغله او هغه کمبله یې پورته کول غوښتل چې پر ګوګو کې یې ویې راخړولي وو. خو وس یې پرې ونه رسېده او ورور ته یې وویل: "دلته لالا!".

سپین سمدلاسه ټول کالي له ګوګو څخه را وایستل او د خونې پر غولي باندې یې واچول، بیا یې نو په خورا خوشحالی او د بریالیتوب په ږغ وویل:

"زرغونه شې خورجانې!".

هر کله چې کالي ډېر وو نو هغه یې په دوه پلا یووړل.

ملا صاحب چې سپین تر کالیو لاندې بار ولید خورا خوشحاله سو او تندی یې ویې سره ولاړ او له ډېرې خوشحالی څخه یې تقریباً غاړه سره مښتې وه. خو په زحمت یې ورته وویل:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



"سپینه زویه! پوري ستړی سوی به یې؟، تا خو به کشرانو ته ویل چي دغه کار وکړي".

خان صاحب باندي را ږغ کړل:

"ملا صاحب خو دي اوس وغتماوه. سپینه! د اسقاط د ورځي کسات دي ورو کیښن. ملا صاحب ما خو درته وویل چي د مرحوم په مینه خلک پاته سوي دي او داسي هم نه ده چي ته به وا سپېره ړاک دی".

سپین بیا د باندي را وتل غوښتل چي ملا ورته وویل:

"له خېره؟ راسه کښېنه".

"نور لا هم شته چي هغه راوړم نو به بیا کښېنم".

په دې چي ملا صاحب له ډېري خوشحالي په کالیو کي نه ځایېږي خان صاحب وپوهېده او په یوه احسان اچوونکي لهجه یې وویل:

"صاحبه! پرېږده چي هغه هم راوړي. زما هم دغه اټکل و چي نور کالي به هم وي. ځکه مرحوم خو یو اوپره مزدور او یا بزګر نه و چي خلک بايد د دوی د غاړي کالي سمدلاسه سوځي چي له سپږو. خیرو او ناروغیو څخه خلاص سي".

د خان دا پور ته وینا چي تمامېدله سپین بیا په کالیو بار راننووت او په هغو پخوانیو کالو باندي یې واچول.

ملا صاحب دي منظرې خورا خان ته جذب کړ او بې له ارادې یې وویل:

"شکر دی خدایه چي په دین د اسلام یو. خدای خو موږ او تاسي ته هر څه راکړي دي خو مازي موږ یې د لیدو سترګي نه لرو. الله تعالی...".

په دې ځای کي خان صاحب د ده خبره غوڅه کړه او ورته یې وویل چي:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



"که دي خوښه وي لومړی تر ډوډۍ به کالي وګورو. خو که سپین وايي چې ډوډۍ بېخي نږدې او تیاره ده نو البته وروسته له ډوډۍ به یې وګورو".

سپین ومسل: "ډوډۍ هم نږدې ده".

ملاصاحب وویل:

"په کتاب کې یې راوړي دي چې (لومړی طعام او بیا کلام) د کالو کوټه خو درنه ده او لویه برېښي. که اوس یې له لیدو پیل وسي داسي ژر به یې خلاصه نه کړو خو په مړه ګېډه چې دغه کار وسي خورا به خوندور وي. خو بیاهم که ستاسي خوښه وي".

خان صاحب غوښتل چې څه ووايي خو ملاصاحب بیا خپله خبره پسې اوږده کړه او ویې ویل:

"موږ او تاسي بايد په هر حال شکر وکاږو چپ له کفره. خان صاحب که مي له زړه پوښتې د پښتو متل دی چې (په ګاخر یې نه یم په خرپ یې یم).

صاحبزاده صاحب خو زموږ او ستاسي د سر سترګې دی او لوی روحاني سړی دی، خو داهم باید ووايم چې موږ هم د نبي په مسله ناست یو.

هغه بله ورځ چا په خبرو کې یاده کړه چې سپین د خپل پلار آس سره دټولو اسبابو هغه مبارک ته ورولېږه. په دې خو خورا خوشحاله سوم چې بې ځایه ګام نه دی اخیست سوی او زما او د ده به منځ کې هیڅ توپیر نه سته خو لږ څه مي دا زړه راته لږ. سو چې زه خو به یې هم یادولم. بې له دنیایي او مادي مرستو چې ماله مرحوم سره کړې دي. ټول عمر یې امام هم وم. په کور او کاله کې هم خان داسي لږ غوندي بې سېکه راته ښکاریده. خو اوس تاسي او سپین د زړه پر پرهار باندي پند کې راکښېښوده.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دي تاسو ته په درنه سترګه وګوري. خدای مو جنتونه ځای کړه.

موږ سپین پګړي خو ستاسي دعاګویان یو. تل ستاسي ښه او بری غواړو".

ملاصاحب خپله خبره په مشکل سره خلاصه کړې وه، چې د سپین خور ګډوه او چلمچي راوړل.

خان صاحب دواړه وزرونه اوچت کړل او په داسي حال کي چي ستړیا یې کښله وویل:

"یو چړي له ملا څخه پوښتنه وکړه چي په نړۍ کي کوم ساز خوند کوي؟ ده ورته وویل چي د چلمچي او ګډوې ساز تر هر څه ښه خوند کوي. ځکه دغه ساز د نعمتونو د راوړلو ځرک وي نو اوس هم د ګډوې او چلمچي شرنګهاري خورا خوند وکړ".

ملاصاحب په داسي حال کي چي د خپل لاس تسپې یې سره غونډولې او جیب ته کولې یې وویل:

"ته ښه وایې په کتابو کي یې د خوړلو او څښلو دشیانو تعریف خورا ډېر راوړی دی، خو اوس که رښتیا درته ووایم زمانه اخره سوې ده په هیڅ شي کي خوند پاته نه دی. له هر شي څخه برکت تللی دی. له انسانانو هم سپک ختلی دی خدای مودي ایمان ته خبر کړي".

ده چي دا خبره تماموله د سپین خور له مخه چلمچي ورته کښېښود. ملاصاحب اشاره ورته وکړه چي لومړی خان صاحب ته اوبه ور واچوي. خو خان صاحب لږ څه په جدي لهجه وویل:

"په داسي ځایو کي خو لومړی حق د علماوو وي. علما خو زموږ د سترګو تور دي، که دوی نه وي نو نړۍ نه شته هر څه به وران ویجاړ سي. په تېره بیا زموږ د خانانو لپاره خو خورا مرستیال بلل کېږي. ورواچوه نجلي ملاصاحب ته اوبه ورواچوه".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا په داسي حال کي چي لاسونه يې اوبو ته ونيول غاړي يې تازه کړې او په خواږه ږغ يې وويل:

"سپينه! ما تاته د کور او د کاله د ښه انتظام په خصوص کي څه وويل خو بيا زموږ په خبرو کي نوري خبري راکښېوتې. نو مقصد مي دا و چي زه اوس دلته راتلم د ښځو ږغ مي تر غوږو سو چي ما گومان وکړ چي دوی له شنه زړه خبري کوي نو ما هغه وخت له خان سره فکر وکړ چي کاشکي له دغسي لويو کورو د ښځو ږغ په زوره نه اوريدل کېداى او هر کار يې په پټه خوله اجرا کېداى".

کوم چي کوندري وغوړول سو او ډوډۍ پر کښېښودل سوه او ملا صاحب ډوډۍ ته رابېر ته کېده نو يې بيا خپلو دواړو ملگرو (خان او سپين) ته وويل:

"لومړی تر دې چي په ډوډۍ پيل وسي (بسم الله) ويل. د ډوډۍ بركت زياتوي او كوم وخت چي ډوډۍ وخوړله سي نو (شكر) ويل د نعمتونو د ډېر والي سبب كېږي، كه څه هم دغه ټكي ما تاسو ته څو-څو خله ويلي دي خو دلته مي ځكه بيا در ته په ياد كړ چي ډوډۍ راوړله سوه".

د ډوډۍ له خوړلو څخه وروسته ملا صاحب د لاسو د پرېمنځلو څخه وروسته د كالو خواته چي سپين د خوني په يوه گوټ كي كوټه كړي وو ورغى او لومړى يې پوستين راپورته كړ. دغه پوستين د گيدړو او خورا ښه خړ، وربېښمين پوښ يې درلوده. دگيدړو په وړيو يې لاس وواهه او دا چي تارونه يې خورا پاسته او په زړه پوري وو خوشحالهسو. بيا يې د كاليو هره ټوټه را اخيستله او بلې خواته يې كښېښودله.

خان صاحب هم ورغى او د پوستين او د اوږده كوټ صفت يې خورا ډېر وكړ او وې ويل:



كتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ملا صاحب اوس نو له هري خواري ووتلې، خداى داسي سيان در کړل چي په خوب کي دي نه وو ليدلي. خداى دې د پلار برکت په سپين باندي کښېږدي، او توفيق دي ورکړي چي هغه رويه چي د ده پلار له ماو تا سره درلوده پسي تعقيب کړي. زه دا نه وايم چي ښه رويه او ښه کړه وړه يواځي له يوې خوا کېداى سي زما مقصد دا دى چي تک خوله يو لاس نه ځېږي. نو موږ ته دي هم خداى وس راکړي چي هغه څه چي د سپين خوښه وي هغسي وکړو. په تېره بيا ځرنګه چي ماورته وويل. زموږ د داسي ښو کولو او مرستي وخت خورا نږدې دى".

په دې آن کي د سپين مور او دوه نور کوچني وروڼه راننوتل. او لوښو او کوندري د ټولولو هڅه يې وکړه. خان صاحب دا پورته خبري چي د دعا رنګ يې هم درلود د سپين په مور باندي خورا ښې ولګېدې او خان صاجب ته يې وويل:

"سپين خو لا اوس هلک دى په ټولو چارو او کارو دومره پوه نه دى. که څه هم د ده پلار ډېر کوښښ کاوه چي دى ښه (باولى) کړي او د دنيا په هره چاره يې پوه کړي خوله يوې خوا ژوند مهلت ور نه کړ او له بلې خوا دا نورو ښځو نه پرېښود او تل به يې په غوږو کي ډول-ډول ناوړه او بې حقيقته خبري ورپو کړې. چي پرده باندي به يې يو راز يا بل راز اغېزه کوله.

خان صاحب ستا قدر خو پر موږ دى او تل تا موږ له بيابانه ښه ساتلي يو. په يوه شي مي انديښنه خورا زياته ده. خان صاحب خداى به يې کوي او ته به يې کوې مقصد مي د سپين پچه ده چي راغور ځېدونکې ده. که سږ راغله او که له کاله. خداى دي نه کړي که د ده پچه راغله نو ټول کور به سرې غرمې ته ووځي. زما نور زامن واړه دي او ښزيان مي اومه خوري. که څه هم يوه ورځ د سپين پلار هم تا ته په دې باره کي څه ويلي وو، او تا ورسره



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(هوکې) کړې وه چې له دې سر ګردانۍ څخه به يې خلاصون خو بیا په دې برخه کې څه نه دي ويلي سوي".

خان صاحب د واره پر را درسته کړه:

"ادې دا څه کار دی؟ موږ خو ستا د دعا له برکته پیلان په ګنډه منډو. والله که یې څوک پته موندلای سي او ته داسې په خواره خوله کې راته وایې. تا ته ښه زړه درکوم چې هغه مې د وخته له جدول څخه غورخولی دی هیڅ پچه یې نه غورځي. خو که څېرې يې پچه راغلې هم وای نو ما او د ده پلار دې ته ښه او په زړه پوري لاره سنجولې وه. هغه دا چې سمدلاسه به مو د... صاحب په مدرسه کې څهره کړی وای او په دغه ډول به د علم دين د تحصيل په نامه سرې سترګې ګرځېدای. والله که چا چپ ورته کتلی وای. خو دا درته واړم درکوم چې دې ته هم حاجت پاتې نه سو او کار مو دې سره جوړ کړی دی، که دا هم فرضاً نه وای سوی شکر د سپین دنیا خو لږه نه ده. دا متل خو به دې اورېدلی وي "پیسه د زوی سر وهي". نو ستا حلق په څه وچ دی".

د دوی د دې خبرو په وخت کې ملا صاحب (پوستين) اغوستی و او هغه يې په خان برابر اوه او هره ګړی يې خپلو پښو ته کتل چې پر جوړ دی او که اوږد؟.

خان صاحب چې خپله لومړی خبره خلاصوله نو يې پر ږغ کړه:

"ستا او د خدای بخښلي ونه خو سره برابره غونډي ښکارېده خو پوستين يې لږ څه اوږد ښکارېږي. زه د دې تکې پر خوا يم چې لږ څه اوږد وي ښه دی، څکه عالمان تل اوږده شيان اغوندي او سر تر پښو پوري پټ خوښ دي".

په دې حال کې د سپین د مور او ښکې د لالټين تر رڼا وځلېدلې او يوه دقيقه وروسته کوم چې ملا صاحب پر خان باندې



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مړي بالاپوښ سماوه د دې سوک سو. خان صاحب په ملا باندي لږ څه په منت لړلي بڼغ ناري کړل:

"دا شیان اوس پرېږده هر کار خپل وخت لري".

د ملاصاحب اصل تکې ته پام سو او په بیړه یې هغه له ځانه لري کړ، خو د نورو کالو په ترتیب بوخت سو او په دغه فکر کې و چي دا به په څه ډول په یوه پلا یوسي. لومړی تر دې چي سپین ته ووایي چي یو بزګر ته بڼغ کړي چي دغه شیان بیا له ده سره ورسوي، د خان صاحب بڼغ یې تر غوږ سو چي د سپین مور یې دلاسا کوله او ورته یې ویل:

"مرګ خو حقه پیاله ده چي هر څوک یې څکي. خدای بخښلی خورا طالېمن سړی و چي د خپل مشر زوی او نورو خپلو خپلوانو په یامه پټ سو او هم په دې بختور دی چي سترګي یې تر شا کړې نه دي، ځکه چي کامل یقین یې و چي دنیا یې دومره ډېره کړې ده چي لمسیان به یې تمامه نه کړی سي. نو ته باید په دې سر لوړې سې چي نن ورځ ستا د مېړه داسي ښه شیان پاته سوي دي چي هغه تاسو ملا ته ورکوئ او یا یې خیراتوئ، په دې باندي باید تاسو شکر وکاږئ، که خدای بخښلي څه نه درلودای او لکه دا نور اوپره اولڅ لغړ خلګ (خدای دي نه کړي) مړ وای نو هم به ناسته وې. یه ادې ته باید تر هر چا ډېره خوشحالي وکړي بلکه خبره خو دا ده چي تا دا کالي که څه هم د خدای په نامه ورکړل خو داسي ځای او داسي سړي ته دي ورکړل چي هغه ستاسي په دنیایي درد هم خوړلي دي او خوري یې".

"که مي له زړه پوښتې نو وروسته له هغه چي د سپین پلار دوهمه ښځه وکړه ماته یې بیا د زړه خواږه نه دي راکړي او سم بڼغ یې راباندي کړی نه دی، زما او د ده عمر ټول په خواشیني کې تېر سو نو اوس هیڅ دلیل نه شته چي زه دي پر ده باندي وژاړم او یا



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي په دې باندي وژاړم چې د ده کالي ولې بل څوک اغوندي. هسې مازې غريب راته و درېد او بې واکه مې اوښکې له سترګو توی سوې، خوله يوه جهته مې په ده خوار هم زړه سوځي هغه دا چې په دغه دومره دنيا کې ده د آرامی نفس و نه کېښ او ټول عمر يې په خواشيني او غم کې تېر کړ. که به دباندي لاړ. نو له خپلو بزګرانو او پوروړو سره به په سر وتلی و او کورته به شين زړه راغی، او کېښېناستلی به لا نه و چې د ښځو او هلکانو له جنجاله نو سره به يې مشغولاوه. په يو سبب خو ښه سو چې خدای يې خوله پټه کړه او لږ څه آرام سو".

له لږ څه ساه اچولو څخه وروسته يې بيا وويل:

"خان صاحب په دې زړه راپوره کړ چې د هلک (سپين) د پچې تری دي تړلې دي، ما خو ځله په دې برخه کې له سپين څخه پوښتنه کړې وه. خو هغه ماته کوم په زړه پوري ځواب زاکړی نه و. خو اوس دي (خېر يوسي) زړه پر پښتي کړ".

لومړی تر هغه چې خان صاحب يو څه ووايي سپين مور ته لږ څه تريو سو او تر شونډانو لاندي يې وويل:

"ادې ته خو بيا باندي سوې. کله به له ايشه کښېنې؟ بس دی پرې مورده چې مور يو څه خبري سره وکړو".

ملا:

"سپينه د مور په خوله پوري ډېر مه مښله! په کتابونو يي کې يې راوړي دي چې جنت د مور او پلار تر پښو لاندي دی"

خان صاحب:

"ادې! مور چې اوس له ډوډۍ خوړلو څخه بې غمه سو نو غواړو چې ستاسې د کور و کاله په شاوخوا کې يو څه سره ووايو. او په دې برخه کې ځانونه سره پوه کړو، نو که ته مور يوه ګړی



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږدې ښه به وي ځکه چې بيا ملاصاحب د ماخوستن لمانځه ته درومي".

د سپين مور سره له خپله کوچني زويه سمدلاسه ووتله بيا ملا سپين ته ووېل:

"لومړی تر هغه چې بزګران ځملي او ويده سي که دي چا ته ووېل چې بيا له ما سره دغه کالي تر کوره پوري ورسوي. ځکه چې تياره ده زه ټول يواځې نه شم وړلای تا ته دي خدای بر کتونه در کړي. ښه دي لاندي باندي پټ کړم. اوس مې نو مظلمه په خپله غاړه".

خان صاحب:

"ښه وايي سپنيه اوس لا يو بزګر خبر کړه. دوی خو چې لمر لا په متي لوېدلی وي په خپلو غارو ننوځي".

"ملاصاحب تر څو چې سپين بېر ته راګرځي ماوتا به يو څه سره وګړېږو".

سپين چې تر وره ووت نو ملاصاحب په داسي حال کي چې د خپلو سپينو زرو په غاښتومبني يې د غاښ په ټومبلو پيل کاوه خان صاحب ته يې ووېل چې:

"ستا يو شی تر زامه سو. او که تر اوسه پوري لا دغسي ناست يې؟ موږ ملايان يو ښه خوی لرو چې په لږ شي هم غاړه باسو خو ستاسي زړونه لوی دي او په دغو سپکو شيانو مو ښه نه کېږي".

خان:

"زما غم مه خوره ملاصاحب! موږ ته به هم خپل نصيب راورسېږي صبر ښه دی. نه دي دي اورېدلي چې د (صبر ونه په مراد پخېږي).



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته غوږ ونیسه اوس یې څرنګه کوې. چې د دوی لاس سره وخېژي. ماخو په خپله داسې اټکل وهلی دی چې باید لومړی دوی سره جلا سي. یعنې وپش وکړي. بیا هره ښځه پوهېږي او کار یې مګر په دې ترتیب به د دوی ګزاره لږ څه مشکله غوندي سي. له دې کبله چې دغه مشکلات ایسته کړل سي نو ښه دا ده چې دوې ښځې سره له خپلو اولادونو یوې خواته سي او دوې نوري بلې خواته.

د سپین مور او هغه ښځه چې یو زوی او یوه لور لري سره یو ځای سي او نوري دوې دې یو ځای بلې خواته خپله لاره وهي.

سپین دې ته خورا په تلوسه دی چې ژر تر ژره هغه کښته لوی باغ د ځان کړي. ځکه چې په کلي کي بل داسې څوک د خولې د پرېکړي سړی نه شته. نو څرګنده ده چې زه او ته به په دغه کار کي ناست یو او دریم توب (منځګړ توب) به کوو. زما خو ځکه دغه باغ په سپین باندي لورېږي چې دی یو سړی برېښي او د سپین کالیو او سپین پګړیو قدر ورسره دی. یوه ورځ که سړی په کوم ځای کي اړ او محتاج سي نو د ده له دنیا څخه به ګټه واخلي، دغه نور ورونه خو یې کوچنیان دي شپې او ورځې نه دي پرې تېري سوې. نو له دې کبله دوی د هیڅ ښې نه سي کېدلای. نو ما غوښتل چې له تا څخه پوښتنه وکړم چې څه وخت به د دوی لاسونه سره کاږو او سپین ته د دغه لوی باغ ورکولو ته د شریعت غاښې څه ډول برابروې؟".

خدای دې خبر کړي دا خبري خو په سر کي اسانه دي، دومره ډېر کونجان نه لري که دې خو ښه وي صاحبزاده صاحب به هم خبر کړو او د هغه په مخ کي به کار په خپل زړه سره پرې کړو. نو وینې! څوک به څه ویلی هم نه سي، هر څوک به وایي چې وېش په سمه سوی دی. که څه هم زما کامل باور دی چې هیڅوک د



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای په فضل موږ ته کاره کتلای نه سي، او هر څه چي موږ وکړو هغه عادلانه ګڼي. خو بیا هم د احتیاط لپاره زما په خیال دغه ټکی ښه دی، اوس خو زمانه بدده په هره خبره کي خاشې ماتوي، که ته بل څه په کې وایې نو هم ووایه زه یې منلو ته تیار یم، خو په دې شرط چي له شریعت څخه مخالف نه وي".

خان:

"خدای مو دي له دې څخه وژغوري چي موږ به له شریعته مخالف ګام اخلو، شکر دی مسلمانان یو، الحمدالله په دین د اسلام یو، تا په خپل عمر کي داسي کار له ما څخه لیدلی دی چي هغه په شریعت برابر نه وي، هو! په دې کي شک نه شته چي ولسي رسم ته هم ګورو خو هیڅکله داسي نه کوو چي شریعت تر پښو لاندي کړو.

سبا به د لالي اکا د کونډي مسله فیصله کوو، ته وا هغه به له شریعته مخالف فیصله کوم؟. که څه هم ما د وختونه په خپل زړه کي غوټه کړې ده چي ښځه به یو بل چېري خرڅوم خو دا درته وایم چي دغه کار به تر هغه وخته پوري ونه کړم چي د شریعت غابښي ورته برابر نه کړم، تاته معلومه ده چي ما لږ داسي کارونه کړي دي چي په هغه کي مي له تا څخه مسوره نه وي اخیستې او ته هم تر هغه پوري فتوی نه راکوې تر څو چي یوه لاره ورته برابره نه کړي. زه خو تل د شریعت سره مینه لرم، د همدې شریعت په برکت موږ ته یوه خوله مړی رارسېږي او بل څوک پر لاسونو راته اوبه اچوي".

ملا صاحب د ده ښه او د مېړاني کارونه وستایل:

"ستا په غیاب کي ما تل ویلي دي چي ته د شریعت سره خورا مینه لري. هیڅ وخت دي شریعت خوار کړی نه دی. بل خوی دي دا ښه دی چي پر خپل لمانځه او اوداسه باندي ښه ټینګ



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ يې. ستا لمونځ ما قضا نه دی ليدلی. هو! هر څه چې سړی وکړي او هر ډول ګناهونه چې د سړي څخه صادر سي، خو که پر خپل لمانځه او او داسه باندي ټينګ و نو خدای تعالیٰ ورته تر هغو ګناهونو ور تېرېږي او عفوه ورته کوي".

دا چې په ولس کي ستا شا مخکي ته نه خي او څوک دي راپر خولی نه سي علت يې همدا دی چې دين نيولی يې او د هغه په حمايت کي يې. بندګان خو ټل ګناهکار وي، درواغ ورځني وويل سي، د بل حق ورځني خوړل کېږي، ظلم ور څخه وسي او په سوونو نور کارونه يې له لاسه وسي، خو چې کليمه شريفه ووايي او خپل لمونځ او اودس وکړي نو ډېر اميد شته چې خدای تعالیٰ به يې بېرته سپين سپېڅلی کړي".

ملاصاحب لا خپل دغه تقرير خلاص کړی نه و چې سپين په پتنوس کي د چايو لوښي په لاس په خونه راننووت او ملا ته يې داړ ورکړ چې دوه تنه بزګران يې د دغه کار لپاره موظف کړل، يوه ګړی وروسته به راسي او مرسته به درسره وکړي.

بيا خان صاحب وويل چې:

"شکر دی خدايه زه راضي يم خو ته مه سې ناراضه! ملاصاحب! دا د سر کاري دفترو کارونه خو زما نسوار نه دي خو دغه په شرعي مسايلو کي يو څه مات وګوډ کېږم، اوس د سپين کار څه وخت او په څه ډول خلاصوي؟".

ملاصاحب:

"څرنګه چې د خدای لاره او شريعت مقتضي وي، هغسي به کوو".

خان:

"ملاصاحب د پښتو دغه متل به نه هېروې چې وايي (برخي وېشه مړو نه ګوره).



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ده لپاره باید یوه په زړه پوري لاره وسنجول سي".

ملاصاحب:

"ځرنګه چي مالومړی درته وویل "دغه کار خو په سر کي اسان دی".

په دغه ترخ کي څو ورځي تېري سوې او په دغه ضمن کي به خان صاحب او ملاصاحب سره لیدل کتل او په دې به یې بحث کاوه چي د دغه بډای د کاله مشکلات په څه ډول حل کړي.

یعني په دې ډول یې حل کړي چي (هم خرما او هم ثواب).

یوه ورځ ملاصاحب د سهار له لمانځه وروسته د خان کره ولاړی، او هغه ته یې وویل:

"زه پوهېږم چي ته د دغه کاله دوست یې او پر دوی باندي هر ډول پیرزوینه لري، نو راسه داسي وکړو چي سپین خو زلمی دی او د خان په خېر و شر ښه پوهېږي هغه ته به خپله بر خه ورمعلومه کړو، د دې نورو صغیرانو لپاره به شرعاً یو وصي وټاکو، او هغه وصي به د دوی زېړمه تر هغه وخته پوري کوي تر څو چي دوی لویېږي نو زما په خیال د دوی وصایت هم ته په غاړه واخله. په دغه صورت کي ته له سپین سره هر ډول ښه کولای سې، او ځرنګه چي دي زړه وي هغسي معامله کولای سې. خو دا هم څو شرطونه لري.

لومړی دا چي دا دري ښځي پلار ګنی لري. یعني د یتیمانو ماماخېل دي هغوی باید په دغه راضي کړل سي او یا په یو ډول د دوی زړونه په لاس راوړل سي چي په دغه کار کي خاشې ماتي نه کړي.

دوهم دا چي د صاحبزاده صاحب تر غوږ هم دا خبره ورتېره کړله سي، ځکه چي هغه مبارک هم د دې کاله د هوسایي او ښه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



والـي سـره مينـه لـري او تـل د مرحـوم پـه آس سـپور د دوی کـره راځي.

دريـم دا چـي پـه خپلـه کونـډي بايـد رضـا کـړی سـي. پـه دې ډول کوم وخت چي ته وصي سوې نو ومنه چي د ټولو به په کي خير وي. يعني هم تا ته ښه دی هم سپين ته او هم کونډو يتيمانو ته. د ميرامـد پـه خـصوص کـي بايـد ووايـم چـي د هغـه زړه سـوړ دی او د خپـل مـړه ورور لـه کـور سـره دومـره علاقـه نـه لـري صـرف يـو څـو ورځـي دوري دوري وځغاسـت خـو بيـا چـي يـې وضـعيتونه وليـدل او پـه دې پـوه سـو چـي کـوم شـی نـه سـي ترېنـه جـوړولای نـو يـې ببخـي لاس ورځني واخيـست. لـه دې کبلـه ميرامـد پـه هـيڅ وشـمېره. پرتـه لـه دغـه پـه ميرامـد هـيڅ اعتمـاد هـم نـه لـري ځکـه چـي ټـول عمـر يـې لـه خپـل مـړه ورور سـره پـه دعـوو او دنګلـو کـي تېـر کـړ او هـر چېـري بـه يـې نـاري سـورې وهلـې چـي د ده حـق يـې خـوړلی دی. نـو ګومـان نـه کوم چي هغه ته دي څوک مخه ور کړي".

خـان پـه داسـي حـال کـي چـي لـه ډېـري خوشـحالۍ پـه کـالو کـي نه ځايېده ملا ته وويل:

"دغـه کـار بـه شـرعي مـشکلات لـري. نور خپـل خپلوان يـې ډېـر دي".

"سـتا صـداقت، ښـه سـړيتوب او دا چـي د خلکـو لـه حـق خوړلـو ځخـه دي بـد راځـي سـتا دوسـتانو تـه بـه معلوم وي. نـو کـه هغـه سـتا پـه (امانـت داری) بانـدي شـهادت ور کـړي. نـو البتـه شـريعت خـو تـل پـه دغـه ډول صـادق وصـي پـسې ګرځـي. کـه لـه مـا څخـه څـوک پوښـتنه وکړي نو زه به ورو سته له هغـه چي شاهدان تېـر سي فتوی ور کړم. شاهدان مي ځکه وويل چي خبره شريعت برابره سي".

خان صاحب:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



"شاهدان خو به د يوې روپۍ شل تنه در ته راولم، د دوى څه كمى دى خو چي خپلو بزګرانو ته ووايم د شريعت لار خو به رابرابره كړي، راغلو دې ته چي د كونډو رضايت په كار دى، دا هم دومره ګران كار نه برېښي كه د خداى تعالىٰ او ستاسو او د صاحبزاده صاحب نظر وي نو باور وكړه چي هغه هم په يو چړوك كېږي".

خان لومړى دې مسلې ته خير نه و، خو چي وروسته يې ښه چرت په كي وواهه نو يې د خپل وصايت د امكاناتو موضوع ښه ترا تر ستر ګو رونه و برېښېدله او له خان سره يې فيصله وكړه چي لومړى تر هر څه يو څو پوروړي ور ته پور ته كړي او بيا هغه په خپله ور فيصله كړي او پاى كي د ده له مقصد سره مرسته وكړى سي.

سمدلاسه يې خپل ناظر يو دوو داسي كسانو ته ور واستاوه چي د هغوى مځكه او باغونه له عمرو-عمرو را ايسته د سپين پر كاله ګرو وه، او هم يې ښې ډېري پيسي په (سلم) ترېنه اخيستې وې، دغه دواړه كسان ښه د خولې د پرېكړي سړي وو. پخوا يې هم د سپين د پلار په مقابل كي سر پور ته كړى و او د خپلو مځكو حاصلات يې ورځني ګرځولي وو، ځكه چي د دوى له بدي خولې څخه وېريده او ډېر يې ور سره ځېرلاى نه سواى، مګر بيا په خپله دغه خان په كي مداخله وكړه او دوى دواړو ته يې خورا درانه تاوانونه ورواړول او شپېړ اووه مياشتي يې په محكمو كي سرګردانه وګرځول او له خپلي خوارى او غريبۍ څخه يې اچولي وو، او په اصطلاح ښه يې (د سر په كاسه كي اوبه ور كړې وې). نو له هغه وخت څخه را ايسته دوى دواړه د خان صاحب تابع بلل كېدل او هيڅكله يې د بډاى د مځكو حاصلات بيا نه وو ګرځولي،



(WWW.KITABTOON.COM) كتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم وخت چې د خان صاحب سترګي په دوی باندي ومښتې نو سمدلاسه یې ورته وویل چې:

"هلکانو ستړي مه سئ خدای مو هر کله راوله! د زړه خواله به هغه وخت درسره کوم چې تاسي کښېنئ او شلومبې او ډوډوی وخورئ".

وروسته له هغه خان صاحب ناظر ته امر وکړ چې ژر ورته ډوډۍ او شلومبې راوړي او په خپله د باندي د دې لپاره ووت چې دوی ته د ډوډۍ خوړلو موقع ورکړي او هم د خپل نابېره شفقت موثرات په کي ډېر کړي.

یو تن چې (تور) نومېده دغه بل (سکاڼ) ته وویل:

"خان صاحب نن خورا مهربانه دی. نور کله به یې زموږ سلام نه اخیست او زموږ مخونو ته به یې سم نه کتل. خو اوس دا دومره نرمه او پسته وضع چې ده له موږ سره را اخیستې ده د حیرانتیا وړ ده. ته وا د دې علت به څه وي؟ بیا خو به یې کوم کوهې راته کیندلی نه وي؟. ما ته خو والله خپل زړه دا وایي چې په یوه ډوله کي به مو واچوي چې عمري زموږ له خبرو او جنجالونو څخه خلاص سي".

(سکاڼ) په داسي حال کي چې په ډوډۍ پسي یې د شلومبو غوړپ کاوه وویل:

"شل پلا مې تا ته ویلي دي چې په خوله باندي لاس ونیسه او د خانانو په نسبت څه مه وایه، او مه هغه چا ته څه وایه چې دوی یې درولي دي. خو ستا هیڅ آرام نه راځي او تل دي په بدیانو، خانانو او ملایانو پسې پیلتې را اخیستې دي او د هغوی ناوړه کړه وړه خلکو ته ښودل غواړې. اوس خدای خبر چېري مو په کومه بندي خانه کي وراسته کړي".



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی دغه خبره په متې خلاصه کړې وه چې خان بیرته راوګرځېده او بیایې په خورا مینه ترینه پوښتنه وکړه چې هیله لري دوی دواړه هغه کار په ښه توګه وکړي کوم چې اوس دوی ته سپارل کیږي.

په دغه وخت کې د دوی په زړونو کې ډول ډول فکرونه ورګرځېدل.

(سکاڼ) لومړی دغه فکر وکړ چې د خان صاحب چاته خواشنه سوې ده او اوس غواړي چې په دوی باندې یې پرې باسي. بیا به یې ویل چې د دې کار لپاره خو خپله د خان صاحب ښه غښتلي بزګران شته په هغوی به یې دغه کار کړی وای. خو د دوی دغه تلوسې ژر د خان په زغ مړاوې غوندې سوې:

"دومره ګران کار نه درته سپارم، تن سبا راشه اخیستله کېږي، کوم وخت چې د سپین ناظر درسې نو ګورئ چې غنم ورته ورنه کړئ. ورته وواياست چې زیاته موږ نه غواړو چې د خپل موټ زحمت او ثمره بې انصافو بدایانو ته ورکړو، والله چې ټوټه ټوټه مو کړې هم که شی درکړو. زما یقین دی چې ناظر یې درسره زور نه سي کولای، کوم وخت که یې زور زیاتی کاوه نو سمدلاسه یې په ډګر کې راغور ځار کړئ او ښه یې وډبوئ. خو ګورئ چې کوم هډ مډ یې ورمات نه کړئ. مقصد دا دی چې وې ډار کړئ.

(تور) ورته وویل:

"په دواړو سترګو" د مړو لا کله په قیامت نه وه رضا" خو صرف دومره ټکی راته ووایه چې د دې معاملې پای به څه وي؟. یعني په رښتیا ستا پر موږ زړه سوی دی او زموږ لوری کوې او که مو کوم بل مقصد په نظر کې دی. دا پوښتنه مې ځکه د صاحب نه وکړه چې موږ پوه کړې".



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی تر دې چې خان څه ووايي (سکاڼ) پر راټوپ وهل:

"ستايې په نورو خبرو څه د خېر و شر ذمه وار په خپله خان صاحب دی زما خو سړي دومره ورته لنډ دي چې بلې خبرې ته به ونه ګورم او ښه به يې درته وړبوم".

خان په يوه خورا پسته او خوږه لهجه وويل:

"ځار تر هغه چې يو کميس يې تر تاډېر خيري کړی وي.

وينې! سکاڼ چې په خبره پوه دی او تجربه يې ښه ده نو مطلب ته ژر ور ورسېده. خو ته لکه (مونډې يوم) خاوره ډېروې او خبره نه شې سره وېشلای. څه چې ما درته وويل ته هغسې وکړه. کومه خطره او بد به نه پېښ کې وينې. ته په ما باور ولره چې کوهي ته دي نه ورغورځوم پر ته له دغه دا ته ولې له خپله ژونده سره دومره مينه لرې. يو او پره سړی يې چې اوس نو هيڅ نه دي درپاته سوي. ته که دغه کار وکړې او د بدای په مخ کې ودرېږې نو ته به څه بايلې او څه درپورې شته؟.

په وروره! څه چې زه درته وايم هغسې کوه. بې خيري به له سره ونه وينې. تېر به هېر وې هر څه چې مو سره کړي دي هغه سوي دي. زموږ و ستاسې اوس بياله سره شروع کېږي".

خان صاحب د سپين او ملا صاحب په مقابل کې خپل وضعيت نور هم پسې پوست کړ او تر پخوالا ډېره تواضع ورته کوي او له دواړو سره د وېش په خصوص کې په تماس کې دی.

سر بېره له دغو دوو کسانو ده د سپين له نورو ميرو ګانو سره هم تګ راتګ ډېر و نښلاوه دوی ته به يې د راتلونکي ښه ژوند په باب کې غوړې او پستې خبرې کولې او دا چې له دوی سره به په هره برخه کې ښه مرسته وکړای سي خوږې وعدې ورکولې.

خان صاحب په جمعه کې يو ځل يا دوه ځله د صاحبزاده صاحب ځای ته به هم ورته او له هغه سره به يې د دغه بډای د کاله



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خصوص کي کله له ليري او کله بيا له نږدې خبري اتري کولې، خو په خپله صاحبزاده صاحب په دغو وختو کي له ده څخه مانېجن غوندي دی. که څه هم په ظاهره چي خلګ ډېر وي ده ته په درنه سترګه ګوري، خو چي سره يواځي سي وضعيتونه يې سا ړه سي.

يوه ورځ خان صاحب په ډکه خوله ورته وويل:

"صاحبزاده صاحب! له څه مودې را ايسي خپه غوندي ښکارې. زه چي په زړه کي ګرځوم نو هيڅ داسي شی په ياد نه راځي چي هغه به ستا د خپګان موجب سوی وي، خو بيا هم نه ويل کېږي انسان له خطا څخه خالي نه دی، که ما کومه ګناه کړې وي هيله کوم چي راته ووايې، ځکه چي زما او ستا په منځ کي خو د زړه بدوالی او مانېجني ګنجايش نه لري، خدای دي نه کړي يوه ورځ به د دواړو لپاره ضررناکه ثابته سوې وي".

د دې وروستيو جملو په اداکولو سره صاحبزاده صاحب لږ څه سور وشين سو او طبيعت يې پرله واوښت او په يو وچ بڼ يې ورته وويل:

"ما ستا په سر باندي هغه بل خان له خاني څخه وايست چي له پلاره او له نيکه خان و. که دي په ياد وي همدا زه وم چي خلګو ته مي ستا د نېت خبري وکړې او دا مي ورته وويل چي تا ودروي، او هغه بل خوارکی مي په تورو تور کړ. دلته خو اوس څوک نه شته چي زما او ستا خبري واوري، نو رښتيا درته ووايم زما خينو مخلصانو او مريدانو راته وويل چي د غوبه يې له خاني سره څه؟ خو زما د اصرار په اثر خلګو تا ته د خاني پګړې دروتړله. په بله ژبه ته يواځي او يواځي ما درولی خان وې، او ما داسي ګڼله چي اوس به نو زما دېره له دغه پلوه بې غمه وي، خو تا



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته وروسته بنه ورو-ورو بدلوله او اوس دې اندازې ته خبره را رسېدلې ده چې په ما کې چرت نه وهې.

دا څو وخته چې داسې تود-تود راځې او د خلکو په مخ کې خان زما ډېر مخلص ښيي او لاسونه مې ښکلوي مقصد دې دا دی چې د سپين په فقره کې غونډه ګوله يواځې خپلې خولې ته کړې. که سپين هغه آس نه وای را الېږلی نو ما ستا مخالفت خورا کلک تصور کاوه او ژر به مې ستا د راپرې ايستلو لپاره اقدام کړی وای، سربېره په دې له څه مودې را ايسته دې وضعيت خورا سوړ سوی دی، يو څو فقرې مې درواستولې چې هغه فيصله کړه او له خلکو سره چې زما مخلصان دي وخغله خو تا په هغو فقرو کې خپل موټ ښه کول او خورا ډېر څه دې په جوړ کړي وو، او موړ ته دې والله که يوه پکړی هم راکړې وي، د پيرو فقير حق نه پېژنې او هر څه دې پر خپله مخه پسې يوووړل، سړی خو داسې نه کوي او پنځه واړه ګوتې په خوله نه منډي، تا په پارسي ژبه کې د کار دارانو دغه متل نه دی اورېدلی چې وايي. (چيزی بخور چيزی بده و چيزی بنه).

نور به څه درته وايم که سړی يې خو همدغه درته کافي ده او ځان به سم کړې که نه وي نو..." .

په دغه وخت کې د خان په هغو تورو هيلو کې سړې چړوکې ولاړې، چې ده د سپين او د هغه د کاله په نسبت يې درلودې، په زړه کې يې وويل چې که څه هم دا ګوله خو مې له خولې تللې غوندې ده خو بايد خپل زړه لږ څه سوړ کړم. بيا نو هر څه چې پېښه سوه هغه به پېښېږي.

تر دغه وخته پورې دوی لږ څه ليرې سره ناست وو، خان صاحب سمدلاسه راولاړ سو او د صاحبزاده صاحب تر څنګ کېښناست او ورته يې وويل:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ښه سو، چي په رښتيا ويل پيل وسو... په دغه وخت کي خان ته ناڅاپه په زړه کي څه وروګرځېدل او خپله وينا يې بې له کوم ترتيبه او يا تکميلولو نه ختم کړه او تقريباً يوه دقيقه پټه خوله پاته سو چي په دغه موده کي يې خپل تندی ورين کړ. او خوله يې سره وغوړوله او په يوه عاجزانه ږغ يې ورته وويل:

"ته خو زموږ مور او پلار يې، موږ اميان خلک يو، ډېري خطاګاني را څخه خېژي خو تاسي، هو! تاسي لوی خلک بايد زموږ په خطا باندي د عفوه او بخشش پښه راکش کاږئ. په پارسي کي دا څه ښه متل دی چي وايي، (از خوردها الخشيدن، از کلانها وبزرګان بخشيدن).

نو صاحبه! په دې کي خو څه شک نه شته چي له موږ څخه به سهوي سوې وي، خو خدای تعالی دي د شيطانانو کور او کرونده ورانه کړي چي هغه تاسو ته خورا غټ او ډېر څه ښيي، او زموږ سپيني او پاکي لمنې رامر داروي. که نه وي زه به ولي د هغه چا بې خيري غواړم چي د هغه په برکت زه پر خلکو باندي دومره بابايي او خاني کوم.

بل دا چي دا خو څرګنده ده چي زموږ موجوديت ستاسي پيرانو او فقيرانو په ښه او نېک نظر پوري تړلی دی. دا تاسي مبارکان ياست چي موږ مو په ورغوي ايښي يو او له مخالفو عناصرو څخه مو ژغورئ.

يه.يه.يه! صاحبه تر ګناهو به راتېرېږې او په دې خورا خوشحالهسوم چي هر څه دي سپين راته وويل. پيران او فقيران خو پر موږ باندي حق لري چي دغه حق موږ په مشکل ادا کولای سو...".

د دې خبري وروستی تکی يې لا په خوله کي و چي د صاحبزاده صاحب پر لاس يې ورحمله کړه او هغه يې چي په بته



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوته یې اوږدې شامقصودی تسپې ځړېدلې خپلې خولې ته یووړ او مچ یې کړ. بیا یې په سترګو کېښود.

د خان په دغه حرکت باندې ډېر خوشحال او غوړېده او د هغه سر یې خپلې خولې ته رانژدې کړ او په تندي یې ښکل کړ او د دلاسایي څو خبرې یې ورته وکړې چې په هغو سره خان نور هم وباټېده.

خان په خپل دغه حرکت چې په عین قهر او خواشیني کې یې خپل وضعیت سمدلاسه واړاوه، ډېر خوشحاله سو او هغه یې د خپل بریالیتوب لپاره خورا ښه په زړه پوري کار وګاڼه او بیا یې په یوه داسې لهجه چې د ده ژور او خورا ډېر اخلاص څرګنداوه ورته وویل:

"صاحبه! که درته تکلیف نه وي نو یوه ښورواګۍ له موږ سره وخورئ. ما خو یو څو وري ساتلي دي چې اوس خورا ښه چاغ سوي او غوښه یې هم ډېره نازکه ده، دا څو شپې ما وتا په یوه کاسه نه یو سره کښېنستلي".

کور دې ودان، ډوډۍ دې پنډه زما په دې وختو کې لږ څه پر لېنګو درد وي پر آس چندانې نه سم سپرېدلای که ډېر اصرار کوې نو کوم یو وری دلې راولېږه. مېله به پرې جوړه کړو.

خان په خپله وینا او د مقابل طرف په عکس العمل باندې نور هم خوشحالهسو او په داسې حال کې چې بیا یې د صاحب زاده صاحب لاسونه مچ کړل او رارخصت سو. خو لومړۍ تر دې چې د خونې له وره څخه راووځي صاحبزاده صاحب پسې راږغ کړل:

"خلک د دې نوې کارېز د مځکو خورا ډېر تعریف کوي، وایې چې یو شواروز یې خورا ډېر څه کېږې او د کارېز اوبه هم وایې چې خورا ډېرې او خوږې دي ته په دې کې رې ووهه که یو څه نیو که سړی په کې وکړي څه بد و دې خو به نه لرې".



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان بېر ته مخ ور ته راواړاوه او ور ته يې وويل:

"په دواړو سترګو هغه کارېز خو هر څه ښه - ښه دی. خو يو شی يې دی هغه دا چې د پنځو په لاس کې دی يعنې ډېر بزګران په کې برخې لري. دا خو څرګنده ده چې کار چې د پنځو سې هغه خراب سې. مګر يوه خبره په کې شته هغه دا چې دوی نه سره پرې جوړېږي او ګذاره يې نه باندې کېږي هيله ده چې بې تکليفه به په لاس راسي. ستا د دعا په برکت به هر څه اسانه سي".

"دغه ښه دی چې د پنځو سره ګډ وي که چېري د يوه او يا دوو وای نو په مشکله به نيو که په کې سوې وای. هلته زمونږ و ستاسې مخلصان ډېر دي. زه چاته ډېر په ډکه خوله نه سم ويلای ځکه زه د دې نورو فقيرانو غوندې نه يم. غوښت مې ډېر په خوله نه راځي څه مې کاوه. ملکونه خو مې شکر دی ډېر دي مګر خبره دا ده چې خلګ يې خورا ډېر صفت کوي".

خان په دې باندې نور هم خوشحاله سو. د رارخصتېدو په وخت کې صاحبزاده صاحب د راولاړېدو کوښښ وکړ خو د خان د اصرار په اثر صرف د نيالۍ څخه لږ شانتې پورته سو.

له دغو خبرو څخه څو شپې لا نه وې تېرې سوې چې يوه ورځ سپين د خان کره وراغی او نېغ د ده خونې ته ورننووت. خان د ده هر کلی وکړ او ژر تر ژره يې نيالۍ ورواچوله او ده ته يې پر هغه د کښېناستلو اشاره وکړه.

خان صاحب له دې لوري او له هغه لوري ور ته په خبرو کې و چې سپين ور ته وويل:

"نن بيا در ته په ژړا راغلی يم اوښکې به مې راپاکوې يعنې زه نن د (تور) او د (سکاڼ) له لاسه راغلی يم. پرون مې ناظر ورلېږلی و چې (راشه) ورځنې راوړي خو دوی دواړو د راشې له ورکولو څخه سر غړولی و او وچ کلک ځواب يې ور کړی و چې


(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته له دې راشه نه سي در كولاى او نوري سپكي سپوري يې هم ورته كړې وې. مثلاً ويل يې چې موږ بدايان د خلكو وينې څښو او تل مو د نورو په غوښو او وينو خوله سره وي، او داسي نوري ناپرېتي يې ورته كړې وې. كه مې رښتيا پوښتې دغه دواړه ډېر سپين سترګي خلك دي. هيڅكله يې راشه په ښه نيت نه ده راكړې. ناظر يو څه لاس ورسره ښوروليو خو دوى او د دوى خپلوانو يو څه ترټلى هم وچې تر اوسه پوري ژړغونكي - ژړغونكي كېږي".

خان د دې خبري په اورېدو سره خورا سره وغوړېده او په دې باندې چې د ده هر نقشه او چلونه د ده په زړه پوري ډول چلېږي خورا خوشحاله سو او سپين ته يې وويل:

"ته خوا مه بدوه، زه به يې كار وكړم. خو خلك په دې وختو كي لږ څه نه بلكي خورا ډېر سپين سترګي سوي دي، هغه پخواني مومنان چېري دي چې د يوه مسلمان حق به يې خورا ژر وركاوه او څوك به يې نه خورول. خو كه رښتيا در ته ووايم خلك هم تر يوه حده پوري ګرم نه دي ځكه اوس نو د ټولو له بدن څخه غوښه ولاړه او سپين هډوكي پاته دي. ته په خپله لږ څه فكر وكړه دغه (تور او سكاڼ) په خپل عمر كي په نس ماړه سوي نه دي، يواځي دوى څه كوې د دوى كور وكهول هم د مړې ګېډي شپه او ورځ ليدلې نه ده. كوم وخت چې دوى (۹) مياشتي وځغلي را وځغلي، پنبې چاودي، لاسونه چاودي، ګرمۍ يې پر خانو باندي كلكې ولاړې وې كوم وخت چې راشه سره سوه نو موږ وتاسي جوالونه ورته واچوو او ټوله ورځني راټوله كړو داسي بې انصافان لا هم سته چې (ګيزاري) لا هم ورځني راټولي كړي او دوى پر وچ ډګر پرېږدي، نو لږ څه حوصله په كار ده زه به يې انشاءالله درته سم كړم".



كتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه ډول باندي د دغه کاله څو نور پوروړي هم ورته پورته سول، او له ټاکلي ګټې ورکولو څخه يې غاړه وغړوله، د ځينو پالېزو او اجاره دارانو هم ځان يوې خوا بلي خواته کاوه خو خان به تل د سپين د خوښي لپاره هغه خلګ راغوښتل او په ظاهره به يې پېشرو ورته واهه او کله-کله خو به يې ښکنځل هم ورته کول چي ولي د سپين حق نه ورکوئ.

بله ورځ خان ملا صاحب ته وويل:

"هغه د وصي او وصايت خبري دي څه کړي؟، هغه دي لکه چي ټولي هېري سوي. ته داسي وکړه کوم وخت چي د سپين کره ورځې نو د خبرو په ترڅ کي دا ورته ووايه چي څو يو سور سترګی او غښتلی سړی خپل وصي ونه دروي ګومان کېږي چي ډېر خلګ دي له پور او د هغه د ګټې له ورکولو څخه سر وغړوي او په دې توګه به د ټول کاله شتمني خاوري ايرې سي. نو داوينا به دوی ته يو څه احساس ورکړي چي په دې برخه کي يو څه غور وکړي او هغه څه چي موږ غواړو هغه لاس ته راسي، که رښتيا درته ووايم ملا صاحب په دې شپو ورځو کي يو څه بې ميني غوندي سوی يې. پخوا به دي تل يوه نوې زړه راته کوله، لار او ځا به دي راښودل او کله-کله به دي زموږ کارونه او عملونه د شريعت په جامه کي راخوندي کول. خو اوس هغه سړی نه راته ښکارې، او داسي موږ غوندي ګرځې ولي علت يې څه دی؟، کوم شی خو به ما کړی نه وي چي ستا طبيعت خته سوی وي".

ملا صاحب بړيره وګروله او سترګي يې کوچني غوندي کړې او وې ويل:

"که مي يوه ګړی هېر سوی يې نو خالق مي دي غاړه بنده کړي. ته ولي پر ما باندي داسي او داسي ګومان کوې. زه خو يو دعا ګوی ملا سړی يم چي غير له لمانځه او اوداسه نه بل څه کار نه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرم. خو سره له هغه هم ماستا په کار کي هیڅ ځان نه دی سپمولی. پرون لا ورغلم او ټولو ته مي صفت وکړ او دا چي ستا زړه سوی او ښه میړانه هر چیري مشهوره ده. دوی ته مي تر غوږ ورتېره کړه. په وازه خوله سړی چاته نه سي ویلای چي ته دغه کار وکړه او یا هغه وکړه. هر کار وخت غواړي.

هو! اوس را په یاد سو ماته دوی هم ژړلي وو چي ځیني اسامیان ورته په سپکه ستر ګه ګوري. او لکه د پخوا غوندي سر ورته نه ټیټوي. ما هغه وخت ورته وویل چي خدای دي خان صاحب ته برکت ورکړي دغسي خلک به چي د مومنانو. یتیمانو او کونډو رنډو حق نه ورکوي ژر پر خپل ځای میخ کښېنوي او خورا دروندره هیداد (سزا) به ورکړي. دوی ټول زما په دغه خبره یو څه زړورسول او داسي خر ګندېده چي نور یې زړه درنزدې سو.

موږ خو خپله سعیه بندګي کوو. خو هو یو څه درته وایم چي زه په خپله نه غواړم چي له شریعت مخالف کار وسي، هر څه باید په شرع برابر وي.

موږ خو له چا څخه غلا نه کوو چي دوی رضا کړو او د دوی په خوښه وصایت راکړل سي نو که څوک-څوک رضا کړي نو بیا به په هغه کي څه نقض وي، نه دي دي اورېدلي چي وایي (رضایي کړه ملا یې ماته کړه). دغه کار باید ژر سره ورسیږي خورا به خوشحاله شم که دغه کار لومړی تر هغه چي اوبه اوړي (یعني د مني غنم کرل کیږي) سر ته ورسیږي. نو ښځي به ښه سي.

بله خبره دا ده چي دوی بله چاره هم نه لري بې له دې چي ما وصي کړي او یا مي د خان ملګری وساتي. که دوی په دغه کي خنډ کول غواړي نو (زه خو هم خوړلي سومه نه یم) داسي چلونه او ولونه به ورته جوړ سي چي په خپله به ورته ووایي. (شپاړس) خو زه هغه ستا خبره نه غواړم چي له شریعته مخالفت کار وکړم. که



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي چېري زما تندي ورته تريو سو نو د هيچا تندي به غوړېدلي و نه ويني، له تا څخه صرف دومره هيله ده چي دوی په اصل حقيقت پوه کړې".

خان د صاحبزاده صاحب کره خپل تګ راتګ نور هم ډېر کړ او همدا ډول د بداى کاله ته به هر وخت ورته او د هغوی وضعيت به يې له نږدې څخه کوت او تل به يې د دې لپاره خوړې او په زړه پوري هيلي په زړه کي روزلې چي يوه ورځ نه يوه ورځ به د دغه بداى د يتيمانو وصي سي، بيا به هر څه اسانه ومومي.

يوه ورځ ګهيځ دی د صاحبزاده صاحب په حضور کي په خورا ادب ناست و بلکې څادر يې تر خان دا ډول تاو کړی و چي تا به ويل (مراقبه) ناست دی. کوم وخت چي نور حاضرين او مخلصين رخصت سول، نو خان صاحب ورو خپل سر د څنګنو څخه راپورته کړ او صاحبزاده صاحب ته يې وويل:

"د سپين په کاله کي تل څوړه وي له کومه وخته چي يې پلار مړ سوی دی نو سپين خوار کی هم (د سر له بويه وتلی دی) تل يې په چمبر کي چغ و بوغ وي. ما و ملاصاحب ډېر کوښښ کاوه چي د دوی تر منځ يو څه جوړه او روغه سره راسي، خو دوی ځکه چي د ښځو کور دی په هيڅ ډول غاړه نه سره ږدي، او يو بل ته تن نه ورکوي، زموږ تجويز داسي و چي سپين او بل کوچنی ورور يې (ګړدی) سره يو خاى سي او د خپل انګړ اوسني ور وتړي او بل لوري ته ور جوړ کړي او دغه نور يتيمان دې سره يوې خواته سي ځکه چي د دوی ميندي هم لږ څه سره څټي او دومره به يو د بل په غاړه کي نه سره لوېږي، خو ځکه چي دنيا يې ډېره ده نو بايد يو امين او صادق سړی د دوی وصي سي چي د دوی مال او شتمني خاوري نه سي، نو ما غوښتل چي په دغه باب کي له تاسي سره



كتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصلحت وکړم او څرنګه چې ستا خوښه وي هغسي به وکړو چې لږ څه مو غوړونه په کرار سي".

څو ثانيې لا نه وې تېري سوې چې خان (ها!) کړه او خپله خبره يې داسي پسې اوږده کړه:

"ما په نوي کارېز کي د هغو مخکو پوښتنه هم وکړه چې تا راته ويلي وو. په هغه کارېز کي د سپين د کاله مځکي ډېري دي. داسي در ته ووايم چې څلورمه برخه يې د دوی وې. نوري هم پيدا کېږي مقصد دا دی چې پوره اميد شته چې په هغه ځای کي يو څه مځکي په ښه توګه بې له دې چې غوږ په غوږ خبر سي لاس ته درسي".

صاحبزاده صاحب وروسته له لږ فکر څخه ورته وويل:

"تل ما تا ته نصيحت کړی دی چې د خان تر کار د نورو کارونه له مخه کوه ځکه چې په دغسي کارونو او په دغسي کولو کي ثوابونه دي. ته لومړی زموږ د مځکي موضوع چې په نوي کارېز کي به لاس ته راسي يا رانه سي، پرېږده، د هغو کونډو يتيمانو مسله وځېړه چې رښتيا د دوی بړغ تل تر موږ ايسته تېرېږي په خپله له کونډو سره په تېره بيا د سپين د مور سره چې د ټولو څخه سپين سرې بلله کېږي. ما په دې برخه کي خبري کړې دي هغوی دغه چې ته وايې راته ويلي دي.

دا چې دوې ښځي سره له خپلو اولادونو يوې خواته سي او دوې بلي خواته څه ګټه دوی ته لري؟، اول و اخر خو بيا هم سره جلا کېدونکي دي نو اوس دې لا جلا سي، يعني څلور بني دې په څلورو لارو لاړې سي. څوک چې مېړه کوي و دې کړي او څوک چې له خپلو اولادونو سره کښېني، نو دې کښېني، وصي بايد په شريعت برابر سړی وي چې د يتيمانو مال ونه تروښي، زه خو ستاسي په ټول کلي کي بل داسي څوک نه وينم بې له تا يا ستاسي



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلي د ملاصاحب څخه نور خو ټول اوپره خلګ دي او په ښه او بد نه پوهېږي. وځي ننوځي خو په هیڅ درک نه پوهیږي نو زما په عقیده تا او ملاصاحب سره کښېنئ او دغه مسله ښه وڅېړئ او بیا له سپین سره هم مصلحت وکړئ چي هغه څه وایي. ماته څو ورځي د مخه په خپله ملاصاحب ویلي و چي د خان زړه غواړي چي له دغي کورنۍ سره مرسته وکړي یعني د دوی وصایت په غاړه واخلي. خو بیا هم په کلي کي یوه دوه درې په عمر پاخه بزګران سره راغونډ کړئ او یوه وړوکي غونډي جرګګی جوړه کړئ په هره خوا مو چي سره غوټه کړه هغسي وکړئ".

خان د دغو خبرو په اورېدلو په خپلو کالیو کي نه ځایېده او له ډېري خاشحالي یې غوښتل چي د ده په پښو کي ور ولوېږي. خو بیا یې بېرته خپل ځان اداره کړ او په داسي حال کي چي ناړي یې تېري کړې وویل:

"موږ تل کوښښ کړی دی چي ستاسي نصیحت په غوږ کي ونیسو خو کله- کله مو نفس و شیطان ډېر ظالم سي او له (صراط المستقیم) څخه مو اړول غواړي، خو همدا تاسي فقیران یاست چي په دغسي ګړۍ کي مو له ناوړې لاري څخه راوګرځوئ او په نېغه لاره مو روان کړئ. بلـه دا چي زه په خپله سپین درته را استوم هغه ته که تاسي یو څه لارښودنه وکړئ نو به ډېره ښه سي او کار به ژر فیصله سي، په دې کي چي ذوې ښځي دي یوې خواته او دوې نوري دي بلي خواته سي.

موږ ډېر غور کړی او چرت وهلی دی. ما او ملاصاحب او سپین ډېره څېړنه کړې ده. هیله ده چي تاسي هم خپل رضایت په دې باره کي څرګند کړئ...".

صاحبزاده صاحب د ده خبره غوږه کړه او وې ویل:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ربښتیا (میرامد) خو مې هیر و، ما له هغه نه پوښتنه کړې ده چې که غواړي د یتیمانو وصي سي. هغه ولوړل چې دغه کار ته به زړه ښه نه کړي ځکه چې ټول عمر یې له خپل ورور سره سنت سلام نه و اچولی او له شلو پنځه ویشتو کلونو نه را ایسته په یوه کاسه سره کښېنستلي نه وو، او زه هم ښه خبر یم چې کونډې یتیمان په ده هیڅ باور نه لري، سربېره په دې شاوخوا خلک ټول په خبر دي چې که میرامد د دوی وصي سي نو دا به د یتیمانو لپاره خورالوی خیانت او غټ نقص وي. د دې علت دا دی چې په خپله میرامد وایي چې د ده ورور د ده حق خوړلی دی. او له دغه سببه ټول عمر ورسره مرور و. نو بیا دغسي سړی هیڅکله وصي کېدلای هم نه سي، په خپله میرامد به په کومو سترګو دغسي کار ته زړه ښه کړي. خو ټول دیار به یې په لعنت سترګي وروکاړي.

بله خبره دا ده چې میرامد د شریعت له خوا هم نه سي منل کېدای. ځکه چې باوله او بې سده غونډي سړی دی. د یتیمانو او کونډو واک او اختیار باید داسي څوک ولري چې پوره روغ او سلیم العقل وي. او هم د دې موټ او قوت ولري چې د هغوی د حق حمایه او دنیا یې د نورو خلکو له تېري ځخه خوندي وساتلای سي. یعني هم د سوټي زور ولري او هم د کوټي.

دا خو څرګنده ده چې میرامد خوارکی په خپله د یوه (کړوپش) زور او طاقت نه لري او هم یې خبره له خولې ځخه ځخېږي".

خان:

"هو صاحبه! میرامد خوارکی خو د هیڅ سي نه دی، خپله خوله ځني لوېږي. نو دا دومره دنیا به څرنګه اداره او خوندي کړی سي.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلـه خبـره داده چـي سـپين پـه دغـو وختـو کـي پـر ځـان کرخېـدلي دی او ښـه رغـدی او غـښتلي هلـک ترېنـه جوړ سـوی دی. ډېر يې زړه غواړي چي ژر ځان جلا کړي او بيا په پوره زړه د خپل ځـان لپـاره کـار وکـړي، د دنيـا ډېـر شـوقي دی. دی کـه اوس هـر څـه وګټـي نـو هغـه بـه د دانـورو يتيمـانو هـم ورګډ وي. صـرف يـوه ميـره چي يو زوی او يوه لـور لـري پـر ګرانـه ده او تـل وايـي چـي هغـه لـه ځـان سـره کـول غـواړي نـو ځکـه مـا تاسـي تـه وويـل چـي دوی بنـي دي يـوې خواته سي او دوی نوري دي بلي خواته".

صاحبزاده صاحب:

"ښـه دی! هـر ډول چـي دوی خوشـحاله وي هغـسي وکـړئ. خـو دغـومره وکـړئ چـي شـريعت خـوار نـه سـي او پـه هغـه جهـان زمـوږ او ستاسي غاړي بندي نه وي".

کـوم وخـت چـي ځـان د ده لـه حـضوره راولاړېـده نـو بيـا صاحبزاده صاحب ورته وويل:

"ښه نو اوس چي د نوي کـارېز د مځکـو پـه شـاوخوا کـي څـه ووايـه. مـا اورېـدلي دي چـي يـو شـواروز يـې لـس دوولـس خـرواره غـنم کـوي او هـم يـې سـوزبر (سـبزبرګ) خـوراښـه حاصـلات لـري. مـثلاً د بادامو ښه باغونه لري، د پالېز هره هيندوانه يې خر پـه متـې وړي، نـو کـه دغـه خبـري رښـتيا وي بـده بـه نـه وي کـه يـو دوه شـواروزونه لاس تـه راسـي څـو البتـه پـه دې وپـوهېږه چـي دغـه کـار هـم بايـد پـه شـريعت برابر وسي. موږ نه غواړو چي د نورو په ستوني پښه کښېږدو".

خان:

"صـاحبه! شـکر دی مـسلمانان يـو، ولـي بـه داسـي کـار کـوو چـي هغـه بـه لـه شـريعته مخـالف وي، د دغـه کـارېز ځينـي اوسـېدونکي بېخي خوار دي او لـږ و ډېـر څـه چـي لـري هغـه هـم د سـپين پـر کالـه او يا په نورو ګرو دي.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی په خپله دومره نه لري چي ماښام يې وخوري او په ډېره منده خپل ملکونه خرڅوي او غواړي چي بل ولايت ته لاړ سي، که څه هم سپين په خپله ورته غلی دی چي دغه مخکي تر لاس کړي. خو بيا هم که په دې پوه سي چي تاسي ورسره مينه لرئ نو سم دلاسه به ځان تيار کړي".

بيا صاحبزاده صاحب لږ څه په غوږېدلي او ډډ ږغ ورته وويل:

"څه په مخه دي ښه سه، غرمه څو نه راسره تېروې؟ خدای دي برکتونه درکړي. زما دعا درسره ده له خدای څخه دي پر هره بلا برسېره غواړم. که خدای کول توري خاوري به دي په لاس کي سره زر سي، ځکه چي له فقيرانو سره مينه لرې او هم خدای ښه روڼ ستوری درکړی دی.

د سپين د کاله له احوال څخه ما خبر وه، لږ څه په پرېشانه غوندي يم، لوی او د آب کور دی چي ونه شړ تېږي".

خان صاحب د زرو افغانيو نوی لوټ د تخرګ له جيب څخه راوکيښ او هغه يې د ده مخي ته غوړولی کېښود، چي مبارک يې ښه وپېژني او په داسي حال کي چي د وره خواته لږ څه تيټ-تيټ پر شاروان و وويل:

"ما خو دا پلا کوم ځاروی د لنګر لپاره نه و راستلی، نو دغه يو لږ څه غوندي شی دی چي په لنګر کي يې اچول غواړم ډېره هيله ده چي تاسي به يې په ډېر شي قبول کړئ، موږ خو ستاسي قدر لکه چي لازم دی کولای نه سو خو دا ستاسي مهرباني ده چي موږ زړور کېږو او په جرات راځو. زه به ځرنګه چي تاسي وويل ټول احوال درته راليږم زه به سعيه وکړم چي ځرنګه چي تاسي راته وويل هغسي وکړم. خدای دي توفيق راکړي، صاحبه! ما ډېر



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبخښئ ستاسي په حضور کي ډېر وخندېدم. د باندي خوږ ډېر دی. لکه چي نور مریدان ناست دي.

کوم وخت چي خان خپل کلي ته راغی نو له ډېر ښه زړه ځخه بې پامه نېغ د ملاصاحب کره وراغی او دی یې خبر کړ چي د ده ځای ته ورسي او یوه ګړی ورسره کښېني چي څه ورته وایي.

ملاصاحب په داسي حال کي چي هم په خوله ورته (ډېر ښه) وویل او هم یې سر ورته وښوراوه. خوني ته بېرته ورننووت او خپل څادر یې راواخیست.

ده فکر کاوه چي خان به په انګړ کي ورته انتظار وي. خو کوم وخت چي بېرته له خوني ځخه راووت نو خان یې ونه لید. لومړی تر هغه چي تر انګړ ووځي ځالي ته وراغی او ماینې ته یې وویل چي د غرمې ډوډۍ به د خان کره ګوندي وخوري او دا دي ورته انتظار نه کوي.

خان ایله کورته رسېدلی و چي ملاصاحب هم ورپسي وررسېده. ځکه چي ګرمي ډېره وه نو پر سر باندي یې خپل څادر کوښه ایښی و او لومړی تر هغه چي دی څه ووایي خان ورته وویل:

"ملاصاحب راشه خدای دي راوله! خورا ښې خوږې او په زړه پوري خبري مي درته راوړې دي. زه اوس دغه یم چي د صاحبزاده صاحب ځخه راغلم، سهار ورغلی وم تر اوسه پوري ورسره ناست وم. که یوه پلا د مبارک حضور ته څوک ورسي نو بیا بېخي مشکله ده چي له هغه ځایه ځخه دي په اساني راولاړ سي، فقط ته به وا چي په مځکي پوري یې مېخ کړی یم.

ښه یې ویلي دي چي (ښه خلک برکت او فیض و تاثیر لري).

ګهیخ زه ورغلم چي د سپین د کاله د جنجالو په برخه کي ترېنه مصلحت او لارښودنه وغواړم. په دي باندي ډېر خوښ سوم



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي مبارک ستاله خولې راته وويل چي زه غواړم له دغه کاله سره مرسته وکړم او د دوی دنیا ورخوندي کړم.

(مبارک) هم دغه مصلحت راکړ چي که غواړم زه وصي کېدلای سم. سپین دي له (ګړدي) سره يو ځای سي. يعنې د ګړدي د دنيا واک او کالخوايي دي سپين ولري. خو د دغو نورو وصايت به زه وکړم مبارک ډېر اصرار کاوه چي دغه کار بايد په شريعت برابر وکړم او بس. اوس نو هيله ده چي د شريعت غابنې ورته برابر کړې او په دې توګه د خدای او خلګو رضا حاصله کړو".

په دغه خبره باندي د ملاصاحب زړه ډېر ښه سو چي د خان زړه ښه دی او دا خبره د صاحبزاده صاحب له خولې ورته سوې ده. ملاصاحب هم په خواږه او د ملګري په ږغ ورته وويل:

"زه خو تل ستا دعاګوی يم. د سپين پګړو نور څه په لاسه کېږي پر دوی باندي ويل دي او پر خلکو کول دي. ښه سو چي زما د زړه اخلاص او ښه پيرزوينه تاسو ته د مبارک له خولې معلومه سوه.

له ډېري خوشحالۍ څخه يې په ستوني کي خبره يو څه سره غوټه سوه او بيا يې په داسي حال کي چي خپلي نښتي ناړي يې تېري کړې خپله خبره يې داسي پسې اوږده کړه:

"خان صاحب! د شريعت لمن هم پراخه ده او هم تنګه. په دې کي شک نه شته چي زه خو به په ډېره سعيه او د زړه له اخلاصه له تاسي سره مرسته وکړم خو کور دې خراب سي خلګ ډېر شيطانان دي او له نه څه لوی غر جوړ کړي. برايي مي د يو چا له خولې څخه واورېدل چي د سپين د دريمې ميرې پلار ګنې يو څه خوله ښوروي او په دې خبر سوي دي چي د دوی وصي کېږي نو به څه ماتي ګوډي په کي کوي. (لالو) بزګر ته يې ويلي وچي



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی به د خپلي خور او خورپیانو حق په هره توګه چي وي وساتي او نوري داسي ناوړي خبري یې کړې دي چي اوس زما په خوله نه راځي.

دغه خلک د دې وړ دي چي په هره توګه چي کېږي سړی یې خوله ورماته کړي او داسي هیداد ورکړي چي نور هم خپلي پښې ورټولي کړي او د داسي ناوړو فکرو په جال کي رانه سي".

خان لږ څه خپل تندی سره واچاوه او په یوه لاپوکه ږغ یې وویل:

دغه کورنی تل زما... ته ګوتي راوړي. څو ځله مي احوال ورلېږلی دی چي زما له کلي او زما له قومه لاس واخلئ او بې ځایه زموږ په کورنیو چارو کي ګوتي مه وهئ. خو دوی دومره سپین سترګي دي چي والله که زما دغه خبري داسي بولي لکه د خره تېز. دې ته مي اړباسي چي شل محکمې وربانديووینم او که له خدایه ونه وېرېږم په بندیخانو کي به یې هډوکي وراسته کړم.

نه یم خبر چي دوی په کوم سر ژوندي دي چي دغه ډول خبري کوي".

خان چي دغه خبري کولې ورو-ورو پسې تودېده او په پای کي دومره پسې سور او سین سو چي په یوه پلا یې خورا لویه چیغه وکړه چي ملاصاحب یې خورا وارخطا کړ او و وېرېده چي اوس به په ده باندي ور وغورځي.

ملاصاحب له خپلي دغي پیرزویني او صمیمیت څخه چي و ده ته یې د هغوی خبري ورسولې پښېمانه و. وروسته له هغسي کلکي چیغي څخه لږ څه په آرامه سو او ملاصاحب ته یې وویل چي:

"په دغو خبرو چرت مه خرابوه دا متل دي اورېدلی دی چي وایي:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د وزې چې خان له غاړې وي نو د شپانه ډوډۍ وخوري).
زه به په دې برخه کې لالو راوغواړم او پوښتنه به ورځني وکړم. بیا که مې لازمه وبلله نو په خپله دوی به راوغواړم او کیفیت به خان ته څرګند کړم. تاسې دومره وکړئ چې ژر د دوی د معاملې په فیصله کولو کې عملي ګام واخلئ. عملي ګام دا دی چې ته په خپله ډوډۍ وکړه موږ یعني سپین او ما در وغواړه. هلته به خبرې په اصل مطلب راواړوه هیله ده چې تر یوه حده پورې کومې فیصلې ته ورسیږو.
که دې صلاح وي دا کار نن مابنام ته وکړه یو چرګوړی حلال کړه یو چړې ورواستوه او سپین خبر کړه هر څومره چې دا خبره اوږدیږي د خلکو خبرې په کې ډېرېږي. باید داسې یې فیصله کړو لکه هغه متل چې وایي "انا مړه سوه تبه یې پرې سوه". که دغسې ونه سي نو بلاوې به له هرې غاړې سرونه راوباسي".
ملاصاحب د ده خبره غبرګوله چې د خان ناظر کوندرۍ (دسترخوان) په لاس راننووت او د دوی مرکه یې وشلوله. ملا د کوندرې په لیدلو خورا خوشحاله سو. د دې لپاره چې خپله خوشحالي د خندا یاد (افرین) ویلو په ډول ورځنې ښکاره نه سي نو یې خپل شونډان په غاښو کې خورا کلک ونیول او د هغه خوږ له عملي خوشالۍ څخه راوګرځاوه. او هم د دې لپاره چې ناظر په خپلو خبرو پوه نه کړي نو یوه بله خبره یې منځ ته راواچوله او وې ویل:
"ګرندي اکا خپله لور په ۱۶ زره افغانۍ ورکړه. دا ښه ولور دی خو ما چې یې انهار ته کتل په خپله دی په دې لا قانع نه و او چاته یې ویلي وو چې ده غوښتل خپله لور په شل زره افغانۍ یو غټ سوایي خواره ته ورکړي او په هغو خپلي ګرو کړې مځکې خلاصې کړي. نن سهار یې دسمال ورکړ خو د نجلۍ مور داسې



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرله اېشبېده لکه باندي کتهو. او اوښکي يې د سېلاو غونډي بهيدلې، په ژړا مې دومره ورځنې واورېدل چې لوريې پربن ورکړي ده".

د دي وروسته کوم وخت چي ملاصاحب ولاړ، خان په لالو پسي ناظر واستاوه.

لالو په ښه وچ کلک معلومېږي، د ده د مخ او تتر د لوړي برخي څرمن لمرو داسي وربتلې ده چي ته به وايې چا اور پر بل کړي دی، دی د شاوخوا په ټولو بزګرانو کي په خورا غښتلوالي او ښه کار کولو مشهور دی. کوم وخت چي د چا د لو اشر وي نو يواځي دومره لو کوي لکه پنځه عادي کسان چي يې کوي، خو ډوډی هم دغومره ډېره خوري، مګر سره د دغه دومره کار کولو او غښتلوالي تل وايي چي زه په خپل عمر په وچه ډوډی په نس موړ سوی نه يم نګولي خو هلته واچوه.

کوم وخت چي په وره راننووت وروسته له سلام او راشي درشي څخه يو کونج ته پر دوو تلو کښېناست او دواړه سترګي يې د خان په تندي کي ښخي نيولې وې او دي ته منتظر و چي اوس به څه ورته وايي.

خان چي د خپل لاس تسپې و شرنګولې او غاړي يې تازه کړې وې ويل:

"لالوکا! ته به هم وارخطا سوی يې چي زه دي څه کوم، مطلب دا دی چي تا ته د سپين د ميرې د پلار ګني له کاله څخه چا زما په خصوص کي څه درته ويلي وو، زه دلته غواړم چي په هغو خبرو ښه و پوهېږم او که دي په ياد وي نو د دوی ټولي خبري بند په بند راته وکړه، کوم ټکی در څخه خطا نه سي".

په دغه وخت کي لالو تر خپلو دواړو ځنګنو خپل دواړه لاسونه راتاو کړي وو، او خپله زامه يې د ځنګانه په سترګه ايښې



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه او کړوپ غونډي معلومېده. ده خپله زامه او سر لوړ کړ او په یو ږاده ږغ یې وویل:

"داسي خبري یې کولې چي نږدې ما ورسره وهلې وو. هر څه چي مې ورته وویل چي خپله خوله د خان کړي خو غوږ ته یې نه تله نو ماهم ورته زغملای نه سوای او څو سوکه مې تود کړ، په خبرو پسې به یې خان صاحب نه ګرځې. ځکه داسي خبري یې نه دي کړي چي په ویلو وارزي، زما په دې خوا ورته شنه سوه چي ده ښکنځل کول که نه نو هغه نوري خبري خو هماغه خبري وې چي تقریباً هر څوک یې کوي".

خان لږ څه پرله واوښت او په وچ غونډي ږغ یې ورته وویل:

"بې له ښکنځلو څخه یې نور څه ویل؟ یعني خبري یې کوم غوږ درلودل او که هر څه چي په خوله ورتلل هغه یې راغورځول؟".

لالو خپل ځنګنونه سره وغوړول او په چارزانه کښېناست او وې ویل:

"که یې ښکنځل یوې خواته کښېږدو نو یې وېل چي (خان او ملا لکه لېوان داسي دي چي په رمه کي لوېدلي وي، دغسي زموږ په کونډو او یتیمانو کي لوېدلي دي او غواړي چي د دوی دنیا تر ګونډو لاندي کړي).

کونډې یتیمان لا څه کوې چي موږ اوپره ټول د دوی له لاسه در په دره یو، د دوی ګزران زموږ په وینو او غوښو دی، اوس چي موږ اوپره خلګ یې پر وچ هډوکي و درولو او څه نه راباندي جوړېږي، نو یې پر چاغو کورنیو چي هغه هم د خلګو په غوښو ماړه سوي دي راواچوله، اوس غواړي چي دوی هم پر وچ هډوکي ودروي، دوی باید پوه سي چي موږ به د دوی په مخ کي کلک



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېږو او اجازه به ورنه کړو چې زموږ د خورلني او د هغې د کوچنيانو غوښې وخوري".

د خان طبيعت په هره هغه خبره چې لالو به کوله اووښت. په پای کې يې وويل:

"زه له دغه سپين سترګي ... سره کار لرم. ته دغه خبرې چاته مه کوه چې بيا نور اوپره راخبرېږي او تل به په خوله پوري رامښتي وي او هم به د خلکو په نظر سپک ورسو".

د ماښام پر ډوډۍ چې د ملاصاحب کره يې کړې وه سپين خان ته وويل:

"پخوا مې هم تاسو ته ويلي وو، چې زما ځيني پوروړي حق راکولو ته غاړه نه ږدي، ځانونه په يوه خوا او بله خوا کوي، مثلاً د (تور) او (سکاڼ) په خصوص کې مې يوه پلا تاسي ته تر غوږو درتېره کړې وه هغوی تر اوسه پوري زما غوښتنو ته غوږ نه دي نيولی او ځان يوې او بلې خواته کوي، ستاسي هم لکه چې هېر سوي وي چې احوال ورکړئ چې زما سره سم پر لاره ولاړ سي، خو داهم درته وايم چې نور ډېر کسان چې خورا سور سترګي بلل کېدل او حق يې تر ځان نه راتېر اوه ستاسي له مرستي اوس لاري ته راشېوه سوي دي. څو کسو خو لا په خپله احوال راستولي و چې بايد ناظر ورواستوم چې د اجارې غنم راوړي.

که دي يوه بله پلا تور او سکاڼ ته پېش رو ورکړ او تندی دي ورته تريو کړ، زړه مي راته وايي چې سمدلاسه به خپل غنم تر خان راتېر کړي او بيا به ګوندي پر لاره کاږه واږه نه راسره ځي".

ملاصاحب پر را درسته کړه:

"خدای مو دي بې له خپله خانه نه کوي، دی خو دغو خلکو ته داسي دی لکه چې پر کتو برغولي پروت وي، يعني هر څوک يې پر خپله لاره باندي سم کړي دي او ساه نه سي کښلای، په ده



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د بيابان لېوان گرځېدلي دي او هم د کور و کلي غل وغدي او ناروا او تېرى کوونکي. په تېره بيا د خان صاحب زړه خو ستاسي سره چوي، ستا دنيا داسي گڼي لکه خپله. تل په دې فکر کي دى چي هغه څه ډول له ناروا او خداى ناترسو څخه وساتي چي د بل حق داسي بولي لک پچه.

گومان کوم چي د ده به هېر سوي وي چي هغو دوو خداى وهلو ته ووايي چي خپله راشه تر خان در تېره کړي".

دا وروستي جمله چي يې تماموله نو يې سترگي او هم خپل سر چي د سپيني پگړى لويه کوټه پر پرته وه د خان خواته واړاوه او داهيله يې درلوده چي خان هم د ده خبره غبرگه کړي او په دې توگه خپله خواخوږي سپين ته نوره هم ثابته کړي. خان غږ ومب وهل او وې ويل:

سپينه! ته خو لا اوس هم هلک سړى يې. دا خو د دنيا کارونه دي ماتي گوډي په کي ډېري پېښېږي. لږ څه دي زړه پراخ کړه هر څه به اسانه سي. ته ومنه چي زه تل ستاسي د بښېگڼي او گټي لپاره فکر کوم که مي هېر سوي وي چي (سکاڼ) او (تور) ته ووايم نو د دې علت هم دا دى چي زه ستاسي د نورو ماتو گوډو په سمولو لگيا وم. مثلاً تا تل راته ويلي دي او اوس هم وايې چي په کور کي په عذاب يې او هم د زړه له کومي د خپلي گټي هري خواته لاسونه اوږدولاى نه سې. ځکه هر څه چي گټې د دغه نورو يتيمانو هم در گډ بلل کېږي. له دې جهته غواړې چي ژر خان يوې خواته کړې او په پوره زړه او ويسا خاطر د خپلي دنيا په ډېرولو بوخت سې. نو ته وپوهېږه او په خپله ملا صاحب ته چي زمونږ د لمانځه امام هم بلل کېږي معلومه ده چي ما په دغه لاره کي له هيڅ ډول کوښښ څخه ځان نه دى سپمولى، تاته...".

ملا صاحب يې خبره غوڅه کړه او ور ته ويې وويل:



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ستا خبره دي په ګل بدله سي خان صاحب! اصلي خبره خو دا ده چي موږ ټول په تا ډاډه یو. ته مشر یې او د ټول کلي واک لرې. ته به ځکه زموږ د ښېګني او ګټي لپاره فکر وهې، ځکه چي دغه نور خو ټول امیان او اوپره خلک دي. کوم شی هم نه لري چي له هغه سره مینه ولري یعني تش لاسونه ګرځي که ستا سي بزرګي نه وای او ستا سي سیوری نه وای نو به هیڅ نه وای نو و پوهېږه چي ټول به خواستغي وای.

دلته مي مطلب دا دی چي سپین باید و پوهېږي چي خان صاحب یو په شریعت برابر سړی دی، پنځه وخته لمانځه ته راځي او وظیفه هم کوي. تل د ده ښېګنه غواړي پښلایي ځو ځلي ماته ویلي دي چي څه ډول چل وسي چي سپین ته خپل د زړه مطلب تر لاسه سي".

ملاصاحب بیا لړ څه پر یوه خوا او بله خوا سو او په داسي حال کي چي نسوار یې پر ورغوي ټک واچول او خپلي یوې لور ته یې وویل چي د ډوډۍ احوال راوړي چي که تیاره وي نو ښه به وي وویل:

"زمانه اوس اخره او خرابه ده. خدای مو دي ایمان ته خیر کړي هیڅوک د چا حق ته غاړه نه ږدي او ټول یو د بله سره خوري. ما په خپله څو وخته پخوا د (شینګول) زوی ته یو دېرش منه غنم په سلم ورکړي وو. هغه ورځ مي دا خبره نرۍ تر غوږ ورتېره کړه چي خپل حق تر خان راتېر کړي خو سترګي یې هیښبي ونیولې. ناري او بغاري یې وهلې چي د ده خپل تېر خواستغي کېږي، په دې مي هم و وېرا وه چي خان صاحب ته به ووایم. خو بیا هم له خپله خره راکوز نه سو. کوم وخت چي مي لږ څه په کلکه ورته وویل نو خورا پر له واېشېده او راته یې وویل چي "موږ علما او دغه خانان چي یو د دین ستن او بل د دنیا ستن



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلل کېږو د خلکو وینې او غوښې خوړو او داسې لېوان یو چې د انسان په بڼه کې راوتلي يو او د ژوري غوندي د خلکو په ښارک مو خوله ایښې ده او وینې یې څښېښو".

که څه هم د دغه هلک د دغه ډول سپين سترگی هیداد د (پتو) اکازوی پر هماغه څای ورکې او راغورځار يې کې او څو ښې گونډې یې په نس کې ورکړې خو سره له هغه هم باید موږ او تاسې د خلکو په سپين سترگي پوه سو او يو څه سوهان ورسره وکړو. که یې تر خوږ گوته ونیسو او هېغ نېغ په لاره کې ورته ودرېږو البته د دوی چیغې به نوري هم تر آسمانه پوري ورسېږي. او دا نور بزگران او اوپره خلک به راخبر کړي".

ملاصاحب لا خپله خبره سر ته نه رسولې نه وه چې لور يې گډوه او چلمچي راننه ایستل او يوې خواته یې کښېښودل. خان صاحب د خپلو دواړو لاسو گوتي تر له جار کړې او سیخي يې وغځولې او په داسې حال کې چې ارمېږی یې کښل وویل:

"توبه خدایه توبه! ملاصاحب زه هم په دې شپو ورځو کې دغه ډول خبري ډېري اورم په تېره بیا هغه کسان چې په دې وختو کې یې لږ څه تور او سپين زده کړي دي، دوی موږ د دې ملک رښتيني دښمنان گڼي او په دې نظریه دي چې دا ټولي لوړي، بربنډتیاوي، ناروغی موږ و تاسو راوستې دي. که موږ له منځه ووتلو نو گواکي دا ټول شیان به ورک سي او د دوی د ټولني رښتيني نېکمرغي به شروع سي.

تېره ورځ زموږ زاړه بزگر (ادرو) زما له مشر زوی سره خوړلي وو علت يې دا و چې ده غوښتل سږ کال د یوې رشې پروړه نیمايي ده ته ورکړو ځکه چې دهه زموږ د کوز پالېز يوې وړيا راوهلې وه، خو زما زوی هلک سړی دی ورسره کلک سوی و، نو دغه (ادرو) چې موږ وایو له ډېري ناپوهي ډوډۍ غوږ ته وړي



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسي خبري سړې وې، چې د سړي وېښتان ورته جګ ودر
زما زوی ته يې ويلي وو چې: "دا زموږ د بزګرانو زيار او زحمت
ی چې تاسي لا څه چې ټول جهان يې ودان کړی دی. که زموږ
لاس او پښې ونه خوزېږي ټول به خواستغي پاست تاسي زموږ د
زيار ثمره تښتوئ. خدای مو ورک کړه، کله به هغه ورځ راسي
چې تاسي د سرطان مرض زموږ له وجود څخه ورک شئ او موږ به
په خپلواکه توګه د خپل ځان لپاره کښت وکر وکړو".
(زما زوی هم دی ښه ټکولي و خو خبري يې خوراستغي او
سړی له چتې باسي. او هغه ستا خبره که ورسره وځېږل سي نو
وري بدي بلاوي راوېښوي)".
ملا صاحب پر ډوډۍ باندي درې پلا بسم الله وويل او بيا يې
په لږ څه لوړ بږغ د (من اوله ومن اخره) جمله وويله.
د ډوډۍ له له خوړلو څخه وروسته ملا صاحب په اصل ټکي
اندي راولګېده او وې وويل:
"پرون مي ستا اکا ميرامد وليد هغه ته مي وويل چې د
يتيمانو دنيا لکه ورږي (کيکي) سره غورځي. څوک نه شته چي
سره ټوله يې کړي او يو څه زېرمه يې وکړي. بايد يو ډېر بادرده
سړی چې هم دعقل خاوند او هم د سوټي زور ولري. او تر محکمو
ښه ځغاستلي سي. د وصي په توګه ودرول سي او په دغه ډول د
ملکانو نجونو او کونډو دنيا خوندي کړای سي.
هغه راته وويل چې دی په خپله د هيڅ ښې نه دی تر ماجته
پوري په خورا زحمت راځي نو د دوی پر دنيا به څه پلو واچولای
سي.
خو ما ورته غبرګه کړه چي شريعت ستا د وصي کېدو جواز
تر هر چا ډېر درکوي. نو که يې ته نه کوې او سپين هم خپل وېش
غواړي او دا د نورو زېرمه په ځان نه مني نو په مصلحت سره بل



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک ژر ودروئ چې دغه اوسنی لاندي و باندي ماتي ګوډي په بیره سمون ومومي".

هغه وروسته له یو څه فکر کولو دا خبره یاده کړه چې دی له ډېر عمر څخه په دې نیت کې دی چې خان صاحب ته ورسي او دا پېټې د هغه په غاړه واچوي.

خان صاحب بیا سره وغوړېده او تندی یې خورا ورین سو. لومړی تر هغه چې دی څه ووایي سپین وویل:

"په دغو خبرو اترو کې ډېر وخت تېر سو. او دا موضوع زما میرو هم څېړلې ده، هره یوه غواړي چې خپله پلار ګنی وصي کړي او په دې توګه د دوی په خولو کې یو څه ورواچوي".

ملاصاحب ما پخواهم درته ویلي وو چې ماته کښته باغ او د کڅ مځکې راکړې او خپل وېش په لاس راکړي. وروسته له هغه هر څه چې کوي ودې کړي او ما پرېږدي چې خپله غریبي وکړم او سبا راسره د چا جنجال نه وي. خو څرنګه چې پخوا مو هم ویلي وو دا یوه میره به له ماسره وي دا ځکه چې ډېره سرګرداني نه لري".

خان غوښتل چې څه ووايي خو ملاصاحب یې خبره نابېره او بې ارادې پرې کړه او د خپل دغه کار عذر یې ور څخه وغوښت چې خان د (پروانه لري) په جمله ځواب ورکړ، نو بیا ملاصاحب په یو بریالي غونډي بڼ په داسي حال کې چې سترګې یې د خان په تندي کې ښخي کړې وې وویل:

"زما په خیال خو معامله ښځې فیصله غونډي ده، سبا به بیا دلته زه تاسې ته ډوډۍ وکړم. میرامد او دوه درې نور د کلي سپین ږیري بزګران به هم راوبولم او دا کار به په شریعت برابر فیصله کړو او په دې توګه به تر دې خبرې سوک وباسو".

خان له لږ ځنډ څخه وروسته وویل:



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



"زه خو په خپله هيڅ په کې نه وايم که سپين کومه خبره کول په کي غواړي اوس دي لا ووايي چي که غواړي نور ځوک هم په دې معامله او فيصله کې کښيني نو د هغه او يا د هغوی نوم دې واخلي".

سپين سره وخوځېده او د خان خبري يې ځکه بښې نه واورېدلې چي د ده فکر بلې خواته تللی و، يعني د کڅ په مخکو کې يې خيالي باغونه کرل، نو يې له خان ځخه په ډېر ادب پوښتنه وکړه چي هغه خپله خبره بيا ورته وکړي هغه هم لږ څه نور تفصيل ورته وويل.

-سپين يه-يه! هيڅوک نه رابولو، زما زړه و چي صاحبزاده صاحب هم په دغه جرګه کې کښيني چي کار ښه پوخ غوندي سي، خو هغه راته وويل چي تاسي ته يې کامله لارښودنه کړې ده او د ده راتګ ته کوم خاص ضرورت نه سته همدغه ښه دی چي له سبا ته دغه کار همدلته د دغه عالم په کور کې فيصله سي، چي کوندي دغه فيصله نېکمرغه سي، او د ټولو په کټه وي".

ملاصاحب:

"زما فکر خو لا داو چي که د شريعت له اړخ ځخه ورته ضرورت نه ليدل کېدای ما به مشوره ورکړې وای چي دغه دوه سپين ږيري بزګران لا هم مه رابولئ. دا ځکه چي زمانه له فساد ځخه ډکه ده، جوړ او روغ کارونه سره ورانوي، خو ځکه چي شاهدانو ته ضرورت دی نو دغه کار بد نه دی".

خان خپله يوه پښه پر بله واړوله او وې ويل:

"د شريعت کارونه خو دومره اسانه نه دي تر هغه چي ښه سم شاهدان نه وي او نور ترتيبات يې برابر نه وي کله دغسي کارونه فيصله کېدای سي، خو دا بايد وويل سي چي دغه دواړه سپين ږيري او هم ميرامد عاجز خلګ دي زموږ او ستاسي له



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبري ځخه نه تېرېږي. راغلو دي ته چې وروسته بيا شرعي وصايت خطونه واخلو اسانه خبره ده زه به قاضي ته يوه نخښه وروليږم هغه به دواړه خطونه راواستوي. او په دې ډول به يو غوږ په بل غوږ هم خبر نه سي".

د دې بړاى ټوله شته. مځکې دي او که باغونه نغدي دي او که د کور لوښي او لرګي په يو ځو ورځو کې سره ووېشل سول.

لومړي فيصله سوې وه چې د دوو کونډو او د هغوى د يتيمانو وصايت به خان کوي او يوه کونډه سره له يوه زوى او يوې لور به د سپين سره ژوند کوي. او د هغوى د شتو زېرمه به هم د سپين په غاړه وي. خو کوم وخت چې د عمل ډګر راغى د يوې کونډي او يتيمانو زېرمه ملا صاحب ته ور په غاړه سوه. په وېش کې سپين ته ټول هغه باغونه او مځکې په برخه سوې چې ده غوښتلې او په دغه سبب د ده پښې له خوشحالي ځخه مځکي ته نه ورځي.

يوه ورځ د چمبر په هغه برخه کې چې سپين په کې اوسي خورا ځوږه او شور ماشور دى. د باندي د انګړ د وره په خوله کې دوه اوښان چوک دي. خان او ملا په بيړه هغې خواته درومي، دوى چي په وره ور وننوتل نو داړغ يې تر غوږ سو:

"نه يې کوم مېړه نه کوم! زور او جبر ولي راباندي کوئ. ځه ته مي له دغه خپله وطنه وركوئ. او له خپلو ماشومانو مي بېلوئ. زه غواړم چي پر خپل دغه يو زوى باندي سر سپين کړم".

د مېلمنو په کوټه کې ځلور کسه نور ناست دي. دوو تنو يې نر ځه ښوى کالي اغوستي دي او سپيني لنګوټې يې په سر دي. دوو نورو زلميانو رنګه پټکي د مول په ډول تړلي دي او کالي يې چېرن غوندي دي چي يوه توره او بل سره سدري اغوستې ده او د کارتوسو قطار وزمې يې تر ملا دي. او هم يې پر غبرګو اوږو باندي د کارتوسو ځخه ډک قطارونه راځوړلي دي دوى دواړه له



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاضرينو سره په لاس روغبړ وکړ او د خوني په سر کي له دوو سپين پګړو سره کښيناستل او ملاصاحب په خپل څادر کې نغښتي ناست دی. له وضعيت څخه دا ډول معلوميږي چي په اصل کي ټول سره خبر دي. خو خان د خبرو د شروع کېدو لپاره په دوستانه ډول پوښتنه ترپنه وکړه:

"خدای مو راوله ستړي مه شئ څه وخت را ورسېدلاست. خير خو و څرنګه راغلي ياست؟ مور، څه مرسته در سره کولای سو که يه؟"

پوه په تصر پوخ سړی چي حور اغېله لنګوټه يې ول-ول پر سر اچولي وه وويل:

"په دې کې څه شک نه شته چي مور، وتاسي ټول يو پښتانه يو. خو مور ارت غونډي يو يعني زمور، ځای په (بوري) کي دی مور، ته څو شپې پخوا ستا او د سپين د خولي څخه چا احوال راوور، چي يوه کونډه ده او غواړي چي هغه زمور، په خوا کي خرڅه کړي. څرنګه چي مور، ته ويل سوي دي کونډه د سپين ميره کېږي نو مور، دا يو له هر څه سره چمتو راغلي يو هيله لرو چي ډېر ونه ځنډول سو، او زمور، کار ژر خلاص سي ښه به وي. ځکه چي وخت د غريبې او خوارۍ دی هر يو خورا ډېر کارونه لري چي بايد وي يې کړي، هغه بل ملګري يې پر رادرسته کړه:

"مور، غواړو چي په دې ټکي پوه سو چي دغه کونډه په غابن څو ده څو پلا لګه ده؟ او هم به بده نه وي چي د هغه پيټي انداز راته وواياست چي تاسي يې غواړئ پر مور، يې له دې در کړه کښېږدئ. مور، هم غريب خلک يو که مو له وسه پوره نه وه چي دغه پيټي واخلو نو څرګنده ده يې له دې چي خان او يا تاسې سرګردانه کړو له دې خبري څخه به مخ واړوو او خپله لاره به وهو"



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان:

"خورا تلوار مو دی، خپر دی! دا هم ستاسي خپل کور او خای دی. لیري والي خو موږ پښتانه سره بېلولای نه سي، پښتون که د نړی په هر کوټ کي وي بیا هم د پښتنولي په کلک مزي تړلي دي. تاسو ته به څرګنده وي چي د سپین بل داسي څوک خپل نه سته چي هغه ته دا کونده ور کړي نو څکه موږ په مني چي پونده دوري در تلل احوال درولېږه چي که د چا کونده په کار وي رادي سي. ښه سو اوس به په خپله سپین درسره رغېږي".

سپین ملاصاحب ته مخ ورواړ اوه:

"ته او خان صاحب زما له خوا درېمان یاست، هر څه چي تاسي سره غوټه کړه هغه زما خوښه ده".

په دغه وخت کي یو له بوري والو څخه رغ کړ:

"دا لا اوس درته وایو چي زموږ یواخي کونده په کار ده له چیچیانو سره یې زموږ کار نه شته، یعني وروسته بیا دا خبري نه منو چي دا کوچني پر تي دي او باید تر هغه وخته پوري له مور سره وي څو چي دغویو له پښو وخي، موږ نه پر دي یتیمان ساتلای سو او نه یې پر خان چغولای سو".

د سپین مخ لږ څه سور غوندي سو او وې ویل:

"یه کاکاجانه! خپل یتیمان د بل چا پر اوږو نه باروو، له دې اړخه بېخي بې غمه اوسه، خو دومره راته ووایه چي کونده چاته کوئ؟ میره یې کوم یو دی؟".

یوه ورته وویل چي:

"میږه به یې پیدا سي تر هر څه لومړی باید د هغې ولور فیصله سي".

خان:



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



"تاسي ته خو ځر ګنده ده چي پېغلي په ۲۰-۲۵ زره افغاني دي نو پر کوندو که سپين له تاسي څخه لس زره واخلي نو تاسي بايد خوشحاله اوسئ".

بوري وال:

په ۲۰-۲۵ زره خو هغه پېغلي ورکوي چي د پلرو جوغي يې تر آسمانه ختلي وي، دا نوري پېغلي خو په لس پنځلس زره هر چېري پيدا کېږي".

بل ملګري يې خبره غوڅه کړه او وي ويل:

"په ولور ډېر نه درسره اوړو خو...".

خان:

"يوه خبره به لا اوس فيصله کوو هغه دا ده چي کونډه د سپين په کور کي هيڅ حق نه لري او نه به يې تاسي غواړئ، دي خپل حق خپلو دوو چنګوټيانو ته وربخښلي دي".

ملا:

"پر شريعت يې برابره کړئ بايد يو دوه تنه شاهدان تېر سي. خبره بايد پخه سي".

سپين:

"شاهدان خو اسانه دي يو په خپله خان صاحب او بل به زموږ ناظر راوغواړو".

ملا:

"سمه ده مقصد مي دا دی چي شريعت خوار نه سي".

بوري وال:

"ستاسي لا څه خبرو ته پام وي د ښځي حقونه هيڅ وخت موږ نه غوښتي دي او نه يې غواړو، په موږ کي دغه ډول رواجونه له سره نه شته. له دې پلوه بېخي ډاډه اوسئ يوه پلا چي زموږ و



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسي خبره جوته سوه نو وپوهیږئ چي بیا به کلونه وروسته سره وینو. یا شاید چي بیا په قیامت سره ګورو".

خان:

"زه غواړم چي یوه منصفي وکړم خو په دې شرط چي تاسي ټول یې ومنئ".

ډېر ږغونه راپورته سول چي ویل یې:

"موږ یې منو وواياست".

خان:

"لاس پورته کړئ او دعا وکړئ زموږ بوریوال ورونه دي اته زره افغاني تر ځان ورتېري کړي".

ټولو وویل:

"امین. خدای دې نېکمرغه کړي".

ملا:

"مېره یې معلوم کړئ چي نکاح شرعي سي".

یو سپین ږیري چي سپینه لنګوټه یې تړلې وه خپل تېر ته ګوته ونیوله او وې ویل چي:

"مېړه یې دغه زه یم".

تر اوسه پوري په خبرو کي داسي بر ببنېدله چي دی د بل لپاره روبياري کوي. خو د ده (دغه زه یم) پر چا عجبه او نا اندوله نه ولګېده. صرف سپین خان او بیا د ملا صاحب مخ ته وکتل چي ګواکي پر دوی دغه ټکي څه اثر وکړ. د دوی د خبرو په ترڅ کي کله - کله باد له نورو خونو څخه د ښځو د ژړا او خوږ ازانګه راوړي. چي د دوی غوږو ته خورا ضعيفه ورسېدې. کوم وخت چي سپین پوه سو چي خان او ملا تندی تریونه کړ نو سره وغوږېده او وې ویل چي:



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ښه دي خوښه مې ده ډماښ ته پر جوړ وو. پيسې له ملا راخلاصي کړه او خپله ښځه مو ولي".

خان:

"ملاصاحب! لاس پورته کړه او يوه ښه دعا وکړه چې دغه وصلت نيکمرغه وي... ".

د خان خبره د زوم له خوا دا ډول غوڅه سوه:

"موږ اوريدلي دي چې د دې ښځي پلار ګني خورا غښتلي او زورور خلک دي. که څه هم نيستمن دي خو وايي چې تکړه دي. نو تاسي له هغوی سره هم کومه مشوره کړې ده او که يې لازمه نه ګڼئ؟ ".

خان:

"د پلار ګني يې په دې خبرو څه؟ خپله کونډه مو ده هر څه چې په کوو په کولای يې سو. پلار ګني خو يې يو پلا ولور واخيست نو بيا به په چپه لار کي راته ولاړوي. خو که چېري ودرېږي هم ورسره ولاړ يم دا غمونه او چمونه په موږ راپرېږدئ. ستاد دعا له برکته دغسي شيان مي نسوار نه دي. چې ژوندي يې ښخ کړم والله که څوک مخ راواړوي. او که يې په کلو- کلو بندي کړم نو هم مي دلاسه کېږي. خو زما په فکر دوی به هيڅ ونه وايي داږه اوسئ ضامن مو زه يم".

سپين له مجلس څخه ولاړ سو خو زوم ورته وويل چې کښېنه دا خپل پور دي درخوندي کړه بيا نو هر چېري چې خې سه".

زوم سمدلاسه جېب ته لاس کړ او يو سپين زړوکی يې له جېبه چې سپين والی يې د ډېر و خيرو له لاسه ورک سوی راوکيښ. په دې کې د پنځوسو افغانيو څو لوټونه وو، چې هغه په زړوکو کې نغښتې سپين ته ونيول.



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین وروسته له شمېرلو څخه بیا ولاړ سو او د ښځو د خونو خواته رهي سو. د سپین مور مخ ته وراغله په خورا بیړه او وارخطايي يې ترینه پوښتنه وکړه بن یې (چي همدغه اوس يې خرڅه کړه) هم تر شا ورته ولاړه ده او لوی-لوی سوتونه کوي سترګي يې له ډېري ژړا داسي ښکارېږي ته به وایې چي سره مرچ يې په کي اچولي دي. د دې لور او کوچنۍ زوی هم دومره کریږي وهي چي ته به وا په آسمانو کي به یې اوري. د دوی کریږي هغه وخت لا پسي لویېږي چي د دوی د مور سوتونه نور هم پسي لوېږ سي

سپین مور ته وویل:

"فیصله وسوه په خېر ...".

ده چي دا تکی پای ته رساوه نو مېرې یې تر ګرېوان ونیو او نومړی تر هغه چي څه ووایي ژر یې زړه ډوب سو او سمدلاسه په مځکه پرېمخي ولوېده. دواړه کوچنیان يې هم پر وغوړېدل او داسي شور ماشور يې جوړ کړ چي د فولادو زړه یې لا ویلاوه.

سپین بې له دې چي وارخطا سي او حیران سي خپله خبره يې پسې اوږده کړه:

"له دې بلا مي هم خلاصه کړې مور! که خدای کول د دوی ېر څه هم زموږ په برخه ده سبا وختي به يې په اوښ در څخه سپره کړي. بیا په زربې (پسخانه) ورننوت او يو صندوق ته پر دوو تلو کښېناست او د پر توګانښ له سره نه يې کلي وروغځوله او قلف يې خلاص کړ. وروسته له هغه چي پنځه زره افغاني يې په صندوق کي کښېښودلي دري زره افغاني يې په هغه ځای خان او ملا ته ورکړي. نو بېرته ژر راووت مور ته يې وویل: "پرېږده! دا د ښځو مکرونه دي زیاتي اوبه مه پر پاشه په حیله چي ستړې سي سمه به



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي، تـانـه دي اورېـدلي چـي وايـي لـه (هـري ښـځي سـره څلوېـښت اوښان په مکر بار وي).

مېـړه مـوور وکـړ دالانـه ده خوشـحاله. تـه ورسـه د خپـښانو لپـاره يـو ځـه برابـر کـړه د دووي سرښـته وکـړه او هـم ځـو دانـې دسـمالونه او دوې لنګـۍ او ځـو سـپيني لنګـوټې د خـان صـاحب ملاصـاحب او د دې نـورو لپـاره مونـده کـړه. چـي ژر يـې دنـده کوتـا سي او مځکي ته ولوېږو او د آرامې ساه وکاږو".

ګهيـځ پـه سـپېدو داغ يـې خپلـه ميـره پـه زور لـه خپلـو دوو کوچنيانو څخه بيله کړه او (بوريوالو) ته يې په اوښ ورسپره کړه.

د هلـک اونجلـۍ دواړو ځـو ورځـي خـورا زوروري تبـې وسـوې چـي د دوى دولونـه ژړا اړولـي وو. خـو وروسـته لـه ۱۰-۱۲ ورځـو بيرتـه خپل طبيعي حال ته راوګرځېدل.

د سپين زړه تـر پخـوا اوس ښـه پـوره سـوى دى. او ځـان خپـل مقصد تـه يعنـي چـي د دغـه يـوه ميريـز ورور ميـراث هـم ورپاتـه سـي. نـزدې بـولي. دى تـر پخـوا ډېـر فعاليـت کـوي او هـرې خواتـه خـوې لګـوي. دى صـاحبزاده صـاحب تـه تـر پخـوا ډېـر ورځـي اوخپـل اخلاص يې نور هم ډېر ورته ښودلى دى.

(مبارک) پـه دې خـورا خوشـحاله سـو چـي لـه سـپين څخـه يـې داسي واورېدل:

"ستـا د دعـالـه برکتـه وښ هـم زمـا پـه زړه وسـو او نـور کارونـه هـم زمـا د مقـصد سـره سـم روان دي مـوږ خـو ستاسـي ښـو خلګـو د پـښتو خـاوري يـو کـه ستاسـي مرسـته او کومـک نـه وي نـو مـوږ خـو د بيابان تـوري خـاوري يـو او دااوپـره خلـک بـه مـو داسـي غـرچ وهـي لکـه دلم ګوله".

(مبـارک) لـه دې املـه چـي خـان او مـلا ورسـره څرنګـه دي پوښتنه تړينه وکړه. او ورته وې ويل:



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د فقیرانو لنګر خو تل تاسي غوندي سخیان او شتمن خلک تود ساتي. په دانورو پوري خو یوه خوله مړي نه شته او خپل ځانونه په خوندي نه دي، که مي رښتیا پوښتې نو ډېر امکان لري چي (جنت) نه به هم تاسي سخیان په بیړه او پتهو ستر ګو روان یاست، دا ځکه چي تاسي د خیر او خیرات څښتنان یاست".

سپین مسکی سو او په خورا خواږه ږغ او روښو ستر ګو چي د خورا ډېر اخلاص بخر کي ترېنه غور ځېدل ور ته وویل:

"صاحبه! که موږ ستاسي غوندي ښو خلکو او پیرانو په لنګر کي خپل سرونه کښېږدو نو هم لږ ده. دا ځکه چي زموږ ټوله شتمني او نېکمرغي هوسا ژوند لکه چي پخوا مي هم وویل ستاسو د دعا او مرستي نتېجه ده. خدای دي د خان صاحب او ملا صاحب سیوری هم زموږ له سره نه کموي. که دغه علما او با تدبیره خلک نه وای نو هم به مو ژوند تریخ وای دوی دواړه له ما سره نه ناست دي او نه ولاړ. زموږ د کاله د نېکمرغي لپاره هر ډول مرسته کوي، بله خبره خو دا ده چي تاسو هم په خبر یاست چي دوی دواړه وصیان سوي هم دي، ښه دي د ملا صاحب خو اوس ګزاره شکر دي ښه سوې ده په دې وختو کي یې یو دوه شواروزه مځکه هم رانیولې ده".

صاحبزاده صاحب:

"رښتیا د مځکي خبره دي وکړه، یوه ورځ خان صاحب راته ویلي وو چي تاسي په نوي کارېز کي څه مځکه لرئ. نو ما ویل چي دا زموږ هلکان هم هوسېږي او غواړي چي هلته یو څه نیوکه وکړي، که تاسي ته کوم تکلیف نه وي نو...".

هو-هو صاحبه! زموږ خو هلته ښه ډېر شواروزونه دي، خان صاحب ماته ویلي هم وو، ښه سوه چي تاسو راپه یاد کړل، که څه



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم هغه مخکه زموږ د ټولو ګډه بلله کېږي خو بیا هم وصیانو ته به یې وویل چې له منځه یو څه تاسو ته درجلا کړي، صاحبه!.

مخکه او شوار وزونه دي ستاسې بلا واخلي ستاسې ناز خو موږ د سر په سترګو منو هر وخت چې وایې نو قوالې به یې درته راواستوم. خان صاحب ته به ووایم چې د دغه کار سربښته دې په خپله وکړي".

څه موده وروسته په کلي کې دا چوک چوکه سوه چې له څو ورځو را په دې خوا (ګردی) یعنې د (سپین) میرېزې ورور ورک دی او هیڅ پته یې نه سته. سپین خورا کښته و پور ته وخغاست چې هغه مونده کړي. ډېر خلک یې پسې واچول چې یا یې وباسي خو د ده دغو ټولو څغاستو او لاس و پښو وهلو کومه به زړه پورې نتیجه ورنه کړه او ګړدی ژوندی زانې ورک سو.

د کلي نورو هلکانو چې دی یې د وروستي پلا لپاره لیدلی و وویل چې هغه موږ ته وویل چې: "اوس به د سپین لالا سره د کوترو د مرغانو د ښکار لپاره ځم چې د زړو کاریزو په سپرغو کې خورا ډېري دي. ګړدي د دې د کار او ښکار کولو لپاره خورا ډېر هوس کاوه".

په لنډه موده کې د ګړدي د ورکېدو خبره سړه سوه او هیچا یې بیا نوم وانه خیست چې څه سو.

د ګړدي انا ګانو ډېره سعیه وکړه چې مونده یې کړي خو هیڅ په لاس ور نه غلل، دوی سپین په دې تومتي کړ چې هلک یې په لوی لاس چېري په بلا خوړلی دی. او سپین یې په دې تهدید کړ چې ژر به وربانـدې عرض وکړي، خو خان صاحب هغوی راوغوښتل او ورته یې وویل چې د ده د کلي کور کاله په چارو کې لاس و نه وهي، که نه وي بیا به پښېمانه سي که یې عرض



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ نو به خپل هیداد وویښي خو ... له خوا پرله پسې ...
ورته راتلل چې ژر به رپوټ وکړي او حقایق به ډګر ته راوباسي.

د ګړدي د اناګانو په دوري اورا دوري منډو وهلو دا خبره بیا شنه سوه او د شاوخوا کلیو خلکو په هغه کې ډول ـ ډول خبري کولې.

سپین او خان له دغو خبرو څخه په تنګ سول او د هغه د تریو ترلو لپاره یې سره مشوره وکړه. بیا خان صاحب ور وغوښت او هغه ته یې وویل:

"ته یوه ورځ دغه خدای خوار کړی کورته راوبوله او ښه یې خرپامه کړه چې د مار او غالبوزو په غارو لاس او ګوتې نه منډي که نه وي بیا به پښېمانه سي. او د دې په ځای چې لاس ته څه ورسي خپل غوږونه به بایلي. موږ باید غاړې پر خلاصي کړو".

سپین د خان په دې وینا چې د ده طرفداري په کې څرګنده وه خورا خوشحاله سو. او ملاصاحب ته یې ډېر اصرار وکړ چې ژر د دې بلاوو دفع وکړي. ملاصاحب په لږو شپو کې د ګړدي ماماګان راوغوښتل او ورته یې وویل:

"د خواری اونیستي تکلیفونه مو لږ وو چې اوس خلک هم په آرامه نه پرېږدئ؟. خدای مو نور پسې خوار کړه! تاسي او سیالي او تربور ګلوی دا څه حال مو اچولی دی؟ خپلي خولې او خپل لاسونه مو درټول کړئ. له دې ناوړو کارو څخه چې په خلکو پسې مو ځراغ اخیستي دي لاس واخلئ. که له خپل خره نه کوزېږئ نو ویوهېږئ چې د خان صاحب طبعه به تر له واوړي. او خوشي به مو زوبل کړي. ما خپلي غاړي درباندي خلاصي کړي که بیا هم زما خبره نه منئ نو مظلمه دي په خپله غاړه".



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحبزاده صاحب چي ستا په چار لنډيو خبر سوی دی خوا يې شنه سوې ده هغه هم ماته وويل چي تا ته وواېم له دغسي ناپېژندوی ته ووايه چي ته واخله او خلګ په بدی کي مه سره اچوئ".

د ګرېدي ماما (سپين ګل) خورا پرله واوښت او ورته يې وويل:

"يوه پلا خو په خپله د سپين پلار له موږ سره خورا لويه پېره وکړه. زموږ دغه خور که يې په نه څه پور کي داسي را څخه وشړله لکه څوک چي څاروی له چا څخه بيايي. اوس چي بيا کونډه سوه نو د مچلو غزې ډېره مو کړه او هيڅ درک يې نه معلومېږي چي چېري وغورځېدله له وړو څخه مو بيله کړه. دريم ځل مو بيا داسي په سپکه ورته وکتل چي د هغې يواځيني کوچني زوی مو ژوندی زانې ورک کړ. زه ښه پوهېږم او خلګ هم ښه پوهېږي چي ښځه مو ولي د مچلوغزي ډېره کړه او هلک مو ولي تری تم کړ.

دغه دواړه ناوړه کارونه د دې لپاره وسول چي سپين ډېر ميراث ټول کړي. او زما د خور برخه هم په خپله غرچ وهي.

دا مي په ټينګه پتېيلي ده چي زه د خپلي خور او خوريي کسات وانه خلم نو په آرامه به کښېنه نم. هغه کسان به چي په دې ناوړه کار کي يې برخه اخيستې ده په اوو محکمو وګرځوم. که چېر ته هغه کومه نتيجه ورنه کړه نو په خپله له دغه وطن څخه بل وطن ته ورکېږم او بيا چي مي په هر چا لاس برسو هغه به ور ووژنم".

ملا صاحب:

"اوس چي ما غاړه دربانديي خلاصه کړه نو وبال دي په خپله غاړه هر څه چي کوي کوه يې. خو دومره درته وايم چي له خان صاحب سره نه په شريعت کي څه کولای سې او نه په ټوپک کي".



کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوارم چي په ډانګ پېيلي درته ووايم چي خان صاحب پر سپين باندي کلک ولاړ دی، پر هغه باندي مچ نه پرېږدي چي کښېني.

خان چي د سپين ګل له نېت څخه خبر سو نو سمدلاسه يې يو داسي چل جوړ کړ چي پر سپين ګل باندي يې د دې تور و لګاوه چي دی علما ته ښه نېت نه لري، او هم په قوم کي شر اندازي کوي، په لږه موده کي يې دی بنديخانې ته بوت، وروسته له دغه کار څخه سپين په آرامه نفس و کيښې او هيڅوک يې د خپلي ګټې په لاره کي حايل او مانع نه ګاڼه او په خورا پراخ لاس او پوره زړه يې ژوند شروع کړ.

خان صاحب او ملا هم خورا ډېر بدايان سول، او ښې-ښې مځکي چي ډېرو يې په صغيرانو پوري اړه درلوده، د خپلو زامنو په نامه قواله کړې.

کوم وخت چي به سپين وليدل چي دوی د ده د ميرېزو ورونو په شتمني کي بدايان سول نو يو بل ته به يې د دوی د بې انصافي څخه خوله وهله. د ده په دغو شکايتونو خان ډېر غوږ نه ايست. خو په پای کي د سپين شکايتونه نور هم پسې ډېر سول او خان يې په تنګ غوندي کړ. نو يوه ورځ يې دی وروغوښت او ورته يې وويل:

"سپينه! ستا خبري ډېري سوې دي. ټول هر کس او ناکس ته وايې چي ما او ملا صاحب ستا په حق کي ظلم کړی دی خو ته بايد وپوهېږې چي ستا شتمني تر پخوا خورا ډېره سوې ده. ستا اکثرو ګرويو او اجاره قوالې او اجاره خطونه نه درلودل. ډېرو پوروړو درته پښه ونيوه او پر اصل سر درته پښېمانه سول. خو دا زه او ملا صاحب وو چي دوی ټول مو درته تابع کړل او ستا حق مو ترېنه حصول کړ.



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زموږ په موټه او برکت دی چې هر کال ستا شته تر تېر کال ډېرېږي، که موږ نه يو او لاس در څخه واخلو نو وپوهېږه چې دا اوپره بزگران به دي غوښې اومې اوخوري، سر بېره پر دې په وېش کې لحاظ خورا ډېر وکړه او هم د سپين گل خور او خوريې دې دواړه په بلا وخوړل او پر ميراث يې تا غېږ راوگرځوله. اوس بيا هم موږ بې انصافه بولې او هر چاته دي خوله وازه کړې وي او زموږ بد ورته وايې. د گړدې په خور دي هم خورا غټې ولور واخيست، که چيري ستا د مړه پلار لحاظ ونه کړم نو وپوهېږه چې د گنگا خاوري به دي کړم. پر لاره سم څه چې خدای برکت درکړي".

يو ورځ په داسې حال کې چې د خان هيڅ فکر او توقع نه وه ملاصاحب د هغه په انگړ ور ننووت. خان دباندې په انگړ کې ولاړ و او سمدلاسه يې ملاصاحب خپلې خونې ته بوت وروسته له عادي روغبړ څخه ملاصاحب ورته وويل چې:

"زه پوهېږم چې په دغو وختو کې ستا او د سپين سپي ښه نه سره غاپي دليل يې هم ماته څرگند دی".

سپين يواځې پر تاسې غورځنگ نه کوي ما هم درسره مل بولي خدای دې ده ته انصاف ورکړي، خو چې بيا زه فکر وکړم له خان سره ووايم چې اوس لا هم زلمی دی او د دنيا سړې تودې باندې تېرې سوې نه دي، گوندې سم سي، خدای به هدايت ورته وکړي، د دې لپاره چې ستا او د سپين په منځ کې روابط سم سي ما يو فکر کړی دی که ستا راسره خوښه وي نو زه به د هغه د اجرا لپاره کوښښ وکړم، هغه دا دی چې د سپين يوه کمندره غوندې خور ده هغه به ستا زوی (ژړ) ته وغواړو او هم به ستا لور (وړانگو) په خپله سپين ته ورکړو چې په دې توگه د دواړو کورنيو په منځ کې دوستي او ملگري نوره هم ډېره سي او دغه اوسني تول



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنجالونه او سیالی به ورکي سي، او تر پخوا به لا ډېر ستا او د دوی په مابین کي د تګ راتګ مزي ټینګ سي. زه خو بې له دغو خبرو ستاسو د دواړو دعاګوی یم او د دواړو خیر غواړم. ستاسي بې اتفاقي ما خواروي نو زه څکه سعیه کوم چي ستاسي تر منځ د خیر ((سړي اوبه توی سي))، او موږ ټول په کرار سو".

خان صاحب دغه ډول دوستي نوره هم په خپله ګټه وګڼله نو څکه يې ملا ته وویل:

"زه خو د دغسي دوستي لوری کوم، خو لومړی د دې کار تر کېدلو بایدله صاحبزاده صاحب سره هم مشوره وسي، د هغه مبارک زړه خورا راته پوست دی یعني د نوي کاریز په مځکو يې چي موږ او تاسي او سپین ورکړي، زړه خورا خوږ سوی دی، خدای دي موږ او تاسي د ده له شره وژغوري بېخي خوشحاله دی".

ملا صاحب:

"کور دي ودان چي زما خبره دي نرمه ومنله. زه به سپین هم دغه کار ته چمتو کړم او ډېره هیله ده چي هغه هم دغه خبره ومني، په دې دوستي کي زموږ او ستاسي خورا ډېري ګټي دي که څه هم موږ و تاسي د یوې ډلي خلګ بلل کېږو او ګټه مو سره شریکه ده او په دغو موقتي خوابدیو موږ نه سو سره جلا کېدلای خو بیا هم دغه مازي د طبیعت خړوالی به هم له منځه ووځي، او په دې توګه به اوپره خلک او بزګران زموږ او ستاسي له اختلاف او بې اتفاقي څخه ګټه وانه خیستلای سي".

پای



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځینو کلمو او تر کیبونو خواته مو پام اړوو

| لغت | مانا |
|---|---|
| اپار- | انهار، څېره بڼه |
| اوېره- | نیستمن، لا جایداده |
| باوله- | باوله، ساده بوده |
| بـاولي- | اشـنا کـول رووړدول، هغـه میـدان چـي ښکاري مرغانو یا ښکاري سپو تـه یکـي د ښکار نیولـو چـل ښودل کېږي |
| بچـه ګـرو- | خړمنـي هغـه موسـم چـي زړه غلـه خلاصـه او نوې نه وي رسېدلې |
| بدودي- | تاوان، نقص، بدي |
| بړبـزی- | کلنګـک کـول، د نـروز یـا پـسه د مـستي پـه وخت کي اواز |
| بوږېدل- | اواز کنښېناستل، مری کنښېناستل، بغېدل |
| پرېبل- | وهل، ټکول، توبیخ کول، رټل |
| پـرین- | پېـروان هغـه نـری جـالي چـي پـه هغـه کـي بچـی د مـور پـه ګېـډه کـي نغـښتی وي او د بچـي لـه پیـدا کېـدو سره د مور له ګېډي نه بهر ته راوزي |
| پشلا- | پسي شا، په غیاب کي |
| پنړکی- | پټۍ، دسماله، جبیره |
| پـــــوړه(زړه)- | ارام، مطمـــــئن، خـــــاطرجمع، سود، تسلي، جمیعت، تسکین |
| پـه سـر وتـل- | پـه جنـګ اختـه کېـدل، پـه کـش و ګیـر اخته کېدل |
| پلیته- | باتي، پلته |



کتابتون تولنه (WWW.KITABTOON.COM)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیتلي چاینکه- حلبي چاینکه
ترونبل- تنبتول، تروړل، توړل
ترې تړل- چاره کول، تدبیر کول. چاره
چمبر- قلعه
چیته- فیصله روغه
ښنګوانښ- متکاء، تکیه، بالښت
ډرې- خندا، نامناسبه ټوقي، مسخره کول
زړه پر پښتې کول- رامول، ډاډه کول
زېرمه- غمخواري. پاملرنه
سوایي خور- سود خور
سوتونه- فریادونه
سور- د چایو د ښښلو غږ
سوک وهل- پړینګ وهل
سوکه- ورو کرار ارام
سوهان- مراعات
سېک- قوت توان
شخول- شور ماشور، هیاهو، ځوږ
شناوې- توره شنه ږیره، مې وریجي ږیره
شو په شو- خوره وره، تیت و پرک شیند پر شیند
ښیلی- بدعمله، عاق شوی
غاړه باسل- قرض ادا کول، پور ور کول
غرېب یا غریو- د ناکامۍ ژړا، افسوس او ژړا په پټه پټه د زړه ډکېدل
کالخوای- واکمن، خېرخوا. ولي او سرپرست



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون تولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

| سپین | ناول |
|---|---|
| کبډي – | د يوې لوبې نوم دی |
| کړوپش – | کته پیش، ترینګی |
| کوتی – | سر، ککری |
| کوندري – | د سترخوان |
| ګـدلي – | پینـه شـوي جامـه، زوړ لبـاس، زړه او څیـري شوې خرقه |
| ګډوه – | میسي لوښی، کوزه، لوټکه |
| ګزیاري – | ګونډي، د غنمو میده شوي وړی |
| ګوړانه – | جېب بغل جېب، ګوډي، انباچه، څولی |
| لاس سـرۀ – | حـق الزحمـه، شـکرانه، د مرسـتي بـدل لـه بیابانه ساتل، له بهره ساتل، له بهرني دښمنه ساتل، |
| ماره – | مساله، موضوع، غنیمت، ښکار، لوټ، تاراج |
| ماغوت – | وړین ټوکر، بخمل ته ورته یو ډول تیکه |
| مظلمه – | ګناه، داد خواهي |
| ملونه – | واګې |
| موټ ښه کول – | ډېره استفاده، ګټه کول |
| موټ کول – | خپل مطلب تر لاسه کول لاس ښکل کول |
| مـول – | نمبـوزک، تربـوزک، د پګـړی پـه شـمله خولـه پټول |
| نهام – | پټ له نظره غایب |
| وکر – | بڼه، څېره قیافه، رنګ وضعه |
| ویړه – | هواره، خوره، ارته پراخه |



(WWW.KITABTOON.COM) کتابتون ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستو ادبي غورځنګ، کوټه

کتابتون ټولنه (WWW.KITABTOON.COM)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**